# زه ګناهګاره نه یم

[ناول]

ژباړن: طارق نجیب


| | |
|---|---|
| د کتاب نوم: | زه ګناهګاره نه یم |
| لیکواله: | عمیرا احمد |
| ژباړن: | طارق نجیب |
| ډیزاین چارې: | عبدالهادي اثر |
| خپرندوی: | مازیګر کتاب پلورنځی |
| چاپ کال: | ۱۳۹۲ل / ۲۰۱۳م |
| چاپشمېر: | ۱۰۰۰ |
| خپرونو لړ: | ۱۵ |



دچاپ حقوق خوندي دي

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ځانګړې مننه:

له ښاغلي یوسف خان منګل، ښاغلي ذوالفقار ابدالي، ښاغلي محمد آصف عبدالرحیم زي او ښاغلي فضل ربي څخه د زړه له تله مننه کوم چې زه یې ددې کتاب ژباړې ته هڅولی یم.

ط. نجیب

## ډالۍ

ګران او قدرمن پلار جان ته؛
چې د زده کړې په ډګر کې یې تر بل هر چا ډېر هڅولی یم.

خوږې او مهربانې مورجانې ته؛
چې تر لمانځه وروسته یې تل د لوی څښتن تعالی له درباره راته د بریالیتوب لپاره لاسونه پورته کړي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- عارفين عباس سره کتلی شم؟

د کور زنګ وهلو سره يو لوړ څوکيدار را ښکاره شو او هغې ترې وپوښتل:

- تاسو څوک ياست او هغې سره ولې ليدل غواړئ؟

څوکيدار ورته په رډو سترګو کتل. هغې د څو شېبو لپاره هيڅ نه ويل، هغې سره ددې پوښتنې ځواب نه و. هغې په نه زړه د څوکيدار په لور وکتل او بيا څه وریاد شول، خپل لاس کې نيولې خط يې هغې ته ونيو، کوم چې ورته مور ورکړی و.

- دا تاسو هغوی ته ورکړئ، کېدای شي بيا ما سره وګوري.

څوکيدار د څو شېبو لپاره خط لاس کې نيولی و او د هغې مخ ته يې کتل. کېدای شي زړه يې پرې سوځيدلی وي. څوکيدار دروازه بنده کړه او دننه لاړ، هغې دروازې سره په ديوال ډډه وهلې ولاړه وه. پينځه ورځې مخکې خو يې د عارفين عباس په نوم سړی پېژندو هم نه، هغه يې اوس



هم يوازې په نوم پېژني.

- عارفين عباس څوک دی؟ هغه د مور څه خپل دی؟ هغه ورسره څه مرسته کولای شي؟ ددی پوښتنو ځواب اوس هغې سره نه و او نه يې هم پنځه ورځې وړاندې له مور څخه د پوښتلو هڅه کړې وه. د ژوند په اخرنۍ شپه يې يوازې دومره ويلي وو.

- که زه مړه شوم نو ددې سړي خواته لاړه شه، دلته يوازې مه اوسېږه.

د څو ورځو راهيسې دا لومړۍ او اخري جمله وه، چې هغې څه ويلي ول.

د خط سره يې يوه پته هم ورکړې وه. لور يې په دې خبره مخ اړولې او خوا کې ورسره څملاسته. هغه پوهېده چې نوره ژوندۍ نه شي پاتې کېدې، خو په دې نه وه خبره چې دا شپه به يې د مور د ژوند اخري شپه وي. هغې د څو شېبو لپاره د بت په شان خپلې مور ته کتل، بيا څه فکر ورغی، له خپل ځايه پاځېده، ږمنځ يې راواخسته، بيرته خپلې مور خواته راغله.

- مورې ! ويښته درته سم کړم؟

هغه د خپلې مور سر ته ناسته کېناسته او په ډېره بې کرارۍ يې ورڅخه وپوښتل. مور يې سترګې پرانيستې. څو شېبو پورې يې خپلې لور ته کتل او بيا يې په کمزوري بدن کې حرکت راغی، هغه په کټ کې کېناسته. دا يو بې ويلو ځواب و. هغه ورسره په کټ کې کېناسته. نن ولې د هغې زړه بيا بيا را ډکېده، ويښتو سمولو وروسته خپلې مور مخې ته کېناسته.

- شېدې ګرمې کړم؟

هغې بيا له مور څخه وپوښتل.د مور زړه يې غوښتل چې نن هغه ټولې خبرې وکړي، په خپل زړه کې د چوپتيا هغه ټول ديوالونه ړنګ کړي، چې تر اوسه يې له خپلې لور پټ ساتلي ول.

- نه...زړه مې ورته نه کېږي.
خپلې لور ته يې د څو شېبو لپاره کتل او په ورو يې د هغې مخ په خپلو لاسو کې ونيو او په تندي يې ښکل کړه. هغې ته ياد نه شي چې خپلې مور په تندي د اسې ښکل کړي وي. نن څه ځانگړې خبره وه. د هغې په مخ کې يو عجيبه ځلا وه، د هغې د مخ کمزورۍ زيړوالي هم دا ځلا نه شوه ختمولاى. په څو شېبو کې يې د کلونو گيلې او خپگانونه ختم شول.
- تاسو نور ويده شئ.
د لږ وخت لپاره يې دا هېر کړي وو چې مور يې ناروغه ده. هغه خپل ځاى کې ملاسته وه. د شپې تر ناوخته يې خپل لاس د هغې په تندي ايښى و. سهار يې چې د چايو لپاره پرې غږ کولو ، نو پوه شوه چې هغه نوره ژوندۍ نه وه.

□□□

هغې يوه اوږده ساه واخيسته، په دروازه کې يې سترگې خښې کړې. له کور څخه د ننه يې ناڅاپه د چا د پښو ښکالو تر غوږ شوه. يو څوک دروازې ته راروان وو. هغه ديوال يوې خواته ودريده. د کوچنۍ دروازې پر ځاى چا غټه دروازه پرانيسته. پنځوس، پنځه پنځوس کلن يو لوړسړى په پتلون او نيکټايي کې راښکاره شو.
- ساره...؟ هغه ددې سړي له خولې په خپل نوم اورېدو حيرانه شوه. په وېره يې خپل سر د هو په ويلو وخوځاوه.
- د ننه راځه، ولې ولاړه يې.
هغه ددې سړي په نرمه لهجه حيرانه شوه، او د ننه لاړه.
- ستا نور سامان چېرته دى؟ سړي ورڅخه کور ته د راننوتو پر مهال



وپوښتل.
- سامان خو کور کې دى.
هغې په ورو غږ وويل. د بهر څخه کور ته په کتو يو دوه کې شوه.
- زه به دلته څنگه اوسېږم؟
بيا بيا همدا يوه پوښتنه د هغې په ذهن کې راتله.
- سمه ده. راځه سامان به بيا راوړو.
هغه ددې ځواب په اورېدو پرته له ځنډه گراج کې ولاړ موټر خواته لاړ.
هغه پرته د څه ويلو سړي پسې روانه شوه.
- هغې کور ته ددې سړي بوتلل به سم وي او که...
هغه په همدې سوچونو کې وه چې سړي د خپل موټر دروازه پرانيسته. هغه د موټر چلونکي پر ځاى کېناسته او د مخکني سيټ دروازه يې ورته پرانيسته. سړى ډېر وارخطا په موټر کې ناست وو.
- تاسو عارفين عباس ياست؟
هغې د ننه کېناستو سره وپوښتل. يوه نرۍ غوندې موسکا د هغې په مخ څرگنده شوه.
- هو ، زه عارفين عباس يم.
هغې موټر چالانولو سره ځواب ورکه.
- سبا څنگه ده؟ هغې موټر شاته بوتلو سره وپوښتل.
- سبا !
د سبا نوم اوريدو سره تر ډېره په مغزو کې هيڅ نه راتلل، بيا ناڅاپه د مور مخ سترگو ته ودريد.
- مور مې !
بې واکې يې له خولې څخه ووتل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- هو ، څنگه ده هغه؟

موټر له کوره وتلی په سرک روان و. هغه د څو شېبو لپاره غلې وه. عارفین عباس موټر په تیزۍ سره روان کړی و ، چې بیا یې ترې هماغه پوښتنه وکړه.

- مور مې مړه شوې ده.

په ډېر ورو غږ یې، د خپلو اوښکو پټولو هڅه کوله. موټر یو ناڅاپه دریدلی و.

- سبا مړه شوېده؟ د عارفین عباس باور نه راته.

- هو !

هغې سر ښکته نیولی و او ځواب یې ورکه. انجلۍ د عارفین عباس مخ کتل نه غوښتل. په موټر کې تر څو شېبو لپاره چپتیا وه.

- کله ! غږ د پخوا په څېر دروند نه و.

- پنځه ورځې وړاندې...

عارفین عباس په اشټرینگ تندی ایښی و. انجلۍ سر راپورته که او هغې ته یې وکتل. هغه ژړل نه. بس د هغې سترگې پټې وې، او شونډې یې غاښونو کې نیولې وې. انجلۍ د سترگو په کونج کې هغې ته کتل. د انجلۍ سترگې د عارفین عباس سره خواکې کاغذ باندې پریوتې، په کوم چې لیکل شوي وو

عارفینه !

ساره خپل ځان سره وساته، هغه زما د کورنۍ خواته مه لېږه. تېر وخت یادولو ته اړتیا نشته، بس د هغې خیال ساته.

(سبا )



- د مور ماضي څه کېدای شي، هغه ولې زما نه خپل تېر وخت پټول غواړي. په خپله خوښه واده، د کورنۍ خوښې واده څخه انکار کول، د کور پرېښودل، د پلار مړینه، د مور بیرته نه راتلل او کورنۍ سره هیڅ اړیکه نه لرل...

هغه د تل په څېر له داسې پوښتنو سره لاس او گرېوان وه.

- خو مور باید په دې پوه شوې وه، چې زه دومره هم کم عقله نه یم. او دا سړی د هغې په مړینه دومره خفه ولې دی. دا سړی څوک کېدای شي. کېدای شي مور یې خوښه وه او مور مې ورسره واده نه وي کړی. زما د پلار لپاره به یې دا پرېښې وي او که مور مې دې سره واده کړی و ، نو څومره ښایسته ژوند به مو درلوده. خو خدای خبر ددې محبت عذاب څنگه څوک سوچ ته هم نه شي پرېښودی.

هغه له ډوب سوچ څخه راپورته شوه. عارفین عباس هم د اشټرینگ څخه سر راپورته کړی و. انجلۍ بیا ور ونه کتل. ساره په هغې ډېر زیات زړه وسوځېد. عارفین عباس ورڅخه د کور پته وپوښتله، هغې ورته پرته د څه ویلو پته ورکړه.

- تاسو زما مور سره څه خپلوي لرئ؟

- زما د تره لور وه.

هغه په ماته لهجه ځواب ورکه.

- د مور پلار مې ژوندی دی؟

هغې ورپسې بله پوښتنه وکړه.

- مور یې مړه شوې ده او پلار یې امریکا کې دی.

- د مور مې کوم ورور یا خور شته؟

د هغې بې کراري لا پسې زیاتېده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ستا يوه ترور او يو ماما دی. هغوی دواړه هم امريکا کې ژوند کوي.
هغې په سرک کې سترګې خښې کړې د سارا پوښتنو ته يې ځوابونه ورکول.
- زما د پلار باره کې څه معلومات لرئ؟
- ستا مور تاته د پلار باره کې هيڅ نه دي ويلي؟
عارفين عباس هغې ته پرته د کتلو دا وويل.
- بس دا يې ويلي وو ، چې هغه مړ شوی دی.
دا ځلې عارفين د هغې مخ ته کتل،
- هو هغه مړ شوی دی.
په ډېره عجيبه لهجه پرته له دې چې د نور څه باره کې پوښتنه وکړي، ورځخه يې وپوښتل،
- ته درس وايې؟
- نه. دولسم نه وروسته مې بي ای کړی دی او بيا مې درس ويل پرېښي دي، اوس په يوه کارخانه کې کار کوم.
- څه کار کوې؟
- کمپيوټر کاره يم.
موټر کې دواړه غلي ناست ول.
د هغوی کور ته رسېدو پورې دواړه غلي وو. له موټره راښکته شول، يوه زړه ودانۍ وه چې په لسګونو کورونه پکې وو ، ددوی کور هم په درېيم پوړ کې و ، په تنګو او تياره زينو کې ساره مخکې او عارفين عباس ورپسې روان وو. ساره د خپل دستکول نه کيلي راواخيسته، دروازه يې پرانيسته او دواړه دننه لاړل. ددې يوې کوټې کور ددوی د تېر ژوند ټوله کېسه اوروله.



- تاسو کېنئ.
ساره يوه چوکۍ د هغې مخې ته کېښوده. عارفين په چپه خوله چوکۍ باندې کېناست.
- تاسو به ما له ځان سره وساتئ؟
دا پوښتنه هغه په ټوله لاره کول غوښتل خو ويې نه شو کړای. عارفين ددې پوښتنې سره له ځايه پاڅېده.
- دا پوښتنه تا ولې مانه وکړه؟
- ما دا ويل غوښتل چې ستاسو کورنۍ خو به څه نيوکه نه لري؟
- زه هيڅ کورنۍ نه لرم، يو ځوی لرم او هغه به هم څه نيوکه ونلري.
هغه ولاړ و ، ساره د خپل سامان په ټولولو بوخته شوه. تر سامان ټولولو وروسته يې کوټې ته يو ځل بيا وکتل. که د هغې وس و ، نو دا هرڅه به يې له ځان سره وړي وی، خو هغه پوهيده چې په هاغه کور کې به دا سامان له کباړ نه ډېر ارزښت ونلري. نو ددې لپاره يې يوائې خپل او د مور يو څه سامان راپورته کړ. عباس په کړکۍ کې ولاړ و او بهر يې کتل.
- تاسو د کله راهيسې دلته اوسېږئ؟
عارفين هغې ته د کتلو پرته ، ورځخه وپوښتل.
- د اول نه..
عباس د ځواب په اورېدو دننه وکتل. هغې خپل سامان پورته کول غوښتل، خو عباس پرېنښوده.
- تاسو پرېږدئ، زه يې پورته کوم.
- ته يې نه شې پورته کولای.
عارفين دواړه بيګونه لاس کې نيولي وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- زه باید تاسو ته کوم نوم واخلم؟
عارفین د څو شېبو لپاره هغې ته کتل،
- کوم نوم چې دې خوښ وي، اخیستی شې، که غواړئ نو...پاپا راته وایه.
هغه په دې خبره ډېره حیرانه شوه، عارفین له کور څخه وتلی و.

□□□

- نور ترڅو مره وخته پورې به دلته ناسته یې؟
دروازې په لور تګ سره یې یو ځل بیا هلته په ناسته لیدلې وه، او د هغې په لور ورغلی و، هغه د دې په ورتلو موسکې شوه.
- ته په دې توره جوړه کې یوه حوره ښکارې، خو زه نه غواړم چې ته هم د تورې شپې په څېر زر پای ولرې. نو اوس دننه راشه، هوا نوره یخه شوې ده.
هغې په هماغه نرمه لهجه خبرې کولې، په کومه لهجه کې چې یې ورسره تل کولې.
- ته چېرته روان یې؟
د ځواب ورکولو پرته یې ورڅخه وپوښتل.
- لږ کار لرم، ملګري خواته ځم.
هغې په ولاړه ولاړه خبرې وکړې. خبرو خبرو کې ورته داسې ایسېدل لکه چې خبرې ته یې غوږ نه ږدي. هغې بیا سر راپورته کړ او د اسمان په لور یې کتل. هغې د څو شېبو لپاره د هغې مخ ته کتل.
- سبا ستا په سترګو او یا هم په موسکا کې څه شته، خو زه یې ستایلو لپاره هیڅ الفاظ هم نلرم.
عارفین د تل په څېر هغې ته په کتلو سره دا هر څه وویل.



- دننه تلو ته لا اراده نه لرې؟
هغې ورڅخه یو ځل بیا وپوښتل.
- عارفینه! تا تر اوسه خدای لیدلی؟
هغې اوس د اسمان په لور کتل. عارفین یوه اوږده ساه واخیسته او لرې د برنډې په زینو کې کېناسته.
- نه! تا لیدلی؟
- نا، ما هم نه دی لیدلی، خو زړه مې ډېر غواړي چې یو ځل یې وګورم.
د هغې په زړه کې د ماشوم په څېر شوق پروت و او په مخ کې یې یوه عجیبه غوندې کیفیت. د برنډې په ستنه یې سر لګولی او د اسمان په لور یې کتل.
- خدای ولې لیدل غواړې، سبا؟
عارفین د بهر تلو اراده هم پرېښې وه. تل به همداسې کېدل، سبا سره به یې خبرې شروع کړې، ټول کارونه به ترینه پاتې وو.
- نه پوهېږم ولې یې لیدل غواړم، خو بس لیدل یې غواړم.
د هغې په لهجه کې عجیبه غوندې معصومیت او یوه بې کرارې پرته وه.
- سبا! دا ټوله نړۍ خدای جوړه کړېده، که د هغې لیدلو ارمان لرې نو هر ښایسته شي ته ګوره، هغه به په هر ښایسته شي کې ومومې.
داسې خبرې یې کولې لکه د هغې پوهولو کوښښ چې کوي. هغې اوس عارفین ته کتل.
- یوازې په ښایسته شیانو کې، بدرنګه شیانو کې ولې نه؟ ایا دا هم هغې نه دي جوړ کړي. خدای په ګل کې لټول پکار دي ځکه ګل ښایسته دی او په هغې کې به ښکاره شي، او په کاڼي کې به نه ښکاري ځکه هغه ښایسته نه دی. خو عارفینه! خلک وایي چې ښایست په یو شي کې نه وي، ښایست خو د سترګو په لیدلو کې وي. ماته ګل ښایسته نه ښکاري، کاڼي راته ښه ښکاري، نو زه څه وکړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



عارفین نه یې لاره ورکه کړه، هیڅ نه پوهیده چې څه ځواب ورکړي. د ډېر سوچ نه وروسته یې وویل،

- هو ستا خبره سمه ده. کانې هم ښایسته ښکاریدی شي او کانې هم د هغه ذات پیدا کړی شی دی، نو بس ته نړی ته گوره کوم شی چې دې هم په سترگو ښایسته ولگیده، هغې کې خدای...

- خو عارفینه! خو زه خدای په شیانو کې لټول نه غواړم او نه یې هم لیدل غواړم. زه هغه یواځې لیدل غواړم. یو واحد، څرنگه چې د هغې صفت دی. مونږ به ښه کارونه کوو. خلکو سره به نیکي کوو. د هغې عبادت به کوو، نو څه به وشي. د هغې ثواب به راکړل شي، مونږ به جنت ته لاړ شو، هر یو ارمان به مو پوره شي. خو که بیا یې هم ونه گورو نو بیا...

عارفین په بی وسی هغې ته کتل

- نه پوهیږم سبا! خو ته د خدای باره کې دومره فکر مه کوه، لیونی به شې.

عارفین یې د پوهولو کوښښ کاوه.

- نو بیا د چا باره کې فکر وکړم؟

هغه لکه لاربښوونه یې چې غوښته.

- د دنیا باره کې سوچ وکه، د هغه خلکو باره کې سوچ وکه چې ستا خوا او شا ته دي.

عارفین په ډېر جدیت سره د هغې پوهولو هڅه کوله.

- په هغه څه چې پوهه شوې یم، ولې سوچ وکړم. په هاغه څه چې نه پوهیږم په هغې ولې فکر ونکړم؟

- سبا! کله نا کله ته عجیبه خبرې کوې...

هغې د عارفین په خبره سر ښکته کړ.

- نه پوهیږم...

- ښه ستا فرانسوي ژبه څنگه روانه ده؟



عارفین د هغې توجه جزبول غوښتل.

- نه پوهیږم څنگه روانه ده، بس هڅه کوم.

- ځه خیر، اوس داسې هم مه وایه، ډېرې ښې خبرې کولې شې.

عارفین ورته هڅولو لپاره وویل.

- که په ریښتیا هم یو څه بهتره وي، نو دا هم ستا له کبله دي.

- نه خیر، تر اوسه خو لا دومره نه یم. تاته ځکه دا ژبه زده کول پکار دي، چې فرانسه کې دې زړه خفه نه شي، خلکو سره خبرې وکړې او خپل خدای پسې وگرځې.

عارفین ورته د تنگولو په لهجه کې وویل.

- او ځکه فرانسوي ژبه زده کول غواړم، چې د هغې ځای ښځو سره ستاسو په خبرو پوهه شم.

- خیر، زما هم ښځې دومره نه خوښیږي.

- ستا به نه خوښیږي خو د هغه ځای چاپیریال بل رنگه جوړ دی.

عارفین په دې خبره په زوره وخندل.

- زه سوچ کوم سبا! تر څو د کور ځای بدل کړم، دا کور خو د بانک سره نږدې دی خو ارامه ځای نه دی. یو بل ځای کې مې کور لیدلی، ډېر ښایسته ځای دی، که ته یې وگورې ستا به هم خوښ شي. زه به یې انځورونه راولېږم، ته یې وگوره بیا ماته ووایه چې څنگه دی.

- بیرته کله ځې؟

- بس لس پنځه لس ورځې مې نورې هم پاتې.

- دا ځلې په کور کې ډېر لږ پاتې شوې. بس ټولې ورځې دې نورو ښارونو ته په چکرونو تېرې کړې.

- هو، دا ځلې د بانک کارونه ډېر زیات وو. زه دلته په رخصتی راغلی یم، خو بیا هم پکې د بانک کارونه کوم ترڅو د دې کال په پای کې د واده لپاره ډېرې رخصتی راکړي. اوس هم د درې څلور ورځو لپاره د ښار

(c) ketabton.com: The Digital Library



څخه بهر روان یم. ښه ته وایه ستا پوهنتون څنګه روان دی.
عـارفین خپـل ټـول پروګـرام تفصـیل سـره ویلـو وروسـته هغـې څخـه وپوښتل.
- هو ، سم روان دی.
هغې نور هم ځآن په څادر کې راونغاړه.
- اوس خو څوک نیوکه نلري؟
عارفین ترېنه په مسکې لهجه وپوښتل.
- چا چې نیوکې لرلې هغوی یې اوس هم لري او په راتلونکې کې به یې هم ولري. نیوکې باندې خو څه خرچه نه راځي چې څوک ورته سوچ وکړي. او خو اوس څوک دومره څه نه وایي. او په پرده باندې راته اوس هم نصیحتونه کیږي.
سبا نرۍ مسکا سره دا خبرې کولې.
- هسې سبا ! که ته پرده وکړې نو ښه به نه وي، بس هسې دې ټول له ځانه خفه کړي دي، بس د یو څو میاشتو خبره ده، بیا فرانسه کې چې دې څنګه لباس اغوستل زړه غواړي اغونده، که پتلون کې ګرځې او که جامو کې، زه هیڅ نیوکه نلرم.
د عارفین په لهجه کې په پټ شرارت پوهه شوه.
- زه په څادر باندې ټول ځان پټولای شم، زه د نورو په څېر بیهوده لباس نه په تن کوم او نه هم ځان سینګاروم. که هلکانو سره هم درس وایم نو نازونه او اداګانې هم نه کوم ، هو رواجي چادري نه اچوم. ایا ته هم په دې خبره نیوکه لرې؟
عارفین ددې خبرو په اوریدو له ځان سره موسکی شو.
- نـه، زه هیـڅ نیوکـه نلـرم، نـه د هلکـانو سـره پـه ښـوونه کـې او نـا هـم پـه چادري نه اغوستلو باندې. زه خو ستا د اسانۍ لپاره وایم. دومره ډېرو ضدونو او مخالفتونو کې ژوند کولو لپاره هم ډېر صبر ته ضرورت وي.



- هو ، او په ما کې ډېره حوصله ده. ته خو چېرته روان وې.
سبا ته خبرو منځ کې څه وریاد شول.
- هو روان خو یم، خو ستاسو د خوږو خبرو نه هم برخمن شو. اوس داسې وکړئ چې د ننه لاړ شئ.
عارفین خپل لاسي ساعت ته په لیدلو له ځایه پاڅید. سبا یو ځل بیا د ستورو څخه ډک اسمان ته وکتل او له ځایه پاڅېده.
- الله پامان.
هغې خدای پامانۍ واخسته او له برنډې څخه د کوټې په لور روانه شوه.
عارفین په خپل ځای ولاړ هغې ته کتل.

□□□

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ډېره خاموشۍ بېرته کور ته راستون شو. عارفين په ورو موټر چلاوه، او د شيشې څخه يې بهر کتل. کور ته په راتلو سره يې د هغې سامان له موټره راښکته کړ او ځوکېدا ته يې دننه ورو لپاره ووېل.

- ته دې خپله کوټه وګوره، تر هغې به ډوډۍ تياره شي.

په دې خبره ورته په رېښتيا هم د لوږې احساس وشو. دا مهال د ماسپښين څلور بجې وې او هغه دوه بجې دلته راغلې وه. د غرمې ډوډۍ هغې څه په تيزۍ يا بې کرارۍ نه وه خوړلې خو اوس د ډوډۍ نوم اوريدو سره يې د لوږې احساس وکړ. ځوکيدار تر کوټې ورسوله. هغې په عجيبه انداز کوټې ته کتل. ځوکيدار سامان ايښي و او تللی و.

- که چېرې دا خوب وي ساره! نو دعا کوه تر څو دا خوب لا پسې اوږد شي او که چېرې دا رېښتيا وي نو دعا کوه چې خوب ترې جوړ نه شي.

هغې د کړکۍ څخه بهر وکتل، لاندې چمن او څلور خوا وګلانو بېل منظر جوړ کړی و.

-آيا دلته اوسېدل به اسانه وي.

هغې يو ځل بيا خپل نظر د کوټې په شيانو وزغلاوه. هغه ويجاړه کوټه ورياده شوه، چې د ژوند څلورويشت کالونه يې پکې تېر کړي ول. د هغې زړه غوښتل يو ځل بيا هماغه کور ته لاړه شي. هغې تر ډېره د کوټې هر شي ته کتل. تر ډېره په خپل ځای ولاړه وه. څو شېبې وروسته د تشناب په لور لاړه، مخ ته يې يو څو لپې اوبه واچولې او خپل ځانته يې په اينه کې کتل. تر ډېره د آينې مخې ته ولاړه وه. تشناب کې دننه د خپل ځانه پرته هر څه ورته د قدر وړ ښکاره شول.

- ساره! اوس لکه چې درته د کمترۍ احساس پيل شو. اوس به څه کوې؟

يو ځل بيا ورته دا احساس وشو چې ټول دې پسې خاندي، هغې د آينې څخه سترګې واړولې، اوبه يې بندې کړې. مخ پاک باندې يې لاسونه او مخ وچ کړل او بېرته کوټې ته راغله. لږه شېبه وروسته د کور ملازم د



ډوډۍ تيارېدو خبر سره راغی، هغه ورسره د ډوډۍ خوړلو کوټې ته لاړه. عارفين د چا سره په ټيليفون خبرې کولې. د هغې په ليدلو يې خبرې بندې کړې.

- راځه ساره!

عارفين ورته ووېل. ملازم ساره لپاره يوه څوکۍ رامخته کړه. هغه په نه زړه څوکۍ باندې کښيناسته. هغې ته د کور ډوډۍ ورياده شوه چې خپلې مور سره يې خوړلې وه.

- ساره ډوډۍ شروع که.

عارفين ورته ووېل. هغې د مېز د پاسه رنګارنګ خوراکونو کې ساده خوراک لټول غوښتل. عارفين د هغې ستونزه اسانه کړې وه. هغې خپل ځان او ددې مخې قاب کې وريژې واچولې او ورپسې يې د ټولو خوراکونو نه لږ لږ د هغې مخې ته کېښودل. هغې په وارخطايې ډوډۍ پيل کړې وه.

- دا ټول کور ستا دی. ته چې څنګه غواړې، څه چې غواړې، کېدای شي ټوله ورځ کور کې بيکاره تېرولو باندې تنګه شې نو کولای شې خپل درس ته دوام ورکړې.

هغې ورسره خبرې کولې خو بيا يې هم ددې په لور نه کتل. بس خپله کاشوغه يې قاب کې وريژو کې وهله. هغه پوه شوې وه، چې هغه ډوډۍ نه خوري بس صرف ورسره ناست و. کله چې يې وريژې ختمې کړې، عارفين ورته بيا قاب ډک کړی و.

تر ډوډۍ خوړلو وروسته ملازم حويلۍ چمن کې چای ايښی و. هغوی دواړه هم چمن ته راغلل. هغې په لاس کې پياله نيولې وه چې بهر د موټر هارن تر غوږ شو. ځوکيدار دروازه پرانيسته.

- حيدر راغی.

عارفين دروازې په لور وکتل او ويې ويل. سړي خپل لاسي بيګ او

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوټ ملازم ته ورکړل. بیا یې د موټر دروازې بندې کړې او ددوی په لور راغی. ساره په حیرانۍ هغه سړي ته کتل. هغه د شکل څخه کوم بهرنی ښکاریده. اوږد قد او د بهرنیانو په څېر لباس یې له نورو خلکو څخه بېل کړی و.

- السلام علیکم.

حیدر نږدې راتلو سره وویل، یوه څوکۍ یې راواخیسته او ددوی خواته کېناسته.

- ساره ! دا زما ځوی دی، حیدر.

عارفین ورته خپل ځوی ورپېژنده.

- سلام.

حیدر په ډېره رسمي لهجه کې وویل، او بیا یې په ماته گوډه فرانسوي ژبه کې د پلار څخه وپوښتل،

- دا څوک ده؟

- عارفین د لږ ځنډ وروسته ځواب ورکه.

- د سبا لور ده.

د لږ ځنډ وروسته حیدر بیا وپوښتل.

- دلته څنگه راغلې ده؟

- حیدره ! تاسره په دې موضوع وروسته خبرې کوم.

عارفین د ساره په لور وکتل، هغه په چایو څښلو بوخته وه. هغه پوه نه شوچې ساره فرانسوي خبرې کولې شي که نه.

- ساره ! ته په فرانسوي ژبه پوهیږې؟

- نه...

عارفین سم ځواب تر لاسه کړ، او یوه اوږده ساه یې واخیسته.ساره د ځواب ورکولو وروسته چپ شوه.

- ساره، ته حیدر لپاره چای راوړه.



هغه په لاس کې نیولې پیاله په مېز کېښوده. چې دوی ته چای راوړي. تر یوې شېبې دواړه غلي ناست ول.

- اوس خو خبرې کولې شو کنه. اوس ووایئ، دا دلته څنگه راغلې ده؟

حیدر یو ځل بیا پلار سره په فرانسوي خبرې پیل کړې.

- حیدره ! دا به نوره دلته اوسېږي.

- ولې؟

حیدر په حیرانۍ وپوښتل.

- چای ونیسئ.

ساره ددوی په خبرو کې راغله. حیدر په ډېره رسمي توگه له هغې څخه پیاله واخیسته. ساره بیا په خپل ځای کېناسته او چای څښلو باندې یې پیل وکه.

- سبا مړه شوې ده او دا یوازې څنگه اوسیدای شي.

دا ځل حیدر د ساره په لور وکتل.

- هغه کله مړه شوه؟

هغې یو ځل بیا له پلار څخه وپوښتل.

- پنځه ورځې وړاندې.

حیدر په حیرانۍ د پلار په لور کتل. نورې پوښتنې کول ورته سم نه ښکاریدل.

ساره ددوی په فرانسوي خبرو ځان نا خبره و ، دا سې هم نه وه چې په دې ټولو خبرو هغه پوه نه شوه. په څومره تېزه لهجه چې هغوی دواړو خبرې کولې هغومره نه پوهېده، یوازې دا نه چې هغه فرانسوي خبرې نه شوې کړی بلکې په سمه توگه لیکل یې هم کولای شو. وړوکوالي کې یې چې مور یوازې ناسته وه نو له ځان سره به یې په همدې ژبه خبرې کولې. هغې له مور څخه څو ځله پوښتنه کړې وه چې په کومه ژبه خبرې کوي، او په هر ځل به مور د اوږدې چپتیا څخه پرته بل هیڅ ځواب نه درلوده. ساره له

(c) ketabton.com: The Digital Library



مور څخه د څو لغاتونو اوریدلو وروسته معلومه کړه چې مور یې په فرانسوي ژبه خبرې کوي. نو ډېره به حیرانه وه،

- په دې ژبه مور څنګه خبرې کولای شي، او که په دې ژبه خبرې کولای شي نو نور په څه څه پوهېږي؟

د داسې نورو پوښتنو ځوابونه لټول یې غوښتل، خود مور له لورې به ددې پوښتنې ځواب د چپتیا په شکل کې ورکول کېده. کله چې دولسم صنف ته ورسېده، نو ورسره یې د فرانسوي ژبې ښوونیز مرکز کې هم داخله واخسته. هغه د مور په خبرو ځان پوهول غوښتل. هغه له ځان سره څه خبرې کوي؟ څه وایي؟ څه سوچونه کوي؟ په ورو ورو ددې وړ شوه چې د مور له خبرو مفهوم ترلاسه کړي. هغې د مور په خبرو ځان پوهول غوښتل. کله چې د مور په خبرو پوهه شوه، نو بیا هم د هغې خبرو په مهفوم نه پوهیده، د هغې په خبرو کې هیڅ کوم ماضي نه و، نه پکې د کوم چا نوم و. هغې له الله سره خبرې کولې، خو د کوم درویش انسان په څېر هم نه ول، ځکه د هغې په خبرو کې هیڅ کومه ګیله او شکایت نه و.

ساره هیڅکله مور په دې نه وه پوهه کړې چې فرانسوي ژبه زده کوي.

ساره تل خپل کتابونه ترینه پټول ځکه که مور یې خبره شي نو کېدای شي له ځانه سره خبرې کول هم بند کړي او د هغې د اواز له اوریدو څخه به هم بې برخې شي. حیدر فرانسوي خبرې کولې، هغې نه غوښتل، چې ورباندې وپوهیږي. په ډېره چپتیا درې واړو چای ختم کړي و. د ټولو څخه وړاندې حیدر چای ختم کړ او دننه لاړ.

- دا ستاسو خپل ځوی دی؟

ساره د حیدر تر تللو وروسته له هغه څخه پوښتلي ول.

- هو، زما خپل ځوی دی، ما له یوې فرانسوۍ ښځې سره واده کړی و.

- هغه چېرته ده؟

- هغه درې کاله وړاندې وفات شوه.



هغې د عارفین عباس مخ ته یو ځل بیا وکتل.

- زما مور فرانسوي څنګه زده کړې وه؟

عارفین زر هغې ته وکتل، هغې ورته په ډېر دقت کتل.

- د هغې ورسره مینه وه...

هغه په دې نیمګړي ځواب باوري نه شوه،

- زه خپلې کوټې ته ځم، که ته غواړې کور وګوره او یا استراحت کولای شې.

شاید عارفین د هغې نورو پوښتنو ته ځواب ورکول نه غوښتل، نو ځکه له خپل ځایه پاڅید او کوټې ته لاړ.

لمر پریوتی و، تیاره خوریدونکې وه، هغه پاڅیده او چمن کې ګرځېده.

عارفین عباس خپلې کوټې ته راغی او دروازه یې بنده کړه. یو دمې یې د الماری لاندیني روک نه کلیانی راوویستی او له الماری څخه یې د عکسونو پنډ راوویست. خپل کټ کې کېناست، البم پرانستلو سره یې هماغه څېره ولېده، چې لږه شېبه وړاندې یې د ساره سره د هغې په قبر فاتحه ولوستله.

- دې نړۍ ته یوا ځې د څلویښت کلونو لپاره راغلې وې او زه خوشاله یم سبا، زه ډېر زیات خوشاله یم چې تا د ژوند د عذاب څخه خلاصون وموند. اوس لږ تر لږه ارامه خو به یې کنه...

هغې په همغه عکس ګوتې تېرولې او ځان سره لګیا وو.

□□□

سبا د هغې تره لور وه. هغه د دوه خویندو او یو ورور څخه مشره وه. عارفین د درې واړو خویندو څخه وړوکی و. په یوه غټه مېنه کې څلور ورونه اوسیدل چې د ټولو حویلۍ او عمومي دروازه یې هم یوه وه. د

(c) ketabton.com: The Digital Library



عارفین پلار پکي تر ټولو مشر او د سبا پلار تر ټولو کشر و.
د سبا پلار له پخوا څخه په امریکا کې اوسېده، په کال کې به دوه ځله کور ته راته. د سبا کورنۍ هیڅکله ددې لوی کور څخه د بهر اوسېدو کوښښ نه و کړی، ځکه نه د سبا پلار پرېښودل او نه هم د سبا مور بل ځای کې اوسیدل غوښتل. نو پایله دا شوه چې هغه تر واده وروسته هماغه کور کې بیل ځای جوړ که. وخت همداسې تېرېده. دا یو داسې کور و چې انجونې تر لیکلو، لوستلو پورې تعلیم کولای شي. سبا سره هم داسې شوي ول. د لسم ټولګي څخه وروسته مشرې کاني ښوونځي ته له تلو څخه منع کړې وه، د مور یې هم دا خوښه وه، چې همدومره تعلیم انجونو لپاره بسنه کوي.
- نه، زه خو نور هم تعلیم کول غواړم، زه به پلار سره خبره وکړم خو زه تعلیم نه پرېږدم.
د هغې په داسې ځوابونو مور ډېره تنګه شوې وه.
- کور کې هیڅوک دا نه خوښوي او ستا پلار به یې هم خوښ نه کړي او بیا چې ته تعلیم وکړې هم نو څه به پرې کوې؟
مور یې د پوهولو کوښښ کاوه.
- لیک لوست داسې شی نه دی چې څوک دې پرې نیوکه وکړي او له تعلیم څخه وروسته به زه په تعلیم څه کوم دا خو به زه تعلیم پوره کولو څخه وروسته تاسو ته وایم، اوس یې درته څنګه ووایم.
هغې په ډېر ارامه لهجه دا خبرې وکړې، او بیا څوک خبر چې پلار ته یې په خط کې څه لیکلي وو چې هغه ورته کالج کې د داخلې اخستو اجازه ورکړه.
په دې ورځو کې عارفین په لندن کې د اقتصاد رشته کې خپل تعلیم پوره کولو. هغه له سبا څخه پنځه کاله مشر و، هغې ته د نورو تره لوریانو په څېر سبا هم هماغه شان وه. له سبا سره یې لومړی لید نه هله



وشوه چې خپل تعلیم یې پوره کړی او په یو بانک کې یې دنده تر سره کوله او کور ته په رخصتۍ راغلی و. کور ته په راتلو سره څو څو ځله د تره کور ته راغلی و. عارفین لپاره چای همغې راوړ او پیاله ایښودو سره یې عارفین څخه وپوښتل،
- تعلیم څنګه شی دی؟
عارفین د هغې په پوښتنه ډېر حیران شو،
- تعلیم خو ډېر ښه وي.
د پوښتنې ځواب اوریدلو سره یې بله پوښتنه کړې وه.
- یواځې د هلکانو لپاره که د انجونو لپاره هم؟
د سبا مور منځ ته راټوپ کړل.
- سبا! دا څه فضوله پوښتنې دې شروع کړي دي...
- دواړو لپاره ښه وي.
عارفین پرته د تره ښځې په خبره غور کولو سبا ته ځواب ورکه.
- نو بیا مشره کاني ولې د تعلیم دومره مخالفت کوي. خپل ځوی د تعلیم لپاره لندن ته لیږي او نور د کور څخه بهر نه پرېږدي.
- سبا! خوله دې نوره بنده که، عارفینه! ته د هغې خبرو ته غوږ مه ږده.
د سبا مور بیا سبا ته په غوسه شوه، چې عارفین یې په تنګ که خو هغه په ډېر شوق د سبا خبرو ته غوږ نیولی و.
- څوک د کور څخه بهر نه پرېږدي؟
- ما
هغې ډېر زر ځواب ورکړی و.
- سبا بي بي! تاسو خو دولسم څخه هم فارغ شوئ. نور څومره درس وایئ او بیا د نور درس ویلو ګټه څه ده؟
- تاسو په دومره تعلیم څه کوئ؟
لهجه یې اوس هم نرمه وه خو پوښتنه نه وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ګوره، زه خو سړې یم، زه خو باید وګټم، تر څو خپل کور وچلوم.
هغې په ډېر نرمۍ دا هرڅه وویل.
- د دومره ډېر تعلیم کولو موخه یوائې ګټل دي؟
په دې خبره عارفین د هغې څېرې ته کتل.
- په هر حال، زه د ګټلو لپاره تعلیم کول نه غواړم. د شعور لاسته راوړلو لپاره تعلیم کول غواړم.
- په شعور باندې بیا څه کې؟
- نړۍ به وپېژنم، انسانان به وپېژنم.
عارفین په ډېره حیرانۍ د تره لور مخ ته کتل.
- تاسو پوهنتون کې داخله اخستل غواړئ، سمه ده، زه به پلار سره خبره وکړم. هغه به هیڅ نیوکه نه لري.
عارفین خپله پرېکړه کړې وه، د هغې په مخ کې مسکا څرګنده شوه او دننه لاړه.
د تره ښځه یې خفه شوې وه، د هغې پوهولو لپاره عارفین ډېرې خبرې وکړې. بیا په رېښتیا هم مشرې کانې د تېر په څېر مخالفت ونه ښود خو داسې هم نه وه چې د هغې د سبا په تعلیم څه نیوکه نشته. د هغې نیوکې او ناخوښې په خپل ځای وه او اوس یې سبا سره خبرې کول هم پرېښې ول. سبا هم ددې خبرې هیڅ پروا نه کوله.
- مورې! که څوک ما پسې خبرې کوي او که زما ستاینه کوي په دې ما ته هیڅ زیان او ګټه نشته خو هو زه غواړم چې زما په تعلیم کې څوک مداخلت ونه کړي.
د هغې منطق او سوچ د مور فکر څخه وړاندې و. مور خو به یې تل په دې سوچونو کې وه چې تر اوسه ولې ددوی په کورنۍ د سبا لپاره څوک رانغلل، شاید د سبا د کړنو وجه وي...
بیا په همدې وخت کې د عارفین په مور پلار قیامت راپورته شو چې



عارفین د سبا لپاره مور پلار ته وویل. د ټولې کورنۍ چې په چا سترګې وې هماغه یې خوښه کړه، د مشر تره ښځې په وینا دا خو د شرمېدلې زمانې انجلۍ ده. د هغې وس نه و که نه سبا یې وژله. د تره ښځې سبا د ټولو څخه بده ایسېده او اوس د هغې اینګور جوړول ورته د قیامت نه کم نه و. د عارفین په پوهولو کې هغه پاتې راغلې وه. عارفین هیڅکله دومره ضد نه کاوه خو دا ځل په خپله خبره ډېر کلک ولاړ و. هغې په سبا کې د هیڅ شي کمی نه لیده بلکې د هغې په نور تعلیم کولو کې ورسره د عارفین هم خوښه وه. مور یې عارفین هم خفه کولای نه شو ځکه دا یې یوائېنی ځوی و. نو ځکه په زړه یې غټه تیږه کېښوده او د سبا غوښتلو لپاره هغوی کره لاړل.
- مورې! عارفین څخه وپوښتئ، هغه ما نور تعلیم ته پرېږدي که نه؟ که هغه دا ومني نو زه دې خپلوي کولو ته تیاره یم.
د سبا مور تندې ته ټپ ورکه او فکر یې کاوه چې د سبا ماغزه خراب شوي دي که نه د داسې خپلوۍ د خدای څخه شکر پر ځای شرطونه نه اېښودل. دا خبره تر عارفین پورې رسېدلې وه او عارفین هم د هغې په تعلیم هیڅ کومه نیوکه نه درلوده او نه یې هم له نور تعلیم کولو منع کوله.
په ډېر ساده ډول د دواړو نکاح شوې وه او دوه کاله وروسته د واده نېټه وه.
د سبا د پوهنتون ویلو موضوع یو ځل بیا د ټولو سترګو خار جوړ شو، هغه به اوس د هلکانو سره درس وایي. تره ښځې یې د پوهنتون تلو څخه نه شوه منع کولی خو دا شرط یې پرې اېښی و چې ټول ځان چادرې کې پټ پوهنتون ته لاړه شي، ځکه هغه نه غواړي چې د هغې اینګور د بې حیا ښځو په څېر مخ لوڅې هلکانو سره درس ووایي. خو د تل په څېر د سبا منطق په خپل ځای و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- زه خپل تعلیم پوره کول غواړم او ما باندې خپل عزت هم تر هرڅه قدرمن دی. او زه پوهنتون ته پرده کې ځم، غټ څادر کې ځان پټولی شم خو چادري نه شم اغوستلی. زما ټول ځان څادر کې پټېدلای شي. او که چادري واغوندم نو کور نه به پکې ځم خو هلته به یې لرې کوم لکه د نورو انجونو په څېر، خو د غسې پردې زمونږ کورنۍ ته څه ګټه رسوي.

تره ښځې یې دښمنۍ ته لستوڼي رابډوهلي ول. هغې عارفین ته څو څو ځله خطونه لیږلي وو او د سبا پر ضد یې پکې ډېر څه لیکلي وو، خو د پنځو خطونو په بدل کې یواځې د یو خط ځواب راغلی و او پکې لیکلي یې ول که سبا چادري اغوستل نه غواړي نو هیڅ خبره نده. هغه پرې هیڅ نیوکه نه لري، همدا خبره یې سبا ته هم په خط کې لیکلې وه.

د دواړو تر منځ د خطونو سلسله همدا سې روانه وه خو دا خطونه څه عام نه ول په دې کې د مینې او محبت پرته نور هر څه ول، کېدای شي ددې دوه شیانو ضرورت یې هم نه وي محسوس کړی. د سبا خط عارفین لپاره د یو کتاب په څېر و، هر ټکي یوه نوې مانا او نوی مفهوم درلوده، په ځینو جملو به حیران او په ځینو به سوچونو کې ډوب لاړ. خط به یې بیا لوسته او یوې بلې جملې به د بلې دنیا خبرې کولې، دا سې لکه په لومړي ځل چې یې لولي. کله کله به یې ځان سره ویل، چې سبا ته وو ایم،

- د شیانو باره کې دومره فکر مه کوه که نه ژوند تېرول به درته ګران شي.

هر ځل به یې دا سوچ کاوه خو د لیکلو جرآت یې نه درلود. کله به یې سوچ کاوه چې دا سې ورته ولیکه،

- د هر څه باره کې فکر کوې او ما ته یې لیکې، زما باره کې څه سوچ کوې دا ولې نه لیکې؟

دا ځل یې همت کړی و او دا پوښتنه یې ترې کړې وه. هغې ته یې ځواب اوس هم یاد دی، هغې دا سې لیکلي ول،

- د کوم شي سره چې د ټولو څخه ډېره مینه لرې، د هغې باره کې سوچ



کول نه وي پکار. سوچ شکونه زېږوي او شک مینه وژني، ته غواړې تا سره زما مینه ختمه شي؟

له دې ځواب وروسته یې کله هم د ځان باره کې ترې نه وو پوښتلي.

□□□

- ساره ! سبا نه بله ورځ د سبا لپاره د قران کریم ختم کوم، ټوله کورنۍ به راځي او ورسره نور خلک هم. ما ټولو کارکونکو ته ویلي دي، هغوی به هرڅه برابر کړي خو ته بیا هم هر څه نظر لاندې ساته.

عارفین د سهار چایو پر مهال ساره ته ویلي ول. حیدر هم پلار ته په غور سره کتل. د هغې سترګې سرې وې. کېدای شي هغه بیګا شپه نه وي ویده شوی. حیدر یو ځل ساره ته وکتل، هغې پیاله لاس کې نیولې په کوم سوچ کې وه. د څو شېبو لپاره یې ساره کې سترګې ښخې کړې وې. له لرې څخه ورته ددې خبرې احساس وشو چې د هغې څېره ډېره ښایسته جوړه شوې وه، په ځانګړې توګه د سترګو پر سر اوږده کاږه بانه...ددې مور به هم دا سې ښایسته وه که نه د پلار په څېر سړی څنګه دا سې مینه او محبت کولای شي. آیا یواځې د ښایسته والي له کبله پلار د هغې سره مینه کوله. هغه زما د مور څخه هم ښایسته وه؟

د هغې مخ ته کتل او همدا سوچونه یې کول. یو دم ساره د هغې په لور راوکتل، ساره په لا شعوري ډول دا حس کړه چې دې ته څوک ګوري.

حیدر په ډېر ارام سره خپلې سترګې د مېز په لور کږې کړې. ساره، عارفین عباس ته وکتل، هغه خپل خوراک کې بوخت و، لاندې یې کتل. هغې یو ځل بیا حیدر ته وکتل. هغې هم د پلار په څېر ځان بوخت ساتلی و. هغه یو ځل بیا په سوچونو کې ډوبه شوه.

- عارفین عباس خو د مور څخه هیڅ ګیله نه لري خو د نورې کورنۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



عکس العمل به څه وي؟
همدا پوښتنه بیابیا د هغې مغزو ته راتله. په اصل کې هغه په دې اوریدو ویریدلې وه چې د مور خپلوانو سره به ګوري.
په دې ورځ هغه ډېره ناارامه وه. نن ماسپښین نه عارفین کورته راغی او نا هم حیدر. عارفین ورته په ټیلیفون ویلي وو، چې خپله ډوډۍ وخوري. هغه هم په دې خوشاله شوه، ډوډۍ ته یې هسې هم زړه نه کېده نو راغله او بهر چمن کې کېناسته.
- اخر زما پلار کې کومه ځانګړې خبر وه چې د هغې لپاره یې عارفین عباس په څېر سړی پرېښی و. هغې دلته ښه ژوند کولای شو. د هاغې ژوند څخه خو ډېر غوره وو، چېرته چې تر مرګه پاتې شوه.
هغې ته تل د یوې کوټې کور یادیده چې د باران په موسم کې به یو یو څاڅکي اخر ټوله کوټه له اوبو ډکه کړه.
- راتلونکي پشکال موسم رارسېدو نه وړاندې به یو څه پیسې جمع کړو چې بام پرې جوړ کړو.
هر پشکال موسم کې به یې مور ته دا خبره کوله خو یوه کال هم دومره پیسې جمع نه شوې چې بام پرې جوړ کړي. یوا ځې ساره د هغه کور شیانو باره کې فکرمنده وه، خو مور یې کله هم په دې باره کې څه نه وو ویلي.
هو که هغې د څه شي پروا کوله نو هغه ساره وه. هغې ته ښه یاد دي چې په وړوکوالي کې به یې خپله تر ښوونځي رسوله او د رخصتۍ پر مهال به ورپسې ورتلله. هغې هیڅکله د نورو ماشومانو سره بهر نه وه پرېښې. ساره به یې د ښوونځي څخه رخصتۍ وروسته له ځان سره کارخانې ته بوتله، چېرته یې چې د کارخانه کې تیار شوي رختونه پلاستیکونو کې بندول او ساره به په یو کونج کې د ښوونځي کورنۍ دنده تر سره کوله، کله کله به ډېره ستړې هملته کوم کونج کې ویده شوې وه. هغې هیڅکله خپله مور د نورو سره د ضرورت څخه په زیاتو خبرو نه وه لیدلې. د هغې



ټول توجه په خپل کار وه. هغې د یو مشین په څېر تیار شوي رختونه پاکټونو کې بندول او بیا به یې ډبو کې ایښودل، ساره ته دا هرڅه د یوې لوبې په څېر ښکاریدل. اوس به هم د مور سره یو ځای تر ښوونځي تلله، دې هرڅه تر لسم ټولګي پورې دوام وموند.
د لسم څخه وروسته یې مور ته ویلي ول چې د نور تعلیم پر ځای به څه کار وکړي خو مور یې په ډېره سختۍ سره منع کړې وه. هغې په کالج کې داخله اخیستې وه خو ډېره خوشاله نه وه. د مور صحت یې ورځ تر بلې خرابیده. د څومره وخت وروسته یې مور ډېره ناروغه شوه، هغه کار کولو ته تللې نه شوه.
څو میاشتې یې چې څه پیسې کور کې وې په هغې کور چلاوه، خو بیا ساره مجبوره په هماغه کارخانه کې د منشي په حیث کار پیل کړ.
کارخانه ددوی کور سره نږدې وه او هلته کار کولو لپاره ورته د هیڅ کومې ذمې ضرورت نه و. یو څه موده وروسته یې د مور ناروغتیا ختمه شوه، د مور له ټینګار سره سره هغې خپلې دندې ته دوام ورکړ.
میاشتینۍ پیسې یې دومره وې چې ایله د کور کرایه او نور مصرف پوره کړي، د ساره لپاره یې بسنه کوله.
په بل هر ځای کې که به یې دنده شرایط مناسب ول خو بیا به د ذمې خبره منځ ته راغله. هغې یوه اوږده ساه واخیسته او خپل سر یې په چوکۍ کېښود.

□□□

حیدر د پرون په څېر څلور بجې کور ته راغی، حویلۍ ته راتلو پر ځای خپلې کوټې ته لاړ. پنځه لس دقیقې وروسته ساره یو ځل بیا حیدر توره دریشي کې وکوت. هغه خپل موټر کې کېناست او بهر لاړ او بیا د شپې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ناوخته کور ته راغلی و.
عارفین عباس هم د شپې کورته راغلی و. د ډوډۍ په مېز د حیدر او عارفین خپلو منځو کې په فرانسوي ژبه خبرې کولې. هغوي دواړه د خپلو دندو باره کې سره غږېدل. ساره چپه خوله ډوډۍ خوړله. د ډوډۍ خوړلو ترمنځ ساره ته بیا دا احساس وشو چې ګنې څوک ورته ګوري. هغې سر راپورته کړ، عارفین او حیدر ته یې وکتل. هغوي لا اوس هم خپلو منځو کې سره خبرې کولې. هغه بیا خپل خوراک پیل که، د ډوډۍ له مېز تر ټولو دمخه حیدر خپلې کوټې ته لاړ.
- کتابونو لوستلو سره مینه لرې؟
عارفین عباس د حیدر تللو څخه وروسته هغې نه پوښتلي ول.
- خبره نه یم شوق ورسره لرم که نه، خو هو که کوم ښه کتاب مې مخې ته راشي نو لولم یې.
عارفین عباس د څو شیبو راهیسې ورته کتل. په دې وخت کې لکه سبا یې چې مخې ته ناسته وي.
- د لوستلو خونه دې کتلې؟
- نه...
- ویې ګوره کنه، هلته ډېر کتابونه ایښي دي. هغه لوله ستا به هم ورسره ساعت تېر وي.
عارفین عباس په نرم کاغذ خپله خوله پاکه کړه او لاړ. ساره ورته په تلو کې همداسې کتل.

په دویمه ورځ یې د کور کارکونکي څخه د لوستلو خونې وپوښتل او هلته لاړه. په رېښتیا هم کوټه ټوله له رنګارنګ کتابونو څخه ډکه وه. په دې کې پښتو، دري، اردو، انګلیسي او فرانسوي کتابونه ایښي وو. هغې د څو شیبو لپاره سرسري کتابونه لیدل. بیا یې یو کتاب



راواخیست او کښیناسته.
ترغرمې هملته ناسته وه. بیا ډوډۍ خوړلو کوټې ته لاړه او هلته یې ډوډۍ وخوړه. عارفین عباس ورته ویلي ول چې زه ډوډۍ خپل دفتر کې خورم او حیدر هم نه راځي نو ته خپله ډوډۍ په وخت خوره. د ډوډۍ خوړلو څخه وروسته یو ځل بیا لوستلو خونې ته لاړه. دا ځل یې خپلې کوټې نه خپله ډایري(د خاطراتو کتابچه) هم راواخیسته، یو قلم یې هم راواخیست چې د راتلو سره یې پرې سترګې لګېدلې وې، مېز سره خواکې کېناسته. دا یو عام قلم نه و بلکې د څوکې څلور خواوو ته الماس ترسترګو کېده، د سرو څخه جوړې څوکې یې ښایسته لا پسې ډېر کړې وو.
د شاعرۍ کتاب څخه یې شعرونه راویستل او خپله ډایري کې یې لیکل. قلم د ښایسته والي سره سره په ډېره نرمۍ سره لیکل کول، که هغې غوښتل هم نه نو تر ډېره یې پرې لیکل کولای شول. ساره د شعرونو نړۍ څخه هله راووته چې یو چا په تیزۍ سره دروازه پرانسته او دننه راننوت. ساره په حیرانۍ د دروازې په لور وکتل، ګوري چې حیدر دننه راننوت. هغه هم د توقع پرخلاف د ساره په لیدو ډېر حیران شو، د څو شېبو لپاره هملته دروازه کې ولاړ و، بیا یې دروازه بنده کړه او په تیزۍ د دې په لور راغی. هغه بیا بیا د الماري روکونه کتل. ساره لکه بې ساه بت ناسته وه. حیدر یو روک نه څه کاغذونه راوویستل او د مېز په یو کونج کې یو څه کتابونه راواخیستل.
- مهرباني وکړئ، زما قلم راکړئ.
هغې د قلم په لور اشاره وکړه او لاس یې راواوږد کړ.
ساره په بې واکۍ سره قلم ته وکتل او بیا حیدر ته ورکولو پر ځای یې د مېز په سر د قلم پر ځای کېښود، له کوم ځای څخه یې چې راخیستی و.
حیدر په دې کار عجیبه نظر ساره ته وکتل، بیا یې خپل قلم راواخیست

(c) ketabton.com: The Digital Library



او د کوټې څخه ووت.
- که چېرې دې ورسره څه بد اخلاقي کوله نو ما به څه کول؟
هغه ډېره ویریدلې ښکاریده.
په تېرو درې ورځو کې د حیدر رویې هیڅکله نه ده خفه کړې. هغه به ټوله ورځ د کور څخه بهر و او ماسخوتن ډوډۍ خوړلو وروسته به خپلې کوټې ته تلو. هر کله به چې ورته مخامخ کېده نو د نظر لاندې یې ساته او ساره په دې خبره خوشاله وه خو اوس هغه خفه ښکاریده.
- آیا مور مې خبره وه، کوم ځای ته چې ما لیږې هلته به د عارفین عباس ځوی هم وي او بله کومه ښځه به هم نه وي او د کور کارکونکي ما ددې سره په یو اځې لیدو هر څه فکر کولای شي. زه به بیا هیڅکله لوستلو خونې ته رانشم.
هغې ډېر زر خپله پرېکړه کړې وه.

□□□

- سبا ! کله کله ته ما خجالتوې.
نن ورځ د عارفین طبیعت سم نه و.
- نن بیا ته پوهنتون ته راغلې یې؟
سبا ورڅخه پوښتلي ول.
- ولې ته نه غواړې زه راشم؟
- ما کله داسې ویلي.
- مور رانه پوښتنه وکړه چې پرون ته پوهنتون ته د سبا لیدو لپاره تللې وې، ماورته ویل نه. هغې زما د خبرې تصدیق لپاره تا نه پوښتنه کړې وه او تا ورته وویل هو راغلی و.
- عارفینه ! په دې کې د پټولو څه خبره ده؟



د سبا لهجه کې لا ډاډ پروت و.
- خبره د ریښتیا دروغو نه ده. ته خبره یې چې مور، زما او ستا لیدنه نه خوښوي. هغوی دا هم نه خوښوي چې زه ستا سو کور ته تګ راتګ پریږدم ځکه دا د کورني اصولو خلاف کار دی. زه یو اځې د هغوی د جزباتو قدر له کبله ستاسو کور ته نه درځم. زه ستا پوهنتون ته راځم او ته ددې خبرې هیڅ پروا نکوې چې مور مې څومره بد ګڼې او هغه به ما نه څومره خفه وي.
- عارفینه ! زما او ستا دیدن خو څه پټه نه دی. د ټولو پر وړاندې درسره ګورم ځکه ته زما خاوند یې، که صرف په نوم دې ووم نو هیڅکله به مې درسره نه وو کتلي، نه په پوهنتون کې او نه هم کور کې. کوم کار چې غلط ندی نو بیا ولې په ورانه لاره وکړم. که چېرې مور ته ریښتیا وایم نو ستا باره کې ورته غلطه خبره ولې وکړم. بیا هم که زما له کبله تا ته کوم تکلیف رسیدلی وي د هغې درنه بخښنه غواړم.
- هیڅ خبره نده. ماخو درته د بخښنې غوښتو لپاره نه دي ویلي. په هر حال زه دلته ددې لپاره راغلی یم چې زه سبا ته چېر ته روان یم.
عارفین د خبرو موضوع بدله کړه.
- څو ورځو لپاره ځې؟
- اوس خو د یوې اونۍ لپاره ځم خو کېدای شي څو ورځې نورې هم هلته اووسم. ته راته دا ووایه تا لپاره څه راوړم؟
- عارفینه ! ته پوهیږې، زه هیڅکله د شیانو غوښتنه نه کوم.
- بیا هم کنه، یو څه غوښتنه وکه، زه به خوشاله شم. ته بیا ګوره زه یې څنګه پوره کوم.
سبا په دې خبره په زوره وخندل.
- بیا به درنه کله یو څه وغواړم. بیا ګورم ته زما غوښتنه پوره کولای شې که نه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- هر کله.
عارفین په خوشبینه څېره سر ښکته پورته کړ.
- یوه خبره وکم، عارفینه؟
سبا یو دم جدي شوه.
- هو ولې نه، په دې کې د پوښتنې څه اړتیا ده؟
- دا انسان چې دی، کله کله په نه غوښتلو هر څه ورکوي خو د غوښتلو په وخت کې هیڅ نه ورکوي.
- ستا اشاره زما په لور ده؟
عارفین د څو شیبو لپاره د هغې مخ ته کتل.
- سبا! کله کله ماته داسې ښکاري چې ته په ما باور نه لرې.
- عارفینه! آیا انسان د اعتبار وړ دی؟
- سبا! زه د خپل ځان خبره کوم.
- عارفینه! دا اړینه نده چې د کوم چا سره چې مینه لرې په هغې باور هم ولرې لکه څنګه چې په چا باور لرې هغې سره دې مینه وشي.
هغه ددې خبرې په ځواب کې غلې ناسته وه.
سبا ورته د سترګو په کونج کې وکتل او ویې پوښتل ترې،
- خفه شوې؟
- نه. په کومه خبره خفه شم. تا خو دومره د اعتراض وړ خبرې نه دي کړې.
- بیا هم په تا ښې ونه لګیدې کنه؟
سبا یې د پخلا کولو کوښښ کوو.
- هو، بده راباندې ولګیده خو دومره نه. څه خیر ته مه کېږه مه. زما په خیال زه باید اوس لاړ شم.
عارفین خپل لاسي ساعت کتلو سره ویلې ول.
- خو د تلو څخه وړاندې یوه خبره واوره، زه ستا ډېره پروا لرم، پرون هم وه او د تل لپاره به وي.



ددې خبرې سره یې په شونډو یوه نرۍ موسکا تېره شوه، هغه روان شو، دې ورپسې شاته کتل.

□□□

هغه په دې ورځ ډېره خفه وه،
- که مور مې په خپله خوښه واده نه وکړي، نو نن ورځ د مور خپلوانو لیدو ته دومره ولې خفه وم.
هغې تر ډېره دا سوچونه کول. نن مازیګر د قران کریم ختم و. نن حیدر هم په کور و ځکه نن د رخصتۍ ورځ وه. د سړو لپاره د حویلۍ په چمن کې ځای جوړ شوی و. ساره ته هیڅ ضرورت نه و، چې د کور کارکونکو ته لارښوونه وکړي، هغه د ماشین په څېر هر کار په چټکۍ او خپله کوو. د خلکو راتګ ورو ورو پیل شوی وو. عارفین، ساره راتلونکو مېلمنو ته ورپېژندله. هر چا به رسمي کلمې کارولې او خپلو ځایونو کې به کېناستل.
- ساره! دا زما د ټولو مشره خور ده.
عارفین هغه د یوې ښځې خوا ته راوستې وه. هغې ښځې یو دم ساره په غېږ کې ونیوله او په لوړ اواز یې ژړا پیل کړه.
- سبا خپل ضد پوره کړ. څومره مې پوه کړه. څومره مو ورته ویلي وو خو هغې د هیچا خبره ونه منله، بیرته رانغله. خطا خو انسان نه کېږي کنه نو بیا...
هغه د ژړا سره یو ځای دا خبرې کولې. عارفین په سم وخت رامنځته شو.
- خورې! پخوانۍ خبرې پرېږدئ.
- څنګه یې پرېږدم عارفینه! څنګه یې پرېږدم. زه صبر نه شم کولای. زه په ارامه نه شم کېناستی. څوک داسې کوي لکه سبا چې وکړل. دا د هغې

(c) ketabton.com: The Digital Library



مړینې عمر و ، خو هغې هماغه یو ضد...
- خورې ! تېرې خبرې مه یادوئ. بس کړئ ، څه چې وشول هغه هېر کړئ. هغې لپاره دعا وکړئ.
عارفین په زوره د ساره څخه بیله کړ. عارفین هغه له ځان سره کړه او بهر راووت. خور یې په نه زړه میلمنو سره کېناسته.
- او تاسو هغه پوه کړئ چې زما وړاندې زما د مور ماضي باره کې څه نه وایي ، ځکه زه پرې خفه کېږم. کاش په دې خبره مور هم یو ځل فکر کړی و چې دداسې خپلوانو لپاره څومره لوی عذاب جوړ شوی دی.
د اوښکو څخه په ډکو سترګو سره ذکر کاوه او ورسره یې د خپلې مور باره کې سوچونه کول.
لږه شېبه وروسته د عارفین نورې دواړه خویندې هم راغلې وې خو د مشرې خور په پرتله په عادي حالت کې یې ساره سره ولیدل. د هغوی راتګ څخه څو شېبې وروسته مشره خور هم دننه راغله. هغه اوس هم په ژړا ښکاریده خو ځان یې قابو کړی و ، هغه راغله او ساره سره کېناسته.
د قران کریم ختم نه وروسته یوې ښځې دعا پیل کړه. ښځې مختلف ایاتونه ترجمې سره لوستل. مشرې خور یو ځل بیا نرۍ ژړا پیل کړه. د ساره زړه غوښتل چې ځمکه سورۍ شي او هغه پکې ننوځي. هغې دا فکر کاوه چې هغه به هیڅکله خپل سر پورته نه کړي. هغې خپل ځان قابو کړ خو بیا یې هم سترګو څخه اوښکې روانې شوې.
- یا الله ته مې مور وبخښئ. ته هغه وبخښئ ، لکه څنګه چې دې خلکو بخښلې ده.
د هغې زړه څخه بې واره دعاګانې ووتې. ډوډۍ خوړلو وروسته ورو ورو ټول خلک خپلو خپلو کورونه ته روان شول ، یو ځل بیا هماغه د تعزیت کلمې اوریدل پکار وو. مشرې خور هم ورته د کور ته ورتلو بلنه ورکړې وه. کور کارکونکو د شیانو په ټولولو باندې پیل کړی و. بهر عارفین او



حیدر مېلمانه رخصتول. د ټولو خلکو تللو نه وروسته هغوی دواړه دننه راننوتل.
- ساره ! که ته ارام کول غواړې ، نو کولای شې.
د هغې سترې څېرې لیدلو سره ورته عارفین دا ویلي ول. هغه خپلې کوټې ته لاړه. په دې شپه هغه ویده نه شوه. د مور څېره یې بیا بیا مخې ته راتله او د هغې سره تېر کړی وخت یې په زړه کاوه. هغه ډېره ناارامه وه. د یوې بجې شاوخوا کې د خپلې کوټې څخه بهر راووته او د حویلۍ په لور دروازه یې پرانسته او بهر راووته. هرې لورې ته چوپتیا خپره وه. د حویلۍ څراغونو د دهلیز تیاره ختمه کړې وه. د یخې هوا سره سره هغه یو څه ارامه شوه. د چمن وابښه د پرخې له کبله لامده شوي هم ول خو هغې یې هیڅ پروا نه کوله.
دوه بجې حیدر خپل کار ختم کړی و ، د څراغ بندولو نه مخکې د کړکۍ په لور راغی تر څو د کړکېو پردې را پرانیزي. خو لاندې حویلۍ ته کتلو سره په خپل ځای ودرید. حویلۍ کې چا قدم وهه. هغه لږ ځیر شو نو په ریښتیا هم څوک ګرځي. یوه عجیبه غوندې پوښتنه یې ذهن کې راپورته شوه ، چې په دې وخت کې څوک کېدای شي. هغه لاندې راښکته شو او د حویلۍ چمن په لور راغی.
- ګورئ ! اوس د شپې دوه بجې دي. تاسو د خپلې کوټې دروازه خلاصه پرېښې او دلته ګرځئ. که څوک هم دلته پټ وي ، هغه کولای شي ستاسو د کوټې د لارې کور ته دننه تللی شي. زه نه پوهېږم چې تاسو ته دا کور ، ددې کور خلک څومره نیږدې دي ، خو ددې کور هر شي پلار په ډېره محنت سره برابر کړی دی. نو په دې خاطر ما ته ددې کور د خوندیتوب پروا شته. د کور لوی دروازه کې ولاړ څوکیدار د کور څخه بهر ساتنه کولای شي. دننه هیڅوک نه شي ژغورلای. نو که چېرې تاسو خفه کېږئ نه نو په چمن کې د ګرځیدو شوق د ورځې پوره کوئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ساره یې د راتلو څخه دمخه د پښو ښکالو نه پوه شوې وه او بیا د بت په څېر ولاړه د هغې خبرې اورېدې. د هغې خبرو پای کې د ډېر شرم او خجالت څخه ډکه څېره د خپلې کوټې په لور روانه شوه. حیدر همـلته ولاړ هغې ته کتل. کله چې هغه د ننه لاړه او ځان پسې یې دروازه بنده کړه نو حیدر خپله هم کوټې ته لاړه.

□□□

راتلونکي سهار هغه د چایو په مېز موجوده نه وه. عارفین د کور کارکوونکي منع کړل چې هغه مه پاڅوئ. د عارفین او حیدر سره لیدنه یې د شپې په ډوډۍ وشوه.

- عارفین کاکا ! آیا ته زما خاله سره زما اړیکه نیولې شئ.

حیدر چای څښلو چې ددې په خبره رانیغ شو او عارفین عباس په ډېره حیرانۍ د هغې په لور وکتل.

- ته ولې هغې سره لیدل غواړئ؟

عارفین په ډېره بې صبرۍ هغې څخه وپوښتل.

- زه د هغوي کره اوسیدل غواړم که هغوی ومني نو...

هغې د مېز یو کونج ته کتل.

- هغوی سره اوسیدل غواړې. آیا ته دلته خوشاله نه یې؟

هغه غلې وه،

- ساره ! ستا مور غوښتل چې ته زما سره اووسئ او زه تا هغه کور ته لیږل نه غواړم.

- هغې ولې نه غوښتل؟

هغې یو دم خپل سر پورته کړ او ویې پوښتل. عارفین هیڅ ځواب نه درلود. حیدر په چپه خوله چای څښنه او د دواړو خبرې یې اورېدې.



- په دې به سبا ښه پوهیده. په هر حال هلته تلل تا ته هیڅ ګټه نه رسوي.

لږه شېبه وروسته حیدر یوه اوږده ساه واخیسته او ویې ویل،

- که چېرې دا خپلې ترور کره تلل غواړي نو پرېږدئ چې لاړه شي. دا به په ریښتیا د دوی په حق کې غوره وي.

دا خبره حیدر خپل پلار ته په فرانسوي ژبه کې وکړه،

- ته هغه ولې لیږل غواړئ؟

عارفین په ډېره ترخه لهجه هغه څخه وپوښتل.

- نه، زه یې ولې لیږل غواړم. ما خو درته صرف خپله رایه وویله. پلاره زه خپله هم دا فکر کوم چې دا به خپل ماما او ترور کره خوشاله وي. ځکه دلته خو ټول عمر نه شي اوسیدلای او بیا مونږ به یې تر کومه ساتو.

هغې په ډېره نرمه لهجه دا هر څه وویل.

- حیدره ! دا ستا مسئله نده. دا به تر کله دلته اوسېږي. دا هر څه دې پورې اړه لري. که هغه ټول عمر هم وي. تا ته ددې باره کې نیوکې کولو هیڅ کوم حق نشته.

عارفین عباس په ډېره ستغه لهجه دا هر څه وویل. حیدر د بیا ویلو جرآت پیدا نکړ. ساره په ډېره چپتیا د دوی دواړو خبرې اورېدې. د هغې د لومړۍ ورځې څخه معلومېده چې حیدر ته د هغې راتګ هیڅ خوند ور نکړ.

د هغې زړه نور هم تنګ شو. بیا بیا د هغې زړه غوښتل چې له دې ځایه وتښتي. داسې په نورو د اوږو بار جوړېدل ورته سخت پرېوتل.

- د یو چا دومره ذمه داري اخستل ریښتیا هم سم نه وي. حیدر سم ویلي ول چې هغوی به ما تر کومه دلته ساتي او حیدر زما د عزت باره کې څنګه داسې سوچ کولای شي، لکه څنګه چې هغې ته څرګنده ده چې پخوا د هغې پلار زما مور خوښوله او اوس یې هم خوښوي او اوس د هغې ښځې لور د هغوی د اوږو بار ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغې په زړه کې د حیدر نظر سم ګڼه او هغه پوهیده چې هغه د دې باره کې څه سوچ کوي.

- که زه خپلې ترور کره هم نه شم تللی نو بیا په یوه نه یوه لاره باید له دې کور څخه لاړه شم. ریښتیا هم زه دلته تر ډېره نشم پاتې کېدای.

هغې په همدې مېز خپل زړه کې پرېکړه کړې وه.

□□□

د سرمد د واده خبر خپور شوی و. د واده نه یوه میاشت وړاندې ساز او سرود پیل شوی و. په داسې محفلونو کې یې ناسته د پخوا څخه نه خوښیده. په دې شپه هم همداسې وشول. کله چې د شپې ډوول وهل پیل شول نو ددوی کور ته یې غږ راته. هغې له دې هر څه هیڅوک نه شو منع کولای او نه یې هم څه اراده لرله.

د واده څخه درې څلور ورځې وړاندې د هغې د کشر تره لوریانو یې په زوره محفل ته راوستې وه، هغې ورڅخه انکار هم نه شو کولای ځکه واده ته یو څو ورځې پاتې وې او دا هرڅه ختمېدل. د هغوی سره به کېناسته خو یوازې به یې چکې وهلې او یونیم دوه ساعته وروسته به یې هغه ځای پرېښود.

په دې شپه هم هغه خپلې کوټې ته وختې راغلې وه چې د عارفین مور کوټې ته راغله.

- سبا ! ته راشه، ستا تره ویلې ول چې بره د عارفین کوټه کې بسترې خورې کړو ځکه لږه شېبه وروسته نور میلمانه راروان دي. د ښځو انتظام خو خالد خپله کړی دی خو د سړیو لپاره ځای نشته. لاندې خو تاته معلومه ده چې ځای نشته. هسې هم سبا ته نجمه او سلمی هم خپلو بچو سره د سرمد واده ته راځي. نو ځکه ما فکر وکړ چې د عارفین کوټه ورته



تیاره کړم، هغه هسې هم لا نه ندی راغلی.

- سمه ده، کاني، زه به تاسو سره لاړه شم.

هغې په ډېر خوشبین انداز دا خبره وکړه او پاڅیده. په لومړي ځل ورسره د تره ښځې په دومره مینه خبرې کړې وې. که نه هغې خو تل په بده لهجه هغې سره خبرې کولې. دواړه ګودامي کوټې ته لاړل نو تره ښځې د بسترو راویستلو کې وه چې څه ورياد شول،

- سبا ! ما نه خو بیخي هیر شول چې آسیه ته وو ایم چې زه د عارفین کوټه کې بسترې ړدم. ما ته داسې ښکاري چې هغې به بسترې وړې وي ځکه دلته بسترې کمې دي. ته داسې وکه د عارفین کوټې ته لاړه شه او وګوره چې هلته بسترې شته که نا. هسې به بسترې وړو راوړو.

- سمه ده، کاني. زه ګورم بیا راځم.

هغې تابعداری، سره سر وخوځوه او لاړه. د عارفین د کوټې دروازه خلاصه وه، دننه څراغ مړ وو خو نری، غوندې رڼا بهر ته راتله. هغه لږه شېبه په خپل ځای ودریده.

- دننه څوک شته؟

هغې د بهر نه غږ وکړ.

- سبا ! زه یمه دننه. د عارفین کوټې څراغ هولډر کې څه ستونزه وه. زه هغه جوړوم. مشرې کانې راته ویلي ول.

هغې د تره ځوی عادل اواز وپېژنده. په ډاډمن زړه دننه لاړه. هغې په یو لاس کې لالټین او په بل لاس یې څراغ جوړولو کو ښښ کاوه.

- ما کوټه کې کتل چې دلته بسترې شته که نه، خو دلته یوه بستره هم نشته.

هغې په تته رڼا کې کوټه ولېدله.

- ښه اوس چې دومره راغلې هم یې نو داسې وکه چې دا لالټین...

د عادل خبره په نیمايي کې پاتې شوه چې چا د بهر څخه دروازه بنده کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



عادل یو دم د مېز څخه راښکته شو.
- دا څه وشول؟
هغې خپل حواس له لاسه ورکړي دروازې په لور منډه کړه. هغې د دروازې خلاصولو کوښښ وکه خو دروازه د بهر له خوا بنده وه.
- سبا ! چا د بهر نه قلف اچولی...
هغې د ډېر خفګان په وارخطايي کې وويل.
- زه دروازه ټکوم. کاني لاندې ده هغه به يې پرانيزي.
عادل نور هم وارخطا شوی و ، هغې نه ځراغ جوړول هم هېر شوي ول.
څو دقيقې تېرې شوې نو هيڅوک رانغلل، سبا هم خپل حواس له لاسه ورکړل. دواړو د يو نازک صورت حال سره لاس او ګريوان شول. بيا يو دم د لاندې څخه د شور اواز تر غوږو شو. سبا هم نوره دروازه نه ټکوله.
شور څه عجيبه غوندې وو. سبا په ويره عادل ته وکتل. د لالټين په تته رڼا کې د عادل زيړ مخ نه شو پټيدای. غږونه ورو ورو رانږدې کېدل. سبا د کاني غږ وپيژنده. هغې په لوړ اواز ژړل او ورسره يې څه ويل. بيا يو څو کسان په زينو کې په تيزۍ بره راروان ول. هغوي دواړو څخه ساه وتلې وه، دروازې ټکولو پر ځای يې يو بل ته کتل. مشرې کانې چې څه ويل هغه ټول دوی واوريدل. هغوی پوه شول که اوس دروازه ټکوي هم نه نو دروازه به خلاصه شي.

□□□

هره ورځ به يې اخبار اخيسته او هر اعلان به يې کتنه. هر ځای چې به ورته مناسب ښکاريده نو هلته به يې خپل اسناد ليږل. اوس ورته معلومات وشو چې يو اځې ليسانس څخه هيڅ نه جوړيږي، هر چېرته لږ تر لږه د ماسټرۍ کسان پکار ول او که چېرته دولسم ټولګي فارغ هم پکار وو نو



ورسره به يې ليکلي ول چې بايد تازه فارغ وي خو د ساره د فراغت څلور کاله تېر شوي ول. اوس په دې ډاډه شوې وه چې د دندې لپاره د ذمه دارۍ ورکولو مسلې نه خلاصه وه.
هغې لا تر اوسه عارفين عباس ته د دندې لټون باره کې نه وو ويلي. هغې دا فکر کاوه چې د دندې موندلو نه وروسته به ورته وو ايي. هغه په دې ډاريده که عارفين ته د دندې لټولو باره کې وو ايي نو کېدای شي هغه يې منع کړي. ورو ورو ورته د انټرويو لپاره زنګونه راتلل او د کور څخه بهر وتل يې هم پيل کړي ول.
عارفين ته يې لا تر اوسه نه وو ويلي چې هغه انټرويو لپاره مختلفو ځايونو ته ځي. کله کله که به عارفين کورته ټيليفون کاوه نو کارکونکو به ورته ويل چې هغه خپلې کومې ملګرې کورته تللې. ساره به کارکونکو ته هم دا ويل او تلله به او کله به چې عارفين خپله د ساره څخه پوښتنه کوله نو هغه به ډاډه کېده.
عارفين عباس هم دا فکر کاوه چې هغه ورو ورو عادي حالت ته راګرځي او خپل ځانته مصروفيت پيدا کوي. ساره ته په لومړي ځل دا احساس وشو چې ښار څومره لوی دی ځکه تر اوسه د کور څخه دومره لرې نه وه تللې او د دندې تر لاسه کول څومره ستونزمن کار دی. هغې ته په لومړي ځل د مور له کبله په کارخانه کې کار پيدا شوی و. هغه دا ځل د کومې غوره دندې په لټه کې وه چې خپل ضروريات پوره کړي.
ټوله ورځ به پياده دفتر په دفتر ګرځېده، اخر ورسره عادت شوې هم وه.
هغې دا فکر کاوه چې په ټوله نړۍ کې د دې لپاره يوه دنده هم نه ده پاتې.
په دې شپه هم د معمول مطابق د شپې ډوډۍ پر مهال د عارفين او حيدر تر منځ په فرانسوي ژبه خبرې کېدې او هغې په ډېر بې زړه توب خپله ډوډۍ خوړله. د معمول پر خلاف د ټولو څخه وړاندې عارفين د ډوډۍ له مېز څخه پاځيد. ساره هم ډوډۍ خوړلې وه. د عارفين د تلو نه وروسته

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چې هغې غوښتل لاړه شي نو حيدر ورته وويل،

- يوه شېبه ساره ! زما تاسره يو څو خبرې وې.

حيدر فيرني خوړلو سره هغې ته وويل. هغه په حيرانۍ په خپل ځای کېناسته.

- ما نن تاسو د ايريا کارخانې سره ليدلې وئ، آيا پوښتلې شم تاسو ولې هلته تللې وئ؟

د اوبو ګيلاس يې لاس کې نيولی، ساره څخه وپوښتل. ساره ته دا پوښتنه د توقع خلاف وه. هغه تر ډېره غلې وه او بيا يې ځان سره پريکړه وکړه،

- زه هلته نه وم تللې.

هغې په ډېر ډاډمنه لهجه دروغ وويل.

حيدر د ډېرې حيرانۍ څخه د هغې په لور کتل. شايد هغې د ساره څخه داسې سپين دروغ ويلو امېد نه درلود.

- خو تاسو نن په کور کې نه وئ؟ ما کارکونکي څخه پوښتلي ول.

- هو زه په کور کې نه وم. زه خپلې يوې ملګرې خواته تللې وم، خو ايريا کارخانې ته نه ووم تللې.

ساره خپله هم حيرانه وه چې هغه څنګه په ډاډمنه لهجه دروغ وايي.

- کېدای شي، ما کوم بل څوک ليدلي وي، بخښنه غواړم.

د حيدر خبرې څخه داسې ښکاريده چې هغې د ساره په خبره باور نه وو، او هغې هسې بې څه بخښنه وغوښته.

ساره پاڅيده او خپلې کوټې ته راغله. هغې ته د حيدر دې پوښتنو خوند ورنکړ او نه هم په دې خبره خفه وه. خو يو څو ورځې د احتياط له وجې د کور نه ونه وتله. خو يو څو ورځې وروسته يې بيا خپلو هڅو ته ادامه ورکړه.

په دې ورځ هم ددوه ځايونو انټرويو ورکولو وروسته دريم ځای ته روانه



وه. د بس تمځای سره ولاړه وه، ناڅاپه يو موټر راغی او خواکې ورسره ودريد،

- راځئ، تاسو چې چېرته ځئ زه مو رسوم.

ساره بې اختياره خپل زړه کې وويل،

- يا الله ! څه ضرور و چې دې سره مې د اخري انټرويو نه مخکې کتل.

هغه په نه زړه د موټر شا ته سيټ په لور روانه شوه.

- ساره ! زه ستا موټر چلونکې نه يم. تاسو مخکې سيټ ته راشئ.

هغې مخکينۍ دروازه خلاصه کړه، هغه پرته د کوم اعتراض نه مخکې سيټ کې کېناسته.

- چېرته تلل غواړئ تاسو ؟

حيدر موټر روان کړ او ويې پوښتل.

- زه کورته تلم.

هغې يو ځل بيا دروغ ويلي ول. حيدر د هغې مخ ته وکتل.

- که بل چېرته ځئ نو زه مو رسولای شم.

- نه، زه کور ته تلل غواړم.

د څو شيبو لپاره موټر کې چپتيا وه.

- تاسو ټوله ورځ چېرته ګرځئ؟ هره ورځ خو څوک ملګري کره نه شي تللی.

حيدر پرته د هغې مخ ته کتلو هغې څخه وپوښتل، ساره زړه کې وويل بايد رېښتيا وواېي.

- زه د دندې په لټه کې يم؟

حيدر لومړې د همدې ځواب توقع لرله،

- ښه نو ځکه هغه ورځ ايريا کارخانې ته تللې وې.

ساره د خپلې تيرې خبرې ردول نه غوښتل.

- نه، زه هلته نه ووم تللې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ساره ! تاسو هلته تللي واى. ما بل څوک نه وه ليدلې. ما چې تاسو د هغه کارخانې نه په وتلو کې ليدلې وی، ستاسو د انکار نه وروسته ما هلته ټيليفون کړی وا و ستاسو باره کې مې پوښتلي ول. که په هغه ورځ ما سره ملګري نه وو نو زه به دې خواته درغلی وم.

ساره باندې دا خبرې ډېرې بدې ولګيدې. هغې هيڅ نه ويل

- څومره زده کړه لرئ؟

څو شيبې وروسته هغې پوښتلي ول.

- پوهنتون نه فارغه يم.

- کومه رشته کې؟

- اقتصاد او...پښتو.

فرانسوي ويلو سره غلې شوه. او بيا يې فرانسوي ويلو پر ځای پښتو وويله.

- پلار مې ددې نه خبر دی چې تاسو دندې په لټه کې ياست؟

هغې د يوې اوږدې چپتيا نه وروسته بيا پوښتلي ول.

- زه به يې ورته وروسته ووايم.

دا ځل يې مخ ور واړوه او ورته يې وکتل،

- ګورئ ساره ! تاسو زمونږ کور کې اوسيږئ. او دا زمونږ مسولېت دی چې تاسو څه کوئ يا غواړئ څه وکړئ. پلار بايد ددې هر څه نه خبر وي. وروسته که څه خبره وشي نو ټوله پړه به د پلار په غاړه وي ځکه همغوی تاسو خپل کور کې ساتلي ياست. زه د نورو خلکو ذاتي معاملو کې ننوتل نه غواړم، خو په راتلونکې کې تاسو د دندې لپاره د کور څخه بهر ځئ نو پلار ته بايد ددې هر څه معلومات وي او که دا سې ونه شي نو زه به پلار ته ووايم. زه هيله لرم چې زما په خبرو باندې غور وکړئ.

هغې چې څنګه په ښه ډول فرانسوي کې خبرې کولې د هغې څخه يې څو چنده په پښتو ژبه خبرې کولې. خو په دې وخت د ساره لپاره د زهرو څخه



کمې نه وې. هغه يې دروازې سره ښکته کړه او لاړ. هغه سترې سترې قدمونو کورته ننوته.

□□□

دروازه پرانستل شوې وه. بهر ډېری خلک ولاړ ول او د توقع مطابق ددوی دواړو بهر راوتو سره نور هم حيران شول.

- مشرې کانې ! چا د بهر نه...

سبا په اخري ځل د صفايي هڅه وکړه.

- ما بنده کړې وه تر څو ټولو ته ستاسو دواړو کړنه وښايم.

مشرې کانې د زمري په څېر سترګې راويستې وويل.

- په تاسو څه شوي دي. دا تاسو څه وايې. همدا تاسو خو زه بسترو ليدلو ته راليږلې ووم.

سبا په تيز غږ وويل.

- کم اصلې، شيشکې ! ما دلته بسترو ليدلو لپاره راليږلې وې. زما ماغزه خراب ول چې زه به د عارفين کوټه کې بسترې ړدم. بې غيرتې ! بې حيا ! ته په دې نه شرميدې زما د ځوی کوټې ته راننوځې. وئ زما عارفينه ! هغه ددې بې حيا انجلۍ نه څه خبر وو.

مشرې کانې خپل مخ په څپيړو وهه او دا يې ويل.

- تاسو دروغ وايې، کانې ! تاسو په ما تور لګوئ.

- په هوښ راشئ کانې، خدای لپاره په هوښ راشئ. دا سې خبرې مه کوئ. تاسو خو ماته د څراغ هولډر جوړولو لپاره ويلي ول.

عادل په قهرجنه لهجه د کانې مخې ته لاسونه ونيول او ويې ويل.

- زه په هوښ راشم؟ زه په هوښ راشم؟ ستاسو دواړو کړنې نورو ته ونه وښايم. ستاسو دواړو کارنامو باندې پرده واچوم. عارفين خو ته د ورور

(c) ketabton.com: The Digital Library



په څېر ګڼلې. تا د ورور په شا کې غشې ننباسه. یا الله زه ددې ورځې لیدلو نه مخکې ولې مړه نشوم.

مشرې کاني لاسونه مروړل او په لوړ غږ یې ورسره ژړا هم کوله. سبا یو ځل خپلې مور ته وکتل چې د بت په څېر یو کونج کې ولاړه وه. د هغې کشرې خور هم ژړل.

- مشرې کاني ! ما هیڅ نه دي کړي. الله پوهیږي چې زه بې ګناه یم. زه د عارفین مېرمن یم، زه هغې ته څنګه دوکه...

هغې لا خبره نه وه ختمه کړې چې مشرې کاني په زوره په مخ څپېړه ووهله.

- نوم مه اخله، بی حیا ! د عارفین نوم مه اخله. ته د عارفین لپاره مړه شوې. ستا په څېر بد چلنه ښځه دې کور ته راولو. هلئ لاړ شئ، د کور سړي راخبر کړئ. هغوي ته ووایې راشي وګوري چې په دې کور کې قیامت راغلی دی.

مشرې کاني بیا خپل لاسونه مروړل پیل کړل.

- د خدای نه ووېرېږئ، کاني ! خدای نه ووېرېږئ.

عادل یو ځل بیا خبرو منځ ته راټوپ وهل.

- تاسو دواړه د خدای نه ولې ونه ډار شوئ؟ زه به تاسو دواړه ټوټې کړم او سپو ته به مو واچوم، تاسو زه چېرته پرېږدم.

مشرې کاني په کرکجنه لهجه وویل.

- ته یوه ذلیله ښځه یې. تا پخپله مونږ دواړه په دې جال کې راګیر کړو. ته څه فکر کوئ چې ته به ما وژنې او زه به درته دلته ناست یم، خو یوه خبره په یاد لره، زه که بیرته دلته راغلم نو ژوندئ دې نه پرېږدم.

عادل د ادب کلمې یوې خوا کېښودې او په قهرجنه لهجه یې وویل. ددې نه وړاندې چې څوک هغه ونیسي، په منډه له هغه ځایه لاړه. مشرې کاني د هغې د منډې له کبله هیڅ غږ ونکړ.



- که دا بې ګناه و، نو ولې تښتېده؟ وګوره عالیې ! د خپلې لور کارونه دي. ما څومره پوه کړې وې چې دا مه پرېږده له کوره ووځي. تا زما یوه خبره هم وانه وریده. اوس ټول عمر سر ټیټي ګرځه.

مشرې کاني سبا ته کتل او دا یې ویل. هغې په سرو سترګو ژړل. سبا دیوال باندې ډډه وهلې ناسته وه. ډله خلک تری چاپیره ولاړ ول. هغه د عادل په څېر نه شوه تښتېدلای او هغې غوښتل هم نه چې وتښتي. هرڅه چې کېدل، هغه نه پوهېده چې څه روان دي. هو که په څه پوهیده نو هغه د ډله خلکو په بد نظر کتل ول. هغه ددې په انتظار کې وه چې تره او نور خلک به راشي او مشره کاني به پوه کړي خو د هغې دا توقع یوائې توقع پاتې شوه.

د عارفین مشره خور لاندې لاړه او هرڅه یې چې د مور څخه اورېدلي ول، ټول یې خپل پلار ته وویل. هغه د سکروټې په څېر بره راغی. مشرې کاني چې هغه ولېد نو بیا یې کېسه د سر نه پیل کړه. د سبا په لیدلو د خپل کنټرول څخه بهر شو. هغې د سبا خبره وانه وریده. د هغې خبره اوس هیچا نه اوریده. هغې ته داسې ښکاریدل لکه ګونګې. شوي چې وي یا نور کاڼه شوي وي. د ګنده الفاظو یو باران وو چې د مشرې کاني د خولې څخه راوتل.

- زه یې نه پرېږدم. زه به یې شل ډزه وولم تر څو راتلونکې کې څوک دداسې حرکت جرآت ونه کړي.

هغې یو دم دا پریکړه کړې وه او لاندې راښکته شو. مشرې کاني ته هم حالاتو ترینګلتیا احساس وشو، ورپسې لاندې راښکته شوه.

- بی حیا ! ځه لاړه شه، خپل کور ته، نوره څه نندارې جوړول غواړئ؟ ته غواړئ زما پلار تا ووژني او خپله اعدام شي. زمونږ کور خو دې تباه که. ځه لاړه شه ددې ځای نه. ورکه شه ددې ځای نه.

ناڅاپه د عارفین مشره خور ددې په لور راغلې وه، هغه یې د لاس نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



نیولې او په زینو کې یې ځان پسې کشوله. د هغې څادر هملته پاتې شو. د عارفین مشرې خور یې څادر راخیستو ته هم پرې نه ښوده. د هغې په مخ د اوښکو سیلاب جوړ و ، پرته د څادره لاندې یې راوستله.
لاندې یوه عجیبه ننداره جوړه وه. تره یې خپله تمانچه لټوله، مشرې کاني او د هغې دوه ورونو یې د نیولو هڅې کولې. د سرمد پلار د هغې څخه تمانچه واخیسته. سبا د ړندو په څېر حویلۍ ته راوویستل شوه.
- زما لپاره ته مړه شوې یې. زما کور ته د راتلو ضرورت نور نه لرئ. چېرته چې غواړې هلته لاړه شه. خو خپل نجس قدمونه دې کور ته مه راوړه.
حویلۍ ته راوتو سره یې د شاه له خوا د مور اواز تر غوږ شو. هغې د خپلې لور اقصی لاس نیولی خپل کور خواته منډې وهلې. ددوی د کور حویلۍ پرته د ټولو کورونو حویلۍ کې ډله ډله خلک ولاړ ول. څوک یې پیژندل او څوک یې نه پیژندل. خو ددې څخه وروسته به یې ټول خلک تر عمره پورې پیژني. نور ورته په ښو ودریدل ګران ول. هغه په ځمکه کېناسته او خپل سر یې زنګنو د پاسه کېښود. بیا ناڅاپه یې د مشر تره غټ غږ تر غوږو شو. هغه د کور څخه راوتی و او ددې په لور رارawan وو.
هغه بې واکه د خپل ځایه پاڅیده.
- زه به ورته ووایم چې زما سره څه وشول.
هغې له ځان سره فکر کړی و. د هغې خوله هم د کنځلو ډکه وه. د هغې مخ د اور په څېر سور و.
- مشر تره ! زما خبره واورئ؟
د هغې رانیږدې کېدو سره یې ویلي ول خو هغه خبرې اوریدو ته راغلی نه و. رانیږدو کېدو سره یې په دواړو لاسونو د هغې ویښتان ونیول.
- داسې مه کوئ، مشر تره !
هغې له ویرې څخه په لوړ غږ وویل.



برنډه د خلکو څخه ډکه شوې وه. ماشومان یې لیدلو لپاره نیږدې راغلي ول. هغه یې د ویښتو څخه نیولې، خوله له کنځلو ډکه، په ځمکه راوغورځوله. بیا له پښې بوټ وویست. هغې ورته د ډېرې ویرې له وجې کتل.
- کاکا... !
د هغې غږ په ستونې کې وچ شوی و. هغې په ټول زور د بوټ ګوزارونه پیل کړي ول. سبا د هغې لاس نیولو کوښښونه کول. هغې وهلو ته نور هم زور ورکړ. په یو لاس کې یې هغه د ویښتانو نیولې وه. سبا په دواړه لاسونو د هغې پښې ونیولې.
- مه کوئ کاکا ! داسې د ټولو وړاندې مې مه وهئ. که وژل مې غواړئ نو هم سمه ده، که نه زه خپله خپل ځان وژنم.
هغې په خپل جوش سره په سر ګوزارونه ورکول. هغې په اخري ځل برنډه کې ولاړ خلکو ته وکتل او بیا یې خپل سر ښکته کړ.
مشر تره یې لا د ګوزارونو باران جوړ کړی و. هغه پرته د څه ویلو او شور نه په مسلسله توګه وهله. له لرې د اقصی د ژړا غږونه اوریدل کېدل.
- دا ولې، څه وشول خورې؟ دا یې ولې وکړل؟
هغې په چغو ژړل. هغې ځواب ورکول غوښتل خو هیڅ یې نشو ویلای.
د درد احساس ورو ورو ډېریده. هغې یو ځل سر پورته کول او اقصی لیدل غوښتل. هغې سر نه شو پورته کولای.

□□□

د حیدر اخطار ورکول ورته بې ارزښته ول. هغې د دندې لټون لا پسې ګړندي کړی و. خو یو څو اونۍ نورې هم داسې تېرې شوې. خو وروسته د ښوونیز مرکز په مرسته د اتم ټولګي زده کوونکي ته په کور کې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



رياضي درس ورکول پيل کړل. د دوه ساعتو په بدل کې دوه زره روپۍ ددې لپاره ډېر په زړه پورې وو. هر ماسپښين دوه بجو نه تر څلورو پورې درس ورکول لپاره تلله او عارفين عباس ته يې ويلي ول چې د خياطۍ زده کړې لپاره کوم کورس ته ځي. عارفين پرته د کوم اعتراض هغې ته اجازت ورکړی و. او حيدر هم په دې حيران و چې يو دم د دندې لټولو پر ځای خياطي زده کولو لپاره ځي. خو هغې پرې ډېر غور ونه که. هغې دا فکر کاوه چې کېدای ساره باندې هغه خبرو تاثير کړی وي.

نن ورځ رخصتي وه او يو ملګری ورسره ليدلو ته راغلی وو. ساره، عارفين سره چمن کې ناسته وه. حيدر او ملګرې يې ډوډۍ خوړلو کوټه کې ناست ول، خو د کړکۍ څخه بهر کتلو سره يې ملګرې حيران شوی و.

- دا څوک ده؟

هغه په ګوته د باندې په لور اشاره وکړه چېرته چې ساره او عارفين ناست ول، چاې څښه. حيدر په دې پوښتنې حيران شو.

- دا زما د پلار د تره د لور، لور ده. زمونږ کره اوسيږي. ته يې پيژنئ؟

حيدر ورڅخه پوښتلي ول.

- نه هيڅ نه. په اصل کې دا زما خوريي ته درس ورکوي. دلته مې ولېده نو حيران شوم. نو ځکه مې وپوښتل.

حيدر د هغې په خبره غلی شو.

- د کله نه درس ورکوي؟

هغې يو څو شېبې ځنډ وروسته پوښتلي ول.

- په دې خو خبر نه يم. اصل کې دوه درې ورځې وړاندې خور کور ته تللی وم نو هلته مې وليده، نور خبر نه يم چې د کله نه درس ورکوي.

هغې ورته هر څه په تفصيل سره ويل، خو حيدر ترينه نورې پوښتنې ونکړې. د هغې طبيعت ناڅاپه خراب شو. د هغې ملګرې يوه شيبه نور هم ناست وو، بيا لاړ. د ملګري تلو نه وروسته نيغ حويلۍ چمن ته راغی



چېرته چې ساره او عارفين تر اوسه ناست ول.

- ساره! ما تاسو ته ويلي ول کوم کار چې هم کوئ نو پلار ترينه خبروئ خو تا زما خبرې هيڅ پروا ونه لرله او پلار ته دروغ ويلو سره درس ورکولو لپاره ځئ.

هغې پرته د سلام نه نيغ په نيغه هغې سره خبرې پيل کړې وې. عارفين لکه په هيڅ چې نه وي پوه شوې، اخبار په مېز کېښود. ساره لکه ټول حواس چې يې دلاسه ورکړي وي، حيدر ته کتل. هغه هيڅ نه پوهېده چې هغه به داسې راګيرېږي او حيدر به د عارفين عباس پر وړاندې ددې رازونه راسپړي.

- څه خبره ده حيدره! ساره څه کړي دي؟

عارفين په ډېره حيرانۍ د هغې څخه پوښتلي ول.

- تاسو دې نه پوښتنه وکئ.

حيدر د هغې په لور اشاره وکړه. ساره خپل سر ښکته نيولی و.

- ولې ساره! څه شوي؟

عارفين د هغې څخه پوښتلي ول. هغه هيڅ نه پوهېده چې هغه څه ووايي. هغه غلې ناسته وه، حيدر بيا وويل.

- دا کوم چاته درس ورکولو لپاره ځي. د کوم تعليمي مرکز له خوا.

عارفين عباس د ډېرې حيرانۍ له وجې د څو شېبو لپاره هيڅ نه ويل.

- ساره! دا ولې کوئ؟ څومره پيسې چې زه درکوم، آيا هغه کافي نه دي؟ او که چېرې هغه پيسې بسنه نه کوي نو مانه نورې هم اخيستی شې خو داسې...

ساره د هغې خبره پرې کړه،

- تره! ماته تاسو نه پيسې اخيستل ښه نه ښکاري، زه غواړم هغه پيسې مصرف کړم.

هغې د خپل زړه خبره وکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



عارفین د هغې څېرې ته کتل،

- په اصل کې په دې کور کې اوسېدل او په تاسو باندې بوج جوړېدل ښه نه ښکاري. زه دلته اوسېدل هم نه غواړم.

- ولې؟

عارفین بی واکې وپوښتل.

- تره! زه نه پوهېدم. مور ما ته چېرته او د چا خوا ته لېږلې او عارفین عباس د هغې څه خپل دی. ستاسو او د هغې څه خپلوي ده، زه د هغې باره کې نه پوهېږم، خو په لږ څه چې پوه شوې یم هغه زما د خوښۍ سبب نه شي جوړېدای. زه پوهېږم تاسو په دې خبره خفه کېږئ خو ما لپاره ستاسو دواړو خپلوي د ویاړ وړ نده نو له دې کبله زما لپاره دلته اوسېدل ستونزمن دي. زه پر تاسو هیڅ حق نلرم چې له تاسو څه وغواړم یا دلته اووسم. نو ما ځکه تاسو ته ویلي ول چې تاسو زما ترور سره زما اړیکه ونیسئ، زه هغوي سره اوسېدل غواړم، خو تاسو ما ته د هغې اجازت رانکړ. نو زه اوس د دندې په لټه کې یم خو تر اوسه مې دنده نه ده ترلاسه کړې. لږ تر لږه زما خرچه خو پرې وشي. دندې ترلاسه کولو سره له دې ځایه ځم.

د هغې ورو غږ خبرو دواړه حیران کړي ول.

- ساره! ته ځانته څنګه اوسېدلای شې.

عارفین په واخطایې وپوښتل.

- تره! ډېرې انجونې ځانته اوسېږي او بیا زما د پاره خو څه خاص خبره نده ځکه د مور په شتون کې هم زه یوائې اوسېدم.

- ساره! که ته غواړې یا نه غواړې، ته به هم دلته اوسېږې. زه دې یوائې هیچېرته نه پرېږدم. سبا ستا مسولیت زما په غاړه ایښې دی، زه به تا هیڅکله داسې حالت ته پرېنږدم؟.

عارفین د پریکړې په انداز کې دا هرڅه ویلي ول.



- خو زه...

عارفین د هغې خبره پرې کړه.

- ساره! په دې مسله نورې خبرې مکوه. ته زما لور په شان یې. دا کور چې څومره د حیدر دی هغومره ستا دی. ته زما لپاره مخکې هم بوج نه وې او راتلونکې لپاره به هم نه یې. زما او د سبا خپلوۍ باره کې غلط فکر مکوه. دا سمه ده چې مونږ دواړو یو بل خوښوو او د څه شي له کبله زمونږ واده ونه شو. خو زمونږ ترمنځ یوائې دا خپلوي نه وه. مونږ ډېر ښه ملګري وو نو په دې لحاظ ستا پر ما حق دی.

- خو تاسو ولې نه غواړئ چې زه خپلې ترور خوا ته لاړه شم؟

- سبا نه غوښتل چې هاغه کور ته لاړه شې.

- هغې ولې نه غوښتل؟

- زه نه پوهېږم چې هغې ولې نه غوښتل.

- زه پوهېږم چې هغې د خپلې کورنۍ په خلاف واده کړی و. هغوی ټول هغې څخه خفه دي. او هغوي ټولو مور سره خپلوي پرېښې وه. مور به دا فکر کوي چې هغوي به اوس هم خفه وي او کېدای شي ما ځان سره ونه ساتي. خو زه فکر کوم چې د مور د مړینې سره به د هغوي غوسه هم ختمه شوې وي. لږ تر لږه هغوی سره د خبرو له لارې د هغوی خفګان ختمولای شم.

عارفین په دې خبرو حیران شوی و.

- ساره! تا ته دا هرڅه چا وویل؟

- هیچا هم نه. ما خپله معلومه کړې ده. زه ماشومه نه یم. زه اوس لویه یم په هر څه پوهېږم.

- هر څه هغس بندې لکه څنګه چې ته فکر کوې. د ډېرو خبرو نه ته ناخبره یې. د ډېرو شیانو باره کې ستا خیال غلط دی.

هغې په سترې لهجه دا هرڅه وویل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- نو بیا تاسو ماته ووایئ. ریښتیا څه دي. مور ددې شیانو باره کې ماته هیڅ نه دي ویلي، تاسو خو ویلې شئ کنه.
- ساره ! زه ستا اړیکه ستا ترور سره ونیسم خو سبا هیڅکه دا نه غوښتل چې ته هلته لاړه شې.
د هغې توقع پر خلاف عارفین د هغې خبره منلې وه. هغه له خپل ځایه په چټکۍ پاڅیدلی و.
حیدر په دې ټولو خبرو کې برخه وانه خیسته خو په خوند یې ددواړو خبرې اوریدې. عارفین تلو نه وروسته حیدر هم دننه لاړ. خو ساره تر ډېره هلته ناسته وه.

□□□

سترګو خلاصولو سره یې د تریخ درد احساس وکه. کوټه کې تیاره وه. د کوم ځای نه د چیمچارانو غږونه اوریدل کېدل. هغه په قالینه پرته وه. هغې په ورو د پاڅیدو هڅه وکړه. په ډېره مشکله په خپل ځای کېناسته او دیوال ته یې تکیه ولګوله. تېره شپه ورته د یو ډارونکي خوب په څېر ښکاریده. هغې د تېرې شپې پېښې یادولو کوښښ کاوه. د ډېر وخت ډبولو وروسته مشر تره تللی و. بیا وروسته ورو ورو برنډه کې ولاړو خلکو ځای پرېښود. د هغوی ټولو تلو نه وروسته په ډېره سخته له ځایه پاڅیده او ځان یې کور ته ورساوه.
د کور دروازه خلاصه وه. د کومې کوټې نه د مور او اقصی د ژړا او د عظیم د خبرو غږ اوریدل کېده. هغه کوټې ته راغلې وه. او بیا مور ددې په راتګ ځنګه خبره شوې وه، هغه ددې کوټې ته راروانه په لوړ غږ ویل،
- خپل ځان شرمولو وروسته بیا دلته ولې راغلې یې؟ بی حیا، ځه لاړه شه، ته زما لپاره مړه یې.



- ما ځان ندې شرمولې. تاسو ټولو په ګډه زه شرمولې یم. صبر وکه عارفین راشي. ټولو ته به معلومه شي چې دروغجن څوک دې او ریښتیا څوک وایي.
- هو، رابه شي عارفین. هرو مرو به ستا په مخ لاړې تو کولو ته راځي. تاته طلاق دپاره به راځي. سبا ! ته خو زما کور لپاره د مار نه هم زهرجنه ثابته شوې. ما ولې ته د پیدا کېدو سره ونه وژلې.
- ومو وژلم مورې ! څو ساعته وړاندې تاسو ټولو زه ووژلم. اوس راپاتې څه دي چې د هغې پیغورونه راکوئ.
- دې بې شرمې ته ګوره. اوس ځان نه بیګناه فرښته جوړوي. اوس منکریږي. که ما وس درلودې سبا ! نو د ټولو پر وړاندې مې وژلې. تا خپل ځان په دې دنیا کې خپله وشرموه. بله نړۍ کې به دې الله وشرموي. ته ګوره سبا ! څومره به نوره وشرمېږې.
- نور د هیڅ ضرورت نشته مورې ! زه چې څومره شرمېدم تاسو وشرمولم. اوس د نورو وار دی. ستاسو، ددې کورنۍ هر کس چې په ما تور لګولی.
- څومره دروغ به وایې سبا ! څومره دروغ به وایې، ټولو لیدلې، عادل سره په کوټه کې او بیا هم وایې چې ته ریښتیا وایې.
- هو ټولو لیدلې یم...ټولو لیدلې یم. بس الله نه یم لیدلې. ستاسو لیدل نه لیدل یو شان دي. د خلکو په لیدلو یا نه لیدلو زه پروا نه لرم.
هغې په لوړ غږ چغې کړې،
- مور ددې کوټې نه بو ځه...
لدې څخه وروسته د هغې کوټې ته هیڅوک رانغلل. هغه په ځان نه وه پوه شوې چې کله ویده شوه او کله سهار شوی و. کوټه کې اوس هم تیاره وه، بس اوس یوازې د عارفین انتظار و. یوازې هغه و چې ددې د ژوند پریکړه یې کولې شوه. هغه په دې ډاډه وه چې عارفین به پرې باور کوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



او هغې ته به گناهگاره نه وايي.
هغه په همدې ماښام راغلی و. مور ته يې مخکې نه معلومات و چې هغه نن راځي. او هغې ته به څه وايي هغه هر څه يې برابر کړي ول. هغې ته يې ښه راغلاست هم په ژړا کړی و او بيا د اوښکو او چغو سره يو ځای يې په هغې قيامت راښکته کړی و. عارفين په هيڅ شي باور نه راتلو، هغه بې ساه بت په خپل ځای ولاړ او د هغې خبرې يې اوريدلې. عادل د کور څخه تښتيدلی و او ټول ثبوتونه د سبا په خلاف جوړ شوي ول خو هغې يو ځل سبا څخه پوښتل غوښتل. هغې ورسره خبرې کول غوښتل. هغې د مور خبرو اوريدو وروسته د سبا کور په لور راغلی و. سبا د هغې په ليدلو په سلگو سلگو ژړلي ول. د هغې پدې حالت ليدلو د هغې زړه خرابيده. خو هغه چې د څه لپاره راغلی و د هغې اړيکه زړه سره نه وه،
- سبا ! ماته ووايه، تا څه کړي دي؟
- عارفينه ! ما هيڅ نه دي کړي. باور وکه. ما هيڅ نه دي کړي. آيا زه داسې کولای شم؟ آيا زه تاته دهوکه درکولای شم؟
- خو دا ټول چې وايي...
- ټول خلک دروغ وايي.
هغې په بې واکۍ د عارفين خبره پرې کړه.
-آيا سترگو ليدلې حال دروغ کېدلای شي.
- سترگې هيڅ نه ښکاره کوي. سترگې خو هغه څه گوري څه چې زمونږ زړه او دماغ ليدل غواړي.
- سبا ! نن دې فلسفه بنده کړه. نن په هغه ژبه خبرې وکه چې زه پرې پوهيدلای شم، په کومه ژبه چې زما باور راشي ته بې گناه يې او تا هيڅ نه دي کړي.
سبا د هغې په لهجه حيرانه شوه. هغه لس ورځې مخکينی عارفين نه و. هغه ورسره خواخوږۍ لپاره نه و راغلی. هغه د بېگناه ثابتولو ثبوت



لپاره راغلی و. هغې په مړاوې غږ ټوله کيسه واوروله. هغه بې تاثيره ښکاريده. هغه پوه شوه چې اخري لوبه يې هم وبايله.
- ته دا وايې چې دا هرڅه زما مور کړي دي، کنه؟
د سبا خبرې ختمې دو سره يې ترې پوښتلي ول. هغه غلې وه، هغه پوه شوه چې دا کومه پوښتنه نه وه.
- که ته او عادل ريښتوني يې او زما مور دروغ وايي نو عادل چېرته تللی دی؟ ولې وتښتيده؟ مخامخ ولې نه راځي. خپلې بېگناهۍ ثبوت لپاره ولې نه راځي.
هغې په لوړ غږ وويل.
هغې تر څو شيبو هيڅ نه ويل.
- نو تا هم ومنله چې زه...
عارفين د هغې خبره پرې کړه.
- ما هيڅ نه دي منلي. خو ته ماته د خپلې بې گناهۍ ثبوت راکه. ماته د دې خبرې ثبوت راکه چې دا هرڅه زما د مور د سيسه وه او ستا عادل سره هيڅ اړيکه نشته او تاسو دواړو هلته..
هغې د خبرې پای ته رسولو نه مخکې خپل سر ونيو او کېناست.
- زما سره هيڅ ثبوت نشته. د هيڅ خبرې ثبوت نشته او زه بيا هم وايم چې ما هيڅ نه دي کړي. ما هيڅ گناه نده کړې. هو الله ته معلومه ده. هغه پوه دی. هغې نه پوښتنه وکه...
هغه په دې خبره چغې کړې او پاڅيد.
- خداې نه څنگه پوښتنه وکم، زه کوم پيغمبر يم؟
- خلک وايي خدای په زړونو کې دی. ته خپل زړه نه وپوښته.
- زه زړه نه ولې وپوښتم، زه تا نه ولې پوښتنه نه کوم؟
- زه ريښتيا وايم او ته باور نه کوې. که زه دروغ ووايم ته به ډېر زر باور وکې. ته ولې نه وايې چې ته د خلکو په خبرو باور لرې. مانه يواځې

(c) ketabton.com: The Digital Library



تصدیق غواړئ.

هغې خپلې شونډې وچیچلې، هغې ته یې کتل بیا پاڅید.

- ته غواړې کنه چې الله نه پوښتنه وکم. زه به د الله نه د هرڅه پریکړه کوم. قران کریم به راوړم ستا مخې ته. په هغې لاس کېږده او ووایه چې ته بې ګناه یې، تا هیڅ نه دي کړي.

- که پریکړه په قران کریم باندې کېږي نو خپله مور هم راوله. لومړې هغې ته ووایه چې په قران کریم لاس کېږدي او ووایي چې هغې زه او عادل یې ستا کوټې ته نه وو لیږلي. هغې دا ټوله دسیسه نه ده جوړ کړې. که چېرې هغې داسې ونکړل نو هغه به هم د خپلو بچو پر وړاندې په بوټ ووهل شي لکه څنګه چې ستا پلار ماسره وکړل. ووایه راولې خپله مور؟

د عارفین سترګې د ډېر قهر نه سرې شوې.

- راولم یې. خپله مور هم راولم.

هغه دروازې پورې لاړ او هلته ودرید

- او سبا ! که ته دروغجنه ثابته شوې، نو زما د هر رنګه خپلوئ او د هر څه څخه باور ختم شي. حتې د خدای څخه هم...

هغې دا وویل او د کوټې څخه ووت.

□□□

د هغې ورځې نه وروسته په کور کې قید پاتې شوه. درس ورکول یې پرېښې ول ځکه حیدر په دې خبره نیوکه درلوده چې د ملګري خوریې ته درس ورکوي او دا د هغې لپاره د شرم خبر ده. په کوم بل ځای کې د درس ورکولو کوښښ نه وو کړې. هغه ددې په انتظار وه چې عارفین به د هغې ترورو سره خبره کوي او دې ته به څه ووایي خو لا تر اوسه هغې هیڅ نه وو ویلي. هغه ټوله ورځ به کور کې بی مقصده ګرځېده. کتاب ویلو ته یې



هم زړه نه کېده. یوه عجیبه غونډې نا ارامي یې په مغزو باندې سپره وه. بیا یوه ورځ د عارفین د ټولو مشرې خور ورته ټیلیفون وکه. هغې په دې خبره حیرانه شوې وه.

- ساره ! ما تاته ویلي ول زمونږ کره بیا راشه او ته رانغلې. ما په هغه ورځ ستا انتظار کاوه.

هغې د سلام اچولو وروسته د هغې څخه ګیله کړې وه. هغه په دې خبره خوشاله غونډې شوه.

- عمه ! ما هلته درتلل غوښتل خو ماسره د کور پته نه وه او یواځې نشم درتلای.

- د کور پیدا کولو څه مشکل دې. ته حیدر ته ووایه، هغه به دې راورسوي.

هغه یې په خبره غلې شوه.

- سمه ده، یوه ورځ به درشم.

- یوه ورځ نا ، زه به دې سبا انتظار کوم. ته هرومرو راشه.

هغه په خپله خبره ډېره ټینګه شوه. د شپې ډوډۍ پر مهال یې عارفین عباس سره خبره شریکه کړه، هغه غلې ناست و ، ډوډۍ یې خوړله او کله چې هغه پوه شو چې د هغې په خبرو یې غور ندی کړی، نو له خپل ځایه پاڅید او ویې ویل،

- سمه ده. لاړه شه، حیدر به دې ورسوي...

- خو پلاره سبا خو زه دفتر ته ځم. زه څنګه کولای شم دا ورسوم؟

حیدر او به څښل پرېښودل او دا یې وویل.

- ته دفتر تلو سره هغه هم ورسوه او بیا یې غرمه بیرته راوله همدلته به ډوډۍ وخورو.

عارفین عباس خپله پروګرام جوړ کړی و. حیدر غلی شو. ډوډۍ خوړلو وروسته هغې په تلو تلو کې وویل،

(c) ketabton.com: The Digital Library



- تاسو سبا اته نيمې بجې ځان تيار کړئ.
هغې سر وخوځاوه. هغه اته نيمې بجې لاندې راښکته شو. ساره سهار چاي څښلی و، د هغې په انتظار کې وه.
- ځو...
هغې ساره ته کتلو سره وويل.
- تاسو چاې نه څښئ؟
- نه...
حيدر لاسي ساعت ته کتلو سره وويل. هغه ورپسې شاته روانه شوه.
حيدر د دهليز دروازه پرانيسته او خپله تلو نه وړاندې يې هغې ته اشاره وکړه. ساره په ډېره حيرانۍ هغې سره خواکې تيريدو سره وروکتل. د هغې وتلو نه وروسته حيدر هم بهر ووت. ساره پام نه و، راغله او د موټر شاته سيټ سره ودريده خو حيدر ورته د مخکې سيټ دروازه پرانيسته او په لوړ غږ يې وويل.
- ما تاسو ته مخکې هم ويلي ول، چې زه ستاسو موټر چلونکی نه يم. که ما سره چېرته تلل غواړئ نو مخکې سيټ کې به کښينئ.
ساره په چټکۍ مخکې سيټ کې کېناسته. څو دقيقې وروسته موټر په پاخه سرک روان شو.
- تاسو چېرته دنده لرئ؟
- سيټي بانک کې کار کوم.
دا يوائينې پوښتنه او ځواب وو چې پنځه لس دقيقه يې سفر کې ددوي دواړو تر منځ وشو. پنځه لس دقيقې وروسته موټر د يوې زړې خو پراخه ودانۍ مخې ته ودريد.
دننه لاړه شئ، چپ لاس ته چې کوم کور دې. هلته زما دواړه ترورياني اوسيږي.
- دواړه ترورياني؟



- اصل کې دا کور زما د نيکه دی. مشره ترور څو کاله وړاندې کونډه شوې ده او د کشرې ترور طلاق شوی دی. نو د هماغه ورځې نه دواړه د خپلو ماشومانو سره همدلته اوسيږي.
حيدر وضاحت سره هر څه ووېل.
- خو زه يوائې دننه څنګه لاړه شم؟
هغه ويريدلې ښکاريده.
حيدر ورته په حيرانۍ وکتل،
- ولې يوائې تګ کې څه دي. خير زه مو دننه رسوم.
هغې د موټر دروازه پرانستلو سره ويلي ول. يو ځل بيا يې ساره ته د مخکې تلو ووېل. ساره په خوښۍ دواړه يو رنګه ودانيو ته وکتل. کور ته رسيدو سره يې نوره هم خوشاله شوه کله چې يې د عارفين مشره خور په انتظار کې ولېده.
- عارفين راته بيګا په ټيليفون ويلي ول چې سبا به حيدر سره دلته راځي. زه د هماغې وخت نه ستا انتظار کوم.
هغې په غيږ کې نيولو سره ووېل.
- زه به دوه نيمو بجو شاوخوا کې تاسو پسې راځم.
حيدر ساره ته ويلي ول.
- نه، ساره به نن نه ځي. هغه به نن همدلته پاتې کيږي. ته سبا مابنام دې پسې راشه.
مشرې ترور سمدلاسه پريکړه کړې وه.
- ولې ساره؟
حيدر ساره نه پوښتلي ول، ساره يو دوه کې حيرانه شوه.
- نه، ترور، زه دلته نه شم پاتې کېدې.
- ولې ساره! د شپې ولې نه؟ ته پوهيږې، نن به درته د سبا کور هم وښايم.
- د مور کور؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ساره باور نه راتلو.

- هو ستا د مور کور. دا خواکې خو دی.

هغې د ساره شوق نور هم زیات کړ.

- سمه ده. تاسو نن ما پسې مه راځئ. زه نن همدلته پاتې کېږم.

هغې سمدلاسه حیدر ته خپله پریکړه ویلې وه.

- ښه ترور، زه اوس ځم.

حیدر لاسي ساعت ته کتلو سره ویلي ول.

- وی دومره زر. کېنه چاې خو وڅښه.

هغې د حیدر پاتې کېدو هڅه کوله.

- نه ترور. په ما باندې د دفتر ناوخته کېږي. سبا ماښام به راشم. بیا به چای وڅښم. اوس نه.

هغې خدای پاماني واخسته او لاړ. هغې لا تر څو چای څښه چې د عارفین دویمه خور لاندې راروانه وه. هغې ورته هم په مینه ښه راغلاست وویل. د چایو څښلو نه وروسته مشرې ترور له ځان سره کړه او پاتې دوه کورونو ته یې بوتله. ساره په دې پوه شوه چې هیڅوک د هغې مور څخه خفه ول. هر چېرته د هغې د مور ذکر په ډېره مینه کېده.

- نه پوهیږم مورې! تاسو ولې داسې کور پرېښی و. دلته خو ټولو ستا تېروتنه هېره کړې ده. تاسو خو په ژوند کې یو ځل دلته راتلئ.

هغې بیا بیا همدا سوچونه کول.

- هغوي ماته دومره مینه راکوي، نو آیا مور ته به یې نه ورکوله. خو نه پوهیږم هغې ولې خپل ژوند په دې غلط سوچ کې برباد کړه.

هغه اوس په مور بدګمانه شوې وه.

د غرمې ډوډۍ نه وروسته مشرې ترور د مور کور ته بوتلې وه.

- ستا نیا او خاله امریکا تلو نه مخکې دا کور خرڅول غوښتل. نو بیا پلار هغوي منع کړل. وروسته بیا...وروسته بیا...



د خبرو منځ کې د ترور ژبه ونښته. بیا ستا نیا ددې کور په خرڅولو کلکه شوه نو بیا عارفین دا کور واخیست. نو د هماغه وخت نه بند دی. هغه دلته هیڅوک او سیدو ته نه پرېږدي او نه هم خپله دلته راځي. د هغې کلیانې ما سره دي. زه یې هره اونۍ خلاصوم او صفا کوم یې.

ترور دروازه پرانستلو سره وویل. ساره ته دننه تلو سره عجیبه غوندې احساس وشو.

- نو مور مې دلته اوسیده، هغې دا هر څه ولې پرېښې ول او یوه جونګړه کې اوسیده. آیا هغې هیڅکله د داسې اسانتیاوو فکر نه وو کړی.

هغې په دیوال لګیدلي رسامۍ باندې لاس وهلو، له ځان سره فکر کاوه او ترور دروازه پرانستله.

- دا ستا د مور کوټه ده.

هغې دروازه پرانستلو سره ویلي ول. هغه په یوه عجیبه شوق سره دننه لاړه. کوټه کې تیاره وه. ترور دننه تلو سره پردې لرې کړې. کوټه روښانه شوه. هغې څلور خوا کتل. لومړې څه چې یې ولېدل هغه د کوټې کونج کې د مطالعې یو غټ مېز او ورسره خواکې الماری د کتابونو څخه ډکې وې. هغه په چټکۍ د کتابونو په لور لاړه، کتابونو باندې یې یو نظر تیر کړ او شاته ترور څخه یې وپوښتل.

- مور مې څومره تعلیم کړی و؟

- هغه پوهنتون کې وه. انګلش کې یې ایم-ای کوه، او بیا...نو بیا یې پرېښوده.

ترور ناڅاپه خفه شوه. داسې لکه د هغې په سر چې غر راپریوتې وي.

- ایم-ای انګلیسي کې، او ټول عمر یې د کپړو کارخانه کې د دوه زرو روپو په بدل کې کار وکړ. اخر ولې؟

هغه نوره هم خفه شوه. کله به یې خپله مور فرانسوي ژبه خبرو کولو کې لیده نو فکر یې کاوه چې کېدای شي د کوم خپلوان څخه یې زده کړې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وي. هغه پوهيده چې مور يې تعليم يافته ده خو د پوهنتون تر حده ، دا يې سوچ هم نه وو کړې. الماري د رنګارنګ کتابونو ډکه وه. د شکسپير ناولونو نه تر رحمان بابا ديوانونو پورې، د ادبياتو اړوند هر رنګه کتاب دلته موجود وو. هغې په خفګان دې کتابونو ته کتل.

- مور پوهنتون ولې پرېښود ؟

هغې يو ځل بيا شاته ترور څخه وپوښتل. هغې هاخوا ديخوا وکتل.

- نه پوهيږم.

هغې د خپلې پوښتنې ځواب موندلې وو.

- هلته هغې زما پلار سره ولېدل او بيا يې هر څه پرېښودل.

هغې ځان سره سوچ کاوه. هغه د مطالعې مېز سره کېناسته. په خپل لاس يې د مطالعې مېز ګردونه پاک کړل. بيا يې د هغې روکونه پرانستل پيل کړل. هغه بند نه وو ، پکې د خطونو بنډل پروت وو.

- ترور ! که تاسو تلل غواړئ نو تللې شئ ، زه لږه شيبه دلته پاتې کېدل غواړم.

- ته دلته ځانته نه ډارېږئ؟

هغې ورڅخه وپوښتل.

- د کومې خبرې وېره؟

هغې په حيرانۍ وپښتل. د ترور رنګ زيږ وتښتيد.

- هو ، د کومې خبرې وېره.

هغه له ځان سره بوړنيده له کوټې ووته. ساره يې په حالت هيڅ پوه نشوه ، هغې پسې شاته کتل.

يو ځل بيا د خطونو په لور راغله. ډېر خطونه په فرانسوي ژبه ليکل شوي ول، هغه د ليکونکي په نوم ليدلو حيرانه شوه. هغه خطونه عارفين عباس ليکلي ول. مور فرانسوي ژبه د چا څخه زده کړې وه، ددې پوښتنې ځواب يې تر لاسه که خو ددې باور نه راتلو چې د هغوي دواړو



تر منځ تر دې حده اړيکه وه. هغې يو خط راواخيست او لوستل يې پيل کړل.

کاغذ ډېر زوړ شوي وو ، بعض ځايونو ليکل هم وران شوي وو. وار په وار يې ټول خطونه لوستل پيل کړل.د يو خط په لوستلو لکه بت بې ساه شوه.

- تا چې په خپل تير خط کې څه ليکلي دي، بيخي سم دي. زه هم نه غواړم چې زمونږ واده دې په ډنګ ډونګ وشي، زه نه پوهيږم چې دلته دا خلک يوې ذاتي معاملې نه ولې دومره غټه ننداره جوړوي. خو بيا هم ته خفه کېږه مه. ډسمبر مباشت کې چې کله کور ته راشم نو کور واله به مجبور کړم چې د نکريزو په څېر رواجونو باندې وخت نه ضايع کوي. زه هم پوهيږم چې ته به هم خپله کورنۍ په دې خبره راضي کړې.

- يا خدايه ! دا ټول څه دي؟

هغه خپل سر لاسونو کې ونيو.

- آيا عارفين کاکا سره د مور نکاح هم شوې وه ، نو بيا زما پلار د کومې خوا نه منځ ته راغی؟

هغې د خط ليکلو تاريخ ليدل غوښتل. دا خط ددې د پيدا ايښت نه يوه نيم کال مخکې ليکل شوی و.

- ايا مور مې د نکاح کولو سره سره عارفين تره ته دوکه ورکړه؟

هغه هيڅ نه پوهيده. ناڅاپه يې په زړه کې تېر شول. هغې دواړه خطونه خپل دستکول کې واچول. اوس د شک کولو هيڅ ضرورت نشته. يو څه کارډونه عارفين عباس دي ته د نکاح مبارکۍ لپاره ليکلي ول. هغې هغه کارډونه هم دستکول کې واچول. له مور څخه يې شېبه په شېبه زړه بديده. هغې نور خطونه او کارډونه بيرته خپل ځاى کې کېښودل او بهر راووته. ترور هلته نه وه. کېداى شي هغه خپل کور ته تللي وي.هغې د کور بهرنۍ دروازه په ورو بنده کړه او د ترور د کور په لور روانه شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



تر مابښامه په نا زړه ترور سره ناسته او د هغې خبرې اوریدې. پنځه بجې د توقع خلاف حیدر راغی. د هغې طبیعت خراب معلومېده.

- پلار خفه وو، ویل یې ساره بیرته کور ته راوله؟

هغې راتلو سره ترور ته ویلي ول.

- خو هغه د شپې لپاره پاتې کېږي.

- تاسو خو د شپې خبره کوئ او هغه ماته په دې غوسه و چې د هغې وینا مطابق باید غرمه ډوډۍ یې کورته رسولې وه.

- ته ورته ووایه چې ساره خپله غوښتل هلته پاتې شي.

- تروري! تاسو ته خو د پلار د غوسې معلومات شته. کله چې هغه په غوسه شي نو د هیچا خبره نه مني. هغې خو زه دومره ورټلم. هغه ویل تاته چا ویلي چې هغه د شپې لپاره هلته پریږده. ماته دا حق چا راکړی دی. ما ورته دا هم وویل چې هغې محترمې خپله غوښتل هلته پاتې شي خو هغې هیڅ نه اوریدل. اوس مهرباني وکړئ، آغلې ساره! تاسو راځئ.

هغې د زاریو په لهجه دا هر څه ویل. ساره وشرمېده او په خپل ځای ودریده.

- ته ځه راځه. اوس خو درته هسې هم کور معلوم شو.

ترور ورته وویل. هغه په نه زړه حیدر سره روانه شوه. د حیدر طبیعت ډېر خراب و. هغه کور ته رسیدو سره بره لاړ او بیا ډوډۍ خوړلو ته هم رانښکته نه شو.

عارفین عباس ورته هیڅ ونه ویل خو هغه یې د انداز څخه پوه شوه چې هغه ترینه ډېر خفه دی. په ډېر بې زړه توب یې هغې سره ډوډۍ خوړلې وه او خپلې کوټې ته تللې وه. کوټې ته راتلو سره یې هغه خط او کارډ راوباسه او یو ځل بیا یې لوستل پیل کړل.

□□□



سبا په دې باوري وه چې هغه تره ښځه به هیڅکله په دروغو په قران کریم لاس نه ږدي. عارفین خپل مور او پلار راوستل. نورې تره ښځې یې هم راغلې وې. د سبا کوټې ته تراوسه دومره خلک نه وو راغلي. هغه پاڅیده او اودس یې وکړ.لومړې یې د اوښکو په اوبو اودس کړې وو. بیا یې مخ او سترګې پاکې کړې او کوټې ته راننوته. کوټه کې چوپتیا وه، لکه ټولو چې هیڅکله خبرې نه وي کړي. د هغې په عارفین زړه بدیده.

- که مور یې په قران کریم لاس کې نه ږدي نو د هغې به څه حال وي. هغه به څه کوي؟

هغې عارفین ته په کتلو سوچ کاوه او بیا د هغې مور مخ لیدل غوښتل. هغې سر ښکته نیولې غلې ناسته وه. عارفین اقصی ته د قران پاک راوړلو ویلي ول. سبا خپلې مور ته وکتل، د هغې سترګې اوښکو څخه ډکې له ځان سره پټ پټ څه ویل. اقصی قران پاک راوړی و. عارفین قران پاک واخست. هغه د خپلې مور خواته راغی.

- مورې! تاسو په قران کریم لاس کېږدئ او دا ووایې چې تاسو د سبا او عادل پر ضد کومه دسیسه نه وه جوړه کړې او هغوي دواړه مو زما کوټې ته نه وو استولي.

عارفین قران کریم د خپلې مور په لور ونیو او دا ویې ویلي ول. د سبا زړه درزا پسې زیاته شوه، د هغې ساه ګانې بندې شوې. تره ښځې قران کریم لاس کې نیوه. هغه څه چې عارفین ویلي ول څو ځله یې تکرار کړل،

- الله...

سبا داسې حس کړل لکه څوک چې یې زړه په چړو وهي. هغه په دې باوري وه چې هغه به هیڅکله قران کریم لاس کې دروغ ونه وایي. د هغې باور غلط ثابت شو. په هغې یې باور نه و په قران کریم یې باور و.

- څوک داسې څنګه کولی شي چې قران لاس کې ونیسي او دروغ ووایي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغې ځان سره سوچ کوو.
- او اوس که زه هم په قران کریم لاس کېږدم نو د کوټې ټول خلک به فکر کوي چې یو پکې دروغجن دی او هغې په دروغه په قران کریم لاس کېښود.
عارفین مور څخه قران کریم واخیست. هغه اوس ددې په لور راغی. د ټولو سترګې اوس ددې په لور وې. هغې ساه نه شوه اخیستې، هغه ددې په لور راروان و.
سبا مشر تره ښځې ته وکتل، د هغې په څېره کې نه کوم خجالت، نه کوم درد، نه کوم شرم، د هغې په څیره کې هیڅ نه ول. هغې د خپلې مور څېرې ته وکتل. هلته هم نا ارامي وه، اوښکې وې، هیله وه. اقصې دروازې ته تکیه وهلې ولاړه وه. عارفین ددې په لور راغی.
- سبا! ته دا ووایه چې ته بې ګناه یې. او عادل سره هلته په خپله خوښه نه وې تللې.
هغې قران کریم ددې په لور ونیو. هغې د عارفین څېرې ته وکتل. هغې ورته هم سترګو کې کتل. عارفین سترګې بل لور ته کړې.
- دا واخله، قران پاک.
هغې ورته ویلي ول. سبا سر ښکته کړ، هغې قران کریم لاس کې ونه نیو.
د عارفین ساه بنده شوه.
- سبا! دا ونیسه، قران پاک.
هغې یو ځل بیا په بې کرارۍ وپوښتل. سبا نه سر پورته کړ او نا یې قران کریم واخیست.
- سبا!
د مور د خولې څخه یې یو غږ پورته شو. اقصی په سلګو سلګو ژړل. د عارفین مور سر جګ نیولې ولاړه وه. عارفین سترې قدمونه په شا راغی، هغې قران پاک د مطالعې په مېز کېښود. د سبا مور او اقصې په



ژړا ژړا له کوټې ووتل. دواړه تره ښځې هم د کوټې لاړې. سبا سر پورته کړ.
- عارفینه! زه تا نه د هیڅ شي غوښتنه نه لرم او نه به یې راتلونکې کې ولرم. بس ما ته خپل نوم راکه، ما ته طلاق مه راکوه. ته دوهم واده هم وکه زه هیڅ نیوکه نه لرم.
- تا ته د نوم څه ضرورت دی؟
هغې په لوړ غږ وویل.
- عارفینه! په ما رحم وکه.
- تا په ما رحم کړی دی؟ ووایه ستا په ما زړه سوځېدلی دی؟ نو بیا زه څنګه رحم کولای شم. سبا کریم! زه عارفین عباس په خپل هوښ او حواس تا ته درې ځله طلاق درکوم.
هغه د کوټې څخه ووت. تره ښځه او تره یې هم د کوټې څخه ووتل. هغه په خپل ځای لکه بت ناسته وه.
- سبا کریم! زه عارفین عباس په خپل هوښ او حواس تا ته درې ځله طلاق درکوم.
همدغه جمله یې یو ځل بیا تر غوږو تېره شوه. هغه د خپل ځایه پاڅېده او مطالعې مېز سره کېناسته. په ډېر احتیاط یې قران پاک را واخیست.
- یو څوک نه یو څوک خو به د قران کریم اسره له ځان سره لري نو که خلک ما پرېږدي نو په دې زما واک نشته.
هغې قران کریم خپلې سینې سره نیولې په سلګو سلګو ژړل.

□□□

- کاکا! تاسو ته مې یوه خبره کوله.
د هماغې شپې په سهار یې عارفین عباس څخه پوښتلې ول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



-آیا داسې نه شي کېدای چې زه د خپل مور کور کې اوو سیږم. هغه کور خالي دی نوکه تاسو ته هم څه اعتراض نه وي چې زه یو اځې اوسیږم ځکه هلته به راسره دواړه تروریانې او نور خلک وي.

عارفین په دې خبره حیران شو.

- ساره ! دا ته څنګه خبرې کوې. که ته د هغه ځآی نه راغلې یې نو ددې دا مطلب نه دی چې ته دې هلته اوو سیږې. آخر ته په دې کور کې څه ستونزه لرې؟ ته ولې دلته خوشاله نه یې؟

هغې چاې څښل پریښي ول.

- خبره د خوښۍ یا نه خوښۍ ده نو ځکه د خپلې مور کور کې خوشاله یم. او بیا هغه هم ستاسو کور دی. زه به ستاسو په کور کې اوسیږم، دلته یا هلته.

- خو زه نه غواړم ته هلته اوو سیږې، او نه به هم درته ددې خبرې اجازت درکړم. که سبا ژوندئ وه نو هیڅکله به یې هغه کور ته نه وې پریښې.

هغه په دې خبره رانیغه شوه.

- ولې اخر، هغې ولې زه هلته نه پرېښودم. داسې کومه څه خبره ده هلته. هغې کوم داسې کار کړی دی چې هغه خپل کور ته نه شي تللی. حالانکه هغې ته تلل پکار ول. هغې باید لیدلي ول چې ټولو د هغې غلطي بخښلې ده. د کورنۍ پر ضد واده صحي خو دا دومره غټ جرم ندی چې هغه د تل لپاره د خپلې کورنۍ څخه لرې اوو سیده. هغې زه هم ټول عمر یو اځېتوب په اور وسیځلم خو اوس د ټولو سره لیدل غواړم، د ټولو خواته تلل غواړم.

هغه په لومړي ځل خپلو احساساتو څخه بهر ووته. حیدر پرې هم زړه وسوځېد.

- پلاره ! زما په فکر که چېرې دا د خپل مور په کور کې اوسیدل غواړي نو دا کومه غلطه خبره نده، زه خو وایم چې ددې ځای څخه ورته هغه ځای



سم دی.

هغې د ساره لپاره خبره وکړه خو عارفین په ډېره بده لهجه هغه ورته،

- ته خپله خوله بنده که، ستا په دې خبرو کې هیڅ کار نشته.

حیدر هیڅ فکر نه کاوه چې هغه به د ساره په وړاندې داسې رټل کېږي. د هغه مخ سور شو او چای یې نیمایې کې پرېښود، لاړ.

- تاسو ماته ووایې، تاسو څه پریکړه کړې ده؟

ساره لا تر اوسه په خپله خبره ولاړه وه.

- ساره ! سبا به په دومره وړو وړو خبرو دومره ضد نه کاوه څنګه چې ته کوې.

هغې په عجیبه انداز عارفین ته وکتل

- خو زه به ډېر داسې کارونه ونکړم چې هغې کړي دي.

- نه ساره ! زه به دې هیڅکله هغه کور کې اوسیدو ته پرینږدم.

هغې خپله پریکړه واوروله.

- سمه ده. نو تاسو زما نیکه سره خبره وکئ. زه هغوي سره اوسیدل غواړم.

عارفین په بې وسۍ د هغې مخ ته وکتل، په لومړي ځل یې په داسې ضد کولو لیدله.

- سمه ده، زه به دې نیکه سره خبره وکم.

- تاسو ماته ووایې، چې کله به خبره کوئ؟

- څو ورځو کې.

هغې په نه زړه دا وویل او پاڅید.

درې ورځې وروسته یې هغه خپلې کوټې ته وغوښته.

- ما ستا خاله سره خبره کړېده. لږه شیبه وروسته به ټیلیفون وکړي، ته ورسره وغږیږه.

د هغې په لیدو یې ورته ویل. د هغې زړه درزا زیاته شوه. لږه شیبه کې د

ټیلیفون زنګ راغی. عارفین غوږي پورته کړ او بیا یې هغې ته اشاره وکړه. هغې په رپېدلي لاسونو غوږي ونیو.
- السلام علیکم ساره !
- السلام علیکم.
هغې دا وویل او د هغې لوري د ژړا غږونه راتلل.
- زه ستا اقصی خاله یم. ته څنګه یې؟
هغې ښځې په ژړا دا هرڅه ویل، د ساره زړه هم ډک شو.
- زه ښه یم.
- ساره ! زما زړه غواړي، ته زما سره خواکې وې او ما غېږ کې نیولې خپله مینه درکړې وای...
بیا ترې چا غوږي واخیست او هغې ته یې ډاډ ورکاوه. بیا د هغې لورې د یو سړي غږ راغی.
- ساره ! زه ستا ماما یم. ګوره ته خفه کېږه مه، ته هیڅ فکر مه کوه. څو ورځو کې به ستا اقصی خاله هلته ته درشي. ستا اسناد به برابر کړي او دلته امریکا ته به دې راولي.
هیچا د هغې مور باره کې څه ونه ویل او نا هم د هغې کومې غلطۍ یادونه وشوه. کېدای شي هغوی هرڅه هیر کړي وي. د څو شیبو لپاره یې ورسره خبرې وکړې او بیا یې خدای پاماني واخیسته. اقصی خاله اوس هم ژړل.
- څو ورځې وروسته اقصی خاله راځي او ما ځان سره بوځي.
هغې ټیلیفون ایښودو سره وویل. د هغې مخ خولې خولې شو.
- ساره ! ته به لاړه شې؟
هغې ورڅخه په بې کرارۍ وپوښتل.
- کاکا ! زه دلته نه شم اوسېدلې. زه د خپلې کورنۍ خواته تلل غواړم. هغوي ټول زما خپل دي. ماته د هغوی ضرورت دی.



هغې په ورو غږ وویل.
- ته پوهیږې، سبا غوښتل ته ما سره اوو سیږې.
- زه پوهیږم، خو مور به دا فکر نه کاوه چې د هغې کورنۍ به ما ومني. هغوی د مور ټولې غلطیانې...
- ساره ! دومره زر پایله مه سنجوه. ته چې څه فکر کوې هغه هر څه غلط دي.
عارفین عباس د هغې خبره پرې کړه.
- نو بیا تاسو ماته ووایې، ریښتیا څه دي؟
هغې ورڅخه وپوښتل. هغه په بې کرارۍ له خپل ځایه پاڅید. ساره ورباندې زړه وسوځېد.
- زه پوهیږم. تاسو څه پټول غواړئ. زه په دې هم پوهیږم چې ستاسو زړه څومره غټ دی. خو زه د تل لپاره تاسو سره نه شم اوسیدلای. که زه لاړه شم نو تاسو به ورو ورو خپل عادي حالت ته راشئ. نور ژوند به ما او ستاسو لپاره اسانه وي. که زه دلته اوو سیږم نه به تاسو ماضي هیر کړئ او نه به زه خپل حیثیت. په ما ډېر ګران یاست، عارفین کاکا ! نو ځکه مو د هر رنګه ذمه وارۍ څخه خلاصول غواړم چې په آینده کې تاسو او حیدر او د هغې مېرمن او ماشومانو په سترګو کې خجالت نه کړي.
ساره له ځان سره سوچ کړې وو او بیا په ډکو سترګو د کوټې څخه تللې وه.

□□□

عادل له هغې وروسته بیا رانغې. مور او پلار ورپسې هر ځای ولټوو خو د هغې درک ونه لګیده. د سرمد واده هم ډېر سور تېر شوی وو. د سرمد واده په دویمه ورځ مشرې کانې د سبا مور د هغې لپاره یو کور پیدا کړی

(c) ketabton.com: The Digital Library



و. د هغې مور هم څه اعتراض نه و کړی.
- د هغې سړي عمر د پنځه څلویښتو پنځوسو په شاوخوا کې دی. د هغې لومړۍ میرمن یوه میاشت وړاندې مړه شویده. هغه شپږ اولادونه لري. یوه کارخانه کې مزدوري کوي، زه پوهیږم دا کوم ښه ځای ندی خو څه چې ستا لور کړي دي، د هغې منلو ته هیڅوک تیار ندي. هغه سړي ته مو د سبا باره کې هر څه ویلي دي. ته پوهیږې چې زه څوک په دهوکه کې نه شم ساتلی. هغه سړی اوس هم ستا لور منلو ته تیار شو. ته دعا کوه چې ستا لور هغه کور کې پاتې شي.
دا هر څه مشر تره د سبا مور ته ویلي ول. هغې مخ پټ کړی، په سلګو سلګو ژړل.
په دریمه ورځ مشر تره هغه سړی، ملا او ګواهان راوستل. سبا نه چغې وهلې او نه یې هم د نه منلو ویل. د توپان نه وروسته چپتیا په څېر یې هر څه منلي ول. او بیا یې د واده جوړه چې مور یې ورته کوټه کې پرېښې وه، واغوسته.
مور ورته دا هم ویلي ول،
- دې کور کې دې نن اخري ورځ ده، له دې ځای نه چې څه اخلې له ځان سره واخله. بیا دلته مه راځه، ته زمونږ لپاره مړه شوې یې او مونږ ستا لپاره.
- زه په ریښتیا نن مړه شوې یم او مړي له ځان سره هیڅ نه وړي. د هغې شیان د خیرات لپاره ورکول کېږي. تاسو زما هرڅه د الله په نوم خیرات کړئ لکه څنګه چې تاسو زه خیرات کړې یم.
هغې په هماغه ورو غږ مور ته ویلي ول او په ریښتیا یې هم هیڅ وانه خیستل، پرته پر تن کالو څخه. هغې د کوټې هر څه همدا سې پرېښودل.
عارفین د هغې واده څخه خبر شوی و خو هیڅ یې نه وو ویلي.
- ته هیڅ فکر مه کوه عارفینه! ته ګوره زه ستا لپاره څنګه ښاپیرۍ پیدا



کوم.
مور یې ورته د ډاډګیرنې لپاره ویلي ول.
- نه مورې! اوس ما لپاره د ښاپیرۍ ضرورت نشته، تاسو هیڅ مه کوئ.
- څه، ته به اوس دویم واده نه کوې؟
- ما کله ویلي دي چې زه واده نه کوم. زه به واده خاماخا کوم خو په خپله خوښه. تاسو د دې باره کې هیڅ فکر مه کوئ.
هغې خپلې مور ته ویلي ول.
- څه! اوس دې د خوښې واده پیرۍ له سره نه دی ښکته شوي. ودې لیدل چې دداسې خوښو پایله کنه.
مور یې د پوهولو کوښښ کاوه خو هغه غلی و. هغې نه غوښتل چې د دې موضوع باره کې وغږیږي. هغه پوهیده چې هغې سره داسې کوم دلیل نشته چې هغه پرې بحث وکړي.
څو ورځې وروسته فرانسې ته لاړ. دوه میاشتې وروسته یې مور ته د واده عکسونه او وروسره د واده خبر رالیږلي وو. ټوله کورنۍ حیرانه شوې وه. د هغوی په کورنۍ کې په لومړي ځل چا د بهر څخه ښځه کړې وه. ټریسي هغې سره په بانک کې کار کاوه. هغې د څو ځله لیدلو وروسته د واده بلنه ورکړې وه. ټریسي د هغې بلنه ډېر زر منلې وه. د واده څخه وړاندې یې اسلام دین قبول کړی و او عارفین د هغې نوم اسماء ایښې وو. هغې اسماء ته د سبا باره کې هر څه ویلي ول. آسماء ښه میرمن ثابته شوې وه. عارفین د خپل انتخاب نه پښیمانه نه و. حیدر هم فرانسه کې پیدا ش ی و او د حیدر پیدا ایښت نه وروسته آسماء دنده پرېښې وه.
د عارفین د واده وروسته دویم غم یې د مور لپاره دا وو چې یوه میاشت وروسته د عارفین د ټولو مشره خور د څلورو اولادونو سره کونډه شوې وه او هغوی هم ددوي په اوږو بار شوي ول.
مور څخه هر څه خطا شوي ول. اوس ورته ډېر څه یادېدل. د هغې د شپې

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوبونه ورک شوي ول. هغه به ټوله شپه ناسته او سوچونه به یې کول.
د مشري لور د کونډتوب نه څلور میاشتې وروسته یې د دویمه لور طلاقه شوې وه، زوم یې د کومې شته من لور سره واده کړی و او د هغې په وینا یې لومړۍ میرمن ته طلاق ورکړی و.
خپله ملا یې هم ماته شوې وه. د هغې غوسه ځای پر ځای ختمه شوې وه. او اوس یې ټوله ورځ په عبادتونو کې تېروله. هغې څه ویل خو څوک پرې نه پوهیدل، خو یواځې الله پوهیده.
د سبا واده نه څو میاشتې وروسته د هغې خور، مور او ورور امریکا ته تللي ول ځکه هغوي ته دلته اوسیدل او د شرم نه ټیټ سر اوسیدل ستونزمن ول. سبا مور باید د اقصی واده هم کړی و خو د هغې لپاره دلته خپلوي کول اوس ناشونې ول. د سبا پلار هغوي ټول خپل ځان خواته راغوښتي ول.

□□□

- پلاره ! تاسو ډاکټر ته تللي وئ؟
حیدر د شپې کورته راتګ سره د پلار نه پوښتلي ول. د څو ورځو راهیسې د عارفین طبیعت خراب و.
- هو. زه ډاکټر خواته تللی وم، بس وینې فشار مې لوړ شوی و. نور څه نه ول.
حیدر ته هغه ستړی معلومیده. هغه ورسره خواکې په صوفه کیناست.
- پلاره ! که ساره خپلې کورنۍ خواته لاړه شي، نو په دې کې د خفګان څه خاص خبره خو نشته. هغه که نن نه سبا به له دې ځای څخه ځي. او څنګه چې د هغې خاله یا ماما د هغې پاملرنه کولای شي، زه یا تاسو نشو کولای. نو په دومره وړه خبر تاسو ولې دومره خفګان کوئ؟



هغه یې فشار لوړېدو په وجه پوی و. هغه پوهیده چې د ساره د تلو باره کې خفه دی. عارفین اخبار پر میز کېښود.
- حیدره ! هغوی به ساره زما سره بیا لیدلو ته پرېنږدي.
هغوی په اول ځل دا راته ویلي ول.
- ولې به یې نه پرېږدي؟
هغه حیران شو.
- زه پوهیږم، چې هغوي به هیڅکله د امریکا نه زما خواته راپرېنږدي. اول سبا تللې وه او اوس به ساره ځي. زه به ټول عمر د ضمیر په اور سوځم.
عارفین لکه ځان سره لګیا وي.
- پلاره ! دا تاسو څه وایې؟
هغه یې په خبره پوه نه شو ،
- هیڅ نه.
هغې یوه اوږده ساه اخستو نه وروسته خپل مخ په دواړو لاسونو کې پټ کړ.
- پلاره ! که ساره زمونږ سره بیا نه ګوري نو څه وشول. هغه خو مونږ سره د درې میاشتو نه اوسیږي، مونږ دواړه خو د اول نه یواځې اوسېږو. اوس به هم اوسېږو. په دې کې څه ستونزه ده.
- مخکې خبره بل رنګه حیدره ! اوس د هغې تګ سره مې زړه ډېر خفه دی. زه د هغې د وجود نه پرته ددې کور تصور هم نه شم کولای، هغه د تل لپاره دلته لیدل غواړم.
هغه ډېر بې کراره وو.
- پلاره ! تاسو هغه هیڅکله د تل لپاره نه شئ ساتلی. که تاسو په څه نه څه طریقه هغه دلته ایساره کړئ نو بیا هم یوه نه یوه ورځ خو به د هغې واده کوئ کنه، بیا به تاسو څه کوئ. زه ستاسو او د سبا باره کې دومره

(c) ketabton.com: The Digital Library



خبر نه یم خو څه چې تاسو ماته ویلي دي د هغې نه زه دومره ویلې شم چې تاسو تېر هېر کړئ. سبا مړه شوې ده او ساره دلته اوسیدل نه غواړي. مونږ باید د هغې د غوښتنو احترام وکړو.

- حیدره ! سبا هغه زما په حوالې...

- هو ، هغې ستاسو په حوالې کړې وه خو هغې دا هیر کړي ول چې ساره اوس وړه انجلۍ نده چې د یو سرپرست ضرورت ولري. هغه پیغله ده. د خپل ځان باره کې د پریکړې حق لري او مونږ یې نه شو منع کولای.

عارفین ناځاپه د هغې لاس ونیو ،

- حیدره ! داسې نه شي کېدای چې ته هغې سره واده وکړې؟

هغې په ډېره عاجزانه لهجه دا ویلي ول.

- پلاره ! دا تاسو څه وایې؟

- هو حیدره ! ته هغې سره واده وکړه. بیا خو دلته اوسیدلی شي کنه.

- پلاره ! زه هغې سره واده نه شم کولای.

- ولې؟ آیا ستا کومه بله انجلۍ خوښه ده؟

عارفین په بې کرارۍ وپوښتل.

- نه پلاره ! تاسو پوهیږئ زما عشق یوازې زما مسلک دی. ما تاسو ته وړاندې هم ویلي ول او اوس هم وایم چې زه به ستاسو په خوښه واده کوم، خو زه اوس واده کول نه غواړم. زه خپل راتلونکی جوړول غواړم، په دې وخت کې واده کولو سره زه خپل راتلونکې نه شم بربادولی.

- نه به ستا راتلونکې بربادیږي او نه ستا مسلک. ساره سره واده کول به تاته هیڅ رنګه تاوان نه شي رسولې زما هر څه خو ستا دي. ته د څه فکر کوې. زه یم کنه، تاسو دواړو سره کومک کولو لپاره.

- پلاره ! واده خو یوازې زما په خوښه نه شي کېدی. د ساره خوښه هم اړینه ده. که زه د واده لپاره راضي هم شم نو آیا هغه به دا ومني؟

حیدر په یو دوه کې حیران شو.



- ته د ساره فکر مکوه. زه به ورسره خبره وکم. ته دوایه چې ته خو پکې څه اعتراض نلرې؟

حیدر یوه اوږده ساه واخیسته.

- پلاره ! زه اوس واده نشم کولای، واده به درې څلور کاله وروسته کوم، که تاسو کوژدن کوئ نو وکئ، زه کومه نیوکه نلرم.

د عارفین زړه ښه شو ،

- ډېره مننه حیدره ! ته ګوره چې ساره به یوه ښه مېرمن ثابتېږي.

په دې خبره حیدر نرۍ موسکا وکړه.

□□□

- یو څوک سبا راوغواړئ. خدای لپاره څوک سبا راولئ. زه به د هغې پر وړاندې د هغې څخه بخښنه وغواړم، تر څو په اسانه مړه شم، عارفینه ! همدا ته لاړ شه. ته یې راوله. ته ورته ووایه، راشي ما ووهي. هغې ته ووایه زما په مخ لاړې تو کړي. ماته دې سپورې ستغې ووایي، خو یو ځل دې راشي. ما د دې عذاب څخه خلاصه کړي. هغې ته ووایه د خدای لپاره ما وبخښي. یو ځلې دې ووایي چې ما بخښلې یې. عارفینه ! یو ځلې هغه راوله. خدای لپاره یو ځلې...

مشرې تره ښځې د تکلیف له وجې خپلې خبرې سر ته ونه رسولې. هغه د کوټې څخه بهر راووته. د برنډې په زینو کې کېناسته او خپل سر یې دواړو لاسونو کې ونیو.

- عارفینه ! ته سبا پسې لاړ شه. هغه د هیچا په خوله نه راځي. هغه دروازه بندوي. که هغه رانغله نو ستا مور به په همدې غملړلې دنیا کې پاتې وي. ستا مور نوره نه شي جوړېدی. غوره ده چې مړه شي، د دې عذاب څخه خو به خلاص شي. که سبا رانشي نو په همدې عذاب کې به یمه. ته لاړ

شه، ستا...ستا په خوله به راشي...
هغې سر راپورته کړ، حویلۍ کې چپتیا وه. یو ځل بیا د بهر څخه د مور زګیروو اوازونه تر غوږ شول. هغه یوه ورځ مخکې درې کاله وروسته کورته راغلی و. پلار ورته د مور ناروغۍ باره کې ویلي ول او دا یې هم ویلي ول چې ډاکټرانو ویل چې د هغې سرطان اخري حد ته رسیدلی او اوس یې د رغیدو امکان نشته. هغه د تېرو دوه کالو راهیسې ناروغه وه. هغه د دې څخه خبر وو خو خپله د راتګ پر ځای به یې پیسې رالیږلې تر څو د هغې علاج پرې وکړي، خو دا ځل یې راتلل اړین ول. هغې آسماء او حیدر هم له ځان سره راوستي ول تر څو مور یې د مړینې څخه مخکې وګوري. خو دلته د هغې لپاره د حیرانۍ خبرې پرتې وې.
درې میاشتې وړاندې یې مور د دې خبرې اقرار کړی و، چې هغې په قران کریم په دروغه لاس ایښی و او د سبا لپاره یې دا دسیسه جوړه کړې وه.
عادل درې کاله وړاندې کورته راغلی و، درې کاله د مجرمانو په څېر د کور څخه بهر تېرولو نه وروسته تر ټولو نه مشر تره ښځې د عادل او د هغې مور او پلار څخه بخښنه غوښتې وه. کېدای شي هغې مشرتره ښځه نه وه بخښلې خو د ډېرې ناروغۍ له وجې یې پرې زړه وسوځېد او معاف کړې یې وه. او بیا د سبا په لټه کې شوي ول. بیا مشر تره د دې څخه خبر شو چې خاوند یې دا خبره نه منله چې د سبا لور یې خپله لور ده او هغې د ساره د پیدا ایښت نه شپږ میاشتې وړاندې سبا ته طلاق ورکړی و.
- زه درته د سبا باره کې دا هر څه ځکه وایم چې سبا ورځ ونه وایې چې مونږ تا ته دهوکه درکړې ده.
مشر تره ته هغه خبره وریاده شوه کومه چې یې د سبا واده څخه وړاندې د هغې خاوند ته کړې وه. هغې په خپل لاسونو د هغې ژوند برباد کړی و.
- که یو تور زما مېرمن لګولې نو د دویم ذمه وار زه یم.
هغې له ځان سره ویل.



څو اونۍ لټون څخه وروسته یې د سبا ځای معلوم کړی و. هغې د کومې ډاکټرې کور کې کار کاوه خو سبا د هغوي د لیدلو څخه انکار کړی و. بیا هغې سیمې ته تللي ول کوم ځای کې چې هغه اوسېده، خو هغې د دوی اواز پیژندلو سره دوی ته دروازه نه وه پرانیستې. هغې تر ډېره دروازه ټکوله او غږونه یې کول خو د هغې لورې هیڅ غږ نه اوریدل کېده. هغه ستړې شوي د هاغه ځایه تللي وو. هغې دا سلوک یوا ځې دې سره نه و کړی بلکې هر هغه څوک چې ورغلي ول همدا یې ورسره کړي ول.
عارفین په دې خبرېدو تر ډېره ړډې سترګې ولاړ و،
- زه بې ګناه یم. ما هیڅ ګناه نده کړې، خو ما سره هیڅ ثبوت نشته.
- زه ریښتیا وایم. ته په ما باور نلرې. زه که دروغ ووایم ته به باور وکړې. تا د مخکې د نورو په خبرو باور کړی دی. ما نه خو یوا ځې تصدیق غواړې.
- الله په زړونو کې اوسیږي، ته د خپل زړه نه وپوښته چې زه بیګناه یم که نه.
- عارفینه! ما ته خپل نوم راکه، ما ته طلاق مه راکوه. که ته دویم واده هم کوې، وکړه زه کومه نیوکه نلرم.
د اوازونو یو کړنګار وو چې د هغې په مغزو کې تیریده. هغې په کټ کې پرته مور د ټولو پر وړاندې ملامته کولای هم نه شوه او د سبا سره لیدل هم ول.
- عارفینه! ته به لاړ شې کنه؟
هغې د پلار غږ واورید. هغې په بې وسۍ خپلې شونډې وچېچلې.
- حیدر سره واده!
هغه د عارفین په خبره حیرانه شوه.
- هغه تا سره واده کول غواړي.
عارفین خپله خبره کړې وه. د هغې اوس هم باور نه راته چې هغې هر څه

(c) ketabton.com: The Digital Library



سمه اوریدلي دي.
- کاکا ! ماسره ولې؟
هغې خپله حیرانتیا قابو کولو کې وویل.
- تا سره ولې نه؟
هغې ډېر زر ځواب ورکړی و.
- کاکا ! زه او هغه هیڅ نه جوړېږو. دا خپلوي مناسبه نده.
هغې خپله رایه ورکړه.
- هغې کې د څه کمی دی؟
هغه په بې کرارۍ وپوښتل.
- هغه کې هیڅ کمې نشته. ما کې ډېرې خامیانې دي.
- ساره ! تا کې د هیڅ کمې نشته. ته ښایسته یې، تعلیم یافته یې، پوهه یې. یو سړي ته ددې پرته نور څه پکار وي.
هغې یې د راضي کولو کوښښ کاوه.
- خو هغه په دې شیانو کې زما نه غوره دی. او ما د هغې باره کې داسې سوچ ندی کړی.
- نو اوس فکر وکه.
ساره هیڅ نه پوهیده چې څه ووایي ځکه دومره غټه پریکړه یې ډېر زر مخې ته راغلې وه. عارفین تللی و. د شپې په ډوډۍ باندې هغه ډېره واخطا وه. د معمول مطابق حیدر خپل پلار سره خبرې کولې. په درې مېاشتو کې په لومړي ځل یې هغې ته په داسې نظر کتل. عارفین عباس چې د ډوډۍ خوړلو وروسته پاڅید نو هغې ساره ته وویل،
- ساره ! که تاسو بده نه ګڼئ نو سبا ماښام زه تاسو ډوډۍ لپاره بوتللې شم. زما تاسره یو څو خبرې دي.
هغه پرته د ځواب نه غلې ناسته وه. هغه تر ډېره د ځواب په انتظار و.
- تاسو پنځه بجې تیار اوسیږئ.



هغې دا وویل او خپلې کوټې ته لاړ.
راتلونکې ماښام پنځه بجې کارکونکې د هغې دروازه وټکوله،
- حیدر صیب مو غواړي.
هغې ساره ته خبر ورکه.
- زه اوس راځم.
هغې بوټان اغوستلو سره وویل. بوټانو اغوستلو نه وروسته بهر راووته. حیدر په صوفه ناست و. ددې په لیدو ودرید.
- ځو...
- تاسو کاکا ته ویلي.
هغه ددې پوښتنې په اوریدو موسکی شو.
- تاسو څه فکر کوئ، زه تاسو د پلار د اجازت نه پرته چېرته بوتلې شم. تاسو خفه کیږئ مه، ما تاسو ته ویلو نه وړاندې هغې نه اجازت اخیستی و.
- زما باره کې تاسو ډېر نه پوهیږئ، نو غوره ده چې تاسو ته خپل ځان باره کې څه ووایم.
موټر یې عمومي سرک ته تاوولو سره وویل.
- دا خو به تاسو ته معلومه وي چې زما مور فرانسوۍ وه. زه هملته پیدا شوې یم. دولس کالو پورې همهلته ووم. نو بیا پلار ویل خپل وطن ته ځو. ما دولسم دلته وویل بیا لندن ته لاړم، هلته مې بزنس منیجمنټ کې ډګري واخسته. هلته مې د ټریننګ لپاره یو بانک کې کار وکه او اوس دلته بانک کې کار کوم. دلته د راتګ مې بس یو څو میاشتې کیږي یعنې ستاسو راتګ نه تقریبا درې میاشتې مخکې. زما مور صرف په نوم فرانسوۍ وه. پلار سره واده کولو او اسلام دین قبلولو نه وروسته یې ددې ځای رواج خپل کړی و. نو په دې وجه دلته اوسیدو کې یې کومه خاصه ستونزه نه درلوده. زه چې د کله نو پوه شوې یم ما مې مور په

(c) ketabton.com: The Digital Library



خارجي لباس کې نده لیدلې. هغه د دې ځای خلکو په څېر کالي اغوستل. زه تاسو ته دا هرڅه ځکه وایم چې تاسو پوه شئ چې زه شکل نه اروپایي ښکارم که نا زه د سوچ له لارې د همدې ځای یم. زه خپلې نظریې لرم. زه ډېر اجتماعي هم نه یم. زما ملګرتیا ډېره محدوده ده. د جینکو سره درس ویلو سره زه د انجونو سره ډېره ملګرتیا نلرم. زما یوائینی شوق بانکداری سره دې. هو د لوبو هم شوق لرم، یوائې د کولو نا بلکې د لیدلو هم. څه موده وړاندې ستاسو باره کې ما هیڅ سوچ نه کاوه. زما لپاره تاسو یوه میلمنه وئ او ما هیڅکله هم د دې څخه زیات ستاسو باره کې سوچ ندی کړی. زه داسې سوچ اکثره هیڅ نه خوښوم ځکه تاسو انجلۍ وئ، زما په کور کې وئ او ما خپل فرض ګڼه چې ستاسو عزت وکړم. تاسو خپل کور کې محفوظه وساتم. بیا د پلار نه ستاسو خیالاتو باره کې خبر شوم. زما په زړه کې ستاسو لپاره عزت نور هم ډېر شو. څو ورځې وړاندې پلار ما ته ستاسو باره کې خبره وکړه. ما په هغې فکر وکړ او ما ته داسې ښکاره شول چې تاسو یوه ښه مېرمن جوړیدای شئ. نو ځکه ما پلار ته وویل چې تاسو سره په واده کې ما ته هیڅ اعتراض نشته. پلار تاسو سره په دې سلسله کې خبره کړې وه خو تاسو هماغه وخت کې څه نه ویل. نو ما اړینه وبلله چې تاسو ته د پرېکړې نه وړاندې هر څه ووایم تر څو تاسو ته د پرېکړې کولو کې اسانتیا وي. ما ته ستاسو باره د هر څه معلومات شته، او یا لږ ترلږه د دې خبرې خو راته معلومات شته چې تاسو زما نه په عمر کې څو میاشتې مشره یې. زه ستاسو په تېر وخت یا په هیڅ خبره کوم اعتراض نلرم. تاسو پوهیږئ، پلار مې ستاسو مور خوښوله. دهغوی دواړو واده نه وو شوی. په هغوی تاسو ډېر ګران یاست او هغه غواړي چې تل په دې کور کې اووسېږئ. او دا هم د هغوی غوښتنه ده چې ستاسو واده ما سره وشي. خو ستاسو څه اعتراضونه ول چې تر ډېره سم ول خو ما سره واده ته غاړه ایښودو نه وروسته تاسو دا



نشئ ویلئ چې تاسو زما په کور کې د اوسیدو حق نلرئ. زه ډېر شته من نه یم، ما خو ایله اوس دنده شروع کړېده خو زه په دې باوري یم چې ما سره دومره پیسې شته چې مونږ پرې ژوند وکړای شو. خو یو څه وخت وروسته چې زه خپله اینده جوړه کړم، نو بیا به د یو ښه خاوند په څېر هڅه کوم چې تاسو ته هرڅه برابر کړم. اوس مهال خو خپله د پلار په کور کې اوسېږم. دا موټر هم هغوی اخستی دی. نو په دې خاطر په مالي لحاظ زما حالت هم ستاسو په څېر دی. نو اوس مهال تاسو زما جرګه ومنئ او څو کاله وروسته به تاسو سره واده وکړم. چې په هاغه وخت کې لږ تر لږه ما سره په خپلو پیسو اخستل شوی موټر وي.

هغې ساره ته د کتلو پرته په دې باره کې هر څه وویل. د هغې په انداز کې کوم ویاړ یا کبر نه و. د دې خبرو په اوریدو ورسره د ساره خواخوږي پیدا شوه. د هغې د ویښتو په څېر د هغې شخصیت هم عجیبه غوندې و.

- نو اوس که زه تاسو ته ووایم چې ما سره واده وکړئ نو تاسو به څه وایې؟

ساره هغې ته مخ ورواړوو، هغه ډېر عادي بریښیده.

- هو.

هغه پوه نشوه. د هغې د خولې څخه دا لغات راوښوید.

د حیدر په مخ کې یو په زړه پورې مسکا تېره شوه.

- مننه...

بیا دواړه یو ریستورانټ ته لاړل. ساره هیڅ د هغې د خبرو په جادو پوهه نشوه. څه خبره وه چې هغې ته هیڅ کوم خفګان یا وارخطایي محسوس نکړه. هغې ورسره په مختلفو موضوعګانو خبرې وکړې، داسې لکه چې هره ورځ یې ډوډۍ لپاره بهر بوځي یا ډېری وخت ورسره داسې خبرې کوي. دا ما ښام د ساره د ژوند غوره ماښام وو. نن شپې د خوب څخه وړاندې یې چې کوم تصور جوړ و، هغه حیدر و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دریم ماښام عارفین په یو عادي پروګرام سره د هغوی دواړو کوژدن وکړه. په کوژدن کې د عارفین خویندې او د کورنۍ څو مشران موجود ول. ساره غوښتل چې کوژدن تر اقصی راتګ پورې وځنډول شي خو عارفین غوښتل چې دا کار زر تر زره وشي، د هغې راتګ نیټه هم معلومه نه وه نو ځکه دا وړوکې غوندې پروګرام د هغې شتون څخه پرته وشي. عارفین، ساره منع کړې وه چې اقصی ته ونه وایي ځکه هغه به په دې خبره خفه شي چې د هغې انتظار یې ولې ونه کړ.

- کله چې هغه دلته راشي زه به یې پوه کړم خو اوس مهال هغې ته د کوژدن باره کې څه مه وایه.

عارفین، ساره په دې خبره پوه کړې وه. د کوژدن نه درې څلور ورځې وروسته اقصی د خپل راتګ باره کې ویلې دي. هغه درې ورځې وروسته دلته راروانه وه.

□□□

هغې ونه پیژندله. زیړ رنګ کې تور داغونو او هډوکو والا مخ د سبا نښې کېداې. خو هغه سبا وه. د هغې د مخ څخه هغه روښنايي تللې وه. د هغې په سترګو کې هیڅ نه ول. هغې ته داسې ښکاریده لکه ټول بدن یې چې د واورې په څېر ویلې شوی وي. هغه په کور کې نه وه خو هغه تر ماښامه د هغې کور دروازې مخې ته ناسته د هغې انتظار کاوه، اخر هغه راغله. غیږه کې یو وړوکې ماشوم، ځان یې په تور څادرکې نغاړلی و. د لومړې ځل لیدو نه یې وروسته بیا سترګو کې مخامخ ورته نه وو کتلې.

- سبا ! زه تا پسې راغلی یم.

هغې ته دا جمله ویل دومره ستونزمن ول لکه ستونی یې چې د اغزو څخه ډک وي او د ویلو توان نه لري. هغه غلې وه، خپل ماشوم یې په



ځمکه کېښاوه او په یوه کیلي یې دروازه پرانستله.

- سبا ! ما به وبخښې؟

قلف یې خلاص کړی و، او دروازې پرانستلو وروسته دننه تللې وه.

- سبا ! ماته د خبرې ځواب راکه.

عارفین دروازه نیولې وه.

- دننه راځه، دلته تنداره مه جوړوه.

هغې دروازه خلاصه پرېښې دننه تللې وه. هغه ورپسې شاته تللی و. هغې یو څراغ روښانه کړ او خپل ماشوم یې په کټ کې کېښاوه.

- وایه ! څه نور غواړې ما نه؟

هغه خپله ولاړه وه.

- سبا ! ماته بخښنه...

- ما بخښلې یې، نور...

سبا د هغې خبرې پرې کړې.

- آیا ته یو ځل زما مور سره لیدلی شې؟ هغه ډېره ناروغه ده، تانه بخښنه غواړي. ډاکټرانو ویل هغه نوره ډېره ژوندۍ نه شي پاتې کېدی.

هغې سره خبرې کولو سره یې وانګیرله چې هغه ورته همداسې ګوري. د هغې څېره بې تاثیره وه. هغه خبرې کولو سره غلی شو. هغې ته رایاد شول، طلاق ورکولو په وخت کې یې هم ورته داسې کتل.

- سبا ! ما چې تا سره څه کړي دي، ته هغه ما سره مه کوه.

خبرې یې ژړغونې شوې.

- زه به درشم، ته اوس لاړ شه.

هغه د خپل ماشوم سره په کټ کې کېناسته.

د عارفین حلق وچ شوی و، ساه یې هم په سخته اخسته.

- سبا ! ته چغې کړه، ماته سپورې ستغې ووایه. ووایه زه به درنشم. ستا مور که مړه کېږي، مړه دې شي. زما د لورې دې دوزخ ته لاړه شي. ماته

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو څه وو ایه، داسې زما خبره مه منه.
هغه نه پوهیده چې څه پرې شوي ول، هغې د زړه د تله وژړل. هغه غلې ناسته وه. هغې خپل ماشوم په غېږ کې کېنولې وو. عارفین ته یاد ول چې هغې به په ورو ورو خبرو ژړا کوله. په ډېره وړه خبره به یې د سترګو څخه اوښکې روانې وې. نن یې هیڅ نه ژړل. هغې ورته داسې کتل لکه په لومړي ځل چې ورته ګوري. هغې تر ډېره وژړل، بیا په لمدو سترګو له هاغه ځایه لاړ.
هغه په دویمه ورځ مازیګر هلته راغلې وه. عارفین خپلې مور سره ناست و. مور یې سلګۍ وهلې. هغې یې دروازه کې ولاړه ولېده. د پرون په څېر یې نن هم لور په غېږ کې نیولې راغلې وه.
مشر تره د هغې په لیدو بې اختیاره ودرید.
- سبا ! راځه دننه.
هغه دننه راغلې وه. مشر تره هغه په غېږ کې نیول غوښتل. هغې په ډېر سکون د هغې لاس له ځان نه لرې کړ.
- دې ته اړتیا نشته.
عارفین د هغې اواز واورید. ټوله کورنۍ ددې راتګ څخه چا خبره کړې وه. هغه د مور د خوانه راپاڅید.
- چېرته ده سبا؟ چېرته ده هغه؟ هغه زما مخې ته راولئ. زه هغه لیدل غواړم.
هغې د پاڅیدو کوښښ کاوه خو پاڅیدلی نه شوه.
هغه په ورو راغله او د هغې سره په خواکې څوکۍ باندې کېناسته.
مشرتره ښځې هغه ولېده. یو دم هغه غلې شوې وه خو د هغې بدن رپیده، د سترګو څخه یې اوښکې روانې وې. بیا ټولو لیدل هغې خپل لاسونه د سبا مخې ته د بخښنې لپاره ونیول. سبا په ډېر ارام د هغې دواړه لاسونه خپلو لاسونو کې ونیول.



- ما بخښلې یاستئ. زما په زړه کې ستاسو لپاره هیڅ نشته. هغه له خپل ځایه پاڅیده. مشر تره ښځې یو ناځاپه د ماشومانو په څېر په زوره وژړل.
- ما په تا ډېر ظلم...
مشر تره مخې مخې ته کېده. سبا د هغې خبره پرې کړه.
- ما تاسو ته هم بخښنه کړېده. ما ټول بخښلي دي.
هغې دا ویلي ول او خپل ماشوم یې غېږ کې نیولې دروازې په لور تللې وه.
- سبا ! ته هیچرې مه ځه. ته مونږ سره ووسه. خپل کور ته راشه.
کشر تره د هغې ستنول غوښتل.
- کاکا ! ماته د اوسیدو لپاره کور نه، ځاى پکار دى او هغه ماسره شته.
ډېرو غوښتل چې هغه دلته اوسیدو لپاره رضا کړي خو هیڅ ګټه یې نه درلوده. مشر تره هغې پسې په ژړا ژړا تر دروازې لاړ و خو هغې ونه منله. د کومې چپتیا او خاموشۍ سره چې راغلې وه په هماغه چپتیا له هغه ځایه لاړه.

□□□

- عارفینه ! دا هر څه نه شي کېداى. لږ تر لږه زما په ژوند کې داسې نه شي کېداى. زه به پرېنږدم چې تاریخ پخپله تکرار شي. ته څوک یې خپل ځوى سره د ساره کوژدنې کولو والا.
اقصى د عارفین څخه اوریدو څخه وروسته په غوسې ویلي ول. هغه همدا نن راغلې وه او ساره سره لیدلو لپاره نیغه د عارفین کور ته راغلې وه، که ساره هلته نه وه نو هغه به هیڅ کله د هغې کور ته تللې نه وه. ساره سره لیدلو نه وروسته عارفین خپلې کوټې ته د ضروري خبرو لپاره راغوښتې وه او هلته یې د ساره د کوژدنې باره کې ورته ویلي ول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- اقصی ! څه چې شوي هغه هېر کړه. کومه غلطي چې له ما څخه شوې ده، زه د هغې بدله ورکول غواړم او بیا سبا خپله ساره زما په سرپرستۍ لاندې پرېښې ده.

عارفین د هغې د پوهولو کوښښ کاوه.

- د هرې غلطۍ بدله نه شي ورکول کېدای. تاسو کومه غلطي نه وه کړې بلکې تاسو ګناه کړې وه. زه د دې خبرې هیڅ پروا نلرم چې سبا، ساره ستا په ذمه پرېښې ده. هغې سره چې څه شوي ول، د هغې د سادګۍ له کبله شوي ول. هغې بیا بیا باور کولو عادت درلود، هغه د بیا بیا بخښلو عادي وه، او د همدې عادت له وجې یې په دې عمر کې قبر ته ورسیده. زه دواړه عادتونه نلرم او زه به ساره سره هغه څه پرېنږدم چې زما د خور سره شوي ول.

- اقصی ! ته پوهیږې، څه چې وشول، په هغې کې زه هیڅ ملامت نه یم.

- لږ ملامت وې که ډېر. ستا قصور و، خو د سبا هیڅ قصور نه و، نو بیا د کوم جرم سزا ورکړل شوه. نه عارفینه ! زه به ساره ستاسو کور کې هیڅ کله پرېنږدم.

- اقصی ! دا کوژدن یوائې د حیدر په خوښه نه کېږي، په دې کې د ساره خوښه هم شتون لري. د دې خپلوئ ماتولو سره هغې ته نقصان رسېږي.

- د ساره خوښه...ساره له ماضي څخه بې خبره ده که نا هغې به ستا پر ځوی لاړې هم نه وی توو کړی.

د اقصی لهجه د زهرو ډکه شوه. عارفین سر ښکته نیولی و.

- زه به ورته هر څه ووایم، بیا هغه کولی شي دا خپلوي له منځه یوسي.

- اقصې ! دا سې مه کوه. سبا ورځخه ترنن ورځې پورې هر څه پټ ساتلي دي نو بیا تاته د دې حق چا درکړی دی، چې ته ورته هر څه ووایې. ته په فرانسوي ژبه نه پوهیږې، دا خط واخله او په چا یې وګوره چې په دې کې یې څه لیکلي دي. د تېر وخت یادول اړین نه دي. بس د هغې خیال ساته.



دا هر څه ما ندي لیکلي. هغې لیکلي، هغې زه او زما کورنۍ بخښلې وه او هغې ستاسو کورنۍ نده بخښلې. تاسو هم ورسره هماغه څه کړي ول. تاسو پرې هم باور نه و کړی. که د هغې ژوند برباد شوی، نو په هغې کې ستاسو هم برخه شته. ولې مو د هغې واده وکړ؟ ولې مو هغه ونه ساتله؟ ولې مو پرېښوده چې د هغې ژوند تباه شي.

عارفین هم خپل عادي حالت څخه وتلی و.

- اقصی ! اوس ماضي په ماضي کې پرېږدئ. ساره ته په تېرو شل کلونو کې هیڅ په لاس نه دي ورغلي. نو که اوس یې څه لاس ته ورغلي هغه ترې مه اخله. هغې ته د سبا باره کې ویلو سره هغه په پاتې ژوند مه ژړوه. دا سې مکوه.

اقصی د هغې په خبرو غلې وه.

- ساره ! تا ماته په ټیلیفون نه وو ویلي چې ستا کوژدن شوې ده؟

د عارفین کوټې څخه وتلو سره یې ساره څخه پوښتلي ول. د دې پوښتنې سره یې د مخ رنګ زیړ شوی و.

- ما ویل غوښتل خو عارفین کاکا زه منع کړم. هغې ویل چې هغه به خپله تاسو ته ووایي. ما کوژدن ستاسو د راتګ څخه وروسته کوله خو عارفین کاکا هر څه په چټکۍ سره وکړل.

اقصی، عارفین ته وکتل، خو هغې سترګې ښکته کړې وې.

- ته حیدر سره خوښه یې؟

هغې ورڅخه پوښتلي ول، د هغې رنګ زیړوالې لا پسې زیات شوی و. اقصی ته یادول چې د عارفین په نوم اوریدو به د سبا رنګ هم زیړ تښتیده. د هغې شرمېدونکې مسکا ورته سبا ورپه یاد کړه.

- واده کله کوئ؟

اقصی، عارفین څخه وپوښتل.

- څو کاله وروسته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- سمه ده، څو کاله به ساره ما سره اوسېږي.
- نه، اقصی ! ساره به همدلته اوسېږي.
عارفین د هغې په خبره وارخطا غوندې شو.
- واده څخه وړاندې به په کوم حیثیت سره دلته اوسېږي؟
- څنګه چې مخکې اوسېده.
- مخکې خبره بل رنګې وه. اوس حیدر سره کوژدن کولو سره خو سوال نه پیدا کېږي چې هغه دې دلته اوو سي. یا خو یې ماسره پرېږده او یا یې زر تر زره واده کړه او خپل کور ته یې راوله.
اقصی په ولاړه خپله پریکړه اوروله وه. ساره د اقصی په ضد حیرانه شوې وه. عارفین هم غلی و.
- سمه ده. زه به حیدر سره خبره وکړم او سبا به تاته ووایم.
هغې اقصی ته ویلي ول.
- ساره ! ته خپل سامان تیار که، سبا دې ځان سره بوځم.
اقصې، هغه په غیږ کې نیولو سره ویلي ول.
- اقصی ! ته د هوټل پر ځای دلته اوسېدلی شې یا خپل کور ته تللې شې.
هغه اوس هم خالي دی.
عارفین ورته وړاندېز کړی و، هغې د څو شیبو لپاره پرې سوچ کاوه.
- سمه ده. زه به خپل کور کې اوو سم.
هغې په سترې لهجه خپله پرېکړه واوروله.
- زه به مشری خور ته خبر ورکړم. کله چې هم غواړې هلته تللی شې.
عارفین ورسره تر موټره راغلی و.

□□□

- سبا ! داسې خپل ژوند مه بربادوه. له دې ځایه راځه، ته داسې ستونزو



سره لوبو کولو لپاره نه یې جوړه شوې. ما په ټیلیفون تره سره خبره کړې ده، هغه دې بله اونۍ کې راځي. که مونږ سره نه خو هغې سره لاړه شه، داسې ژوند تېرول به درته ګران شي.
هغه د خپلې مور مړینې نه شپږ ورځې وروسته یو ځل بیا د هغې خواته تللی و.
- دا زما ژوند دی. څنګه چې زه غواړم هغسې تیرولی شم.
- که ته داسې ژوند تېروې نو مونږ به هم په ارامه ژوند ونکړو.
- ټول په ارام دي. ټول خوشاله دي. څوک هیڅ پروا نه لري. بس یواځې زه یې بربادولم نو ټولو په یو ځای وکړل.
عارفین د هغې د خولې څخه ګیله اورېدلې وه.
- ته به نه بربادیږې، سبا ! زه به درسره واده وکړم. هر څه به سم شي.
عارفین د خپل زړه خبره کړې وه.
- د آسماء او حیدر، هغوی به څه کوي؟
هغې په عجیبه لهجه کې دا وویل.
- آسماء به یې ومني. هغه ما سره مینه لري او هغه پوهیږي چې زه تا سره مینه لرم.
عارفین په ډېر ډاډ سره دا وویل.
- زه د خلکو پښو څخه ځمکه نه شم تښتولې. زه دې درې کاله وړاندې د ګندګۍ په ځبر لرې غورځولې ووم. ماته نن هم خپل بدن ګند ښکاریږي. ته یو ښه ژوند تېروې، تېر یې کړه. زه د نورو څخه څادر پټولو سره خپل ځان پټولی نشم.
هغه اوس هم هماغه سبا وه. پخوانۍ سبا. په ظاهره بدله شوې وه خو باطن کې څنګه بدلیدی شي.
- سمه ده...ما سره واده نه کوې، مه کوه. خو خپل مور پلار خواته لاړه شه. که خپل نه د ساره باره کې فکر وکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



عارفین یو ځل بیا د هغې د پوهولو کوښښ وکه.
- د همدې فکر خو راسره دی اوس. زما زړه نه غواړي خپلې کورنۍ خواته لاړه شم. هغوی به ما ومني خو ساره نه مني. په هغوی به بوج جوړ وي. هغوي به ورڅخه کرکه کوي، ته به پوهېږې. د ساره پلار هغه خپله لور نه ګڼله. هغې په همدې وجه ماته طلاق راکه. سړی هر څه ساتلی شي خو تورنه ښځه هیڅکله نه شي ساتلی. سبا به ساره غټه شي او که چا ورته دا وویل نو هغه به څه کوي. څه چې وشول هغې کې زما غلطي نه وه خو د هغې سزا ماته راکړل شوه. په دې کې د ساره هم څه غلطي نشته خو زه پوهیږم زما په څېر به ورته سزا ورکړل شي.
- د ټولو فکر درسره دی، خو د خپل ځان درسره نشته؟
- زما خیال الله ندې کړی نو زه یې ولې وکړم. ماته داسې ښکاري، عارفینه! ما حتما کومه ګناه کړې ده. خدای ج چاته هسې بې څه داسې رسوا کوي نه. درې کاله وړاندې چې زما زړه غوښتل نو ما به ورسره خبرې کولې. درې کالو راهیسې ماسره خبرې نه کوي. زه ورته د درې کالو نه غړونه کوم خو هغه ماته ځواب نه راکوي. د درې کالو راهیسې زه هماغه کارونه کوم چې ورته نږدې دي خو هغه بیا هم ځواب نه راکوي. الله صبر کوونکي خوښوي. وګوره ما صبر کړی، زه له هیچا څخه ګیله نه لرم. ما د درې کالو نه هیچاته دا نه دي ویلي خو هغه بیا هم راضي نشو. الله بخښلو والا خوښوي. ما ټول وبخښل. ته، ستا مور، ستا پلار، خپله مور، ټول مې وبخښل خو هغه اوس هم مانه خفه دی. الله عاجزي خوښوي. زما زړه غواړي چې زه خاوره شم. د خلکو پښو لاندې شم، خو بیا هم ماته داسې ښکاري، عارفینه! ما کومه ګناه کړېده، خاماخا مې کومه ګناه کړې ده.
هغې په سلګو سلګو ژړل. عارفین د هغې اوښکې لیدل غوښتل. د هغې ګیلې یې اوریدل غوښتل خو اوس د هغې یوې یوې خبرې د هغې بدن



ویلې کاوه.
- ته داسې خبرې مکوه، سبا! ته داسې خبرې مکوه. ستا دې خبرو د څومره خلکو ژوند ویجاړ کړی دی. ستا دې اوښکو له کبله خدای څومره خلک د وینو په اوښکو وژړول. ته صبر مکوه، ګیله کوه. بخښل مکوه، بدله واخله. که ته داسې وکړې د ډېرو ژوند به وساتل شي.
د هغې د ننه څخه چا په چغو چغو دا هر څه ویل.
- سبا! ماته ووایه. زه ستا لپاره څه کولای شم؟
عارفین نیږدې راغی او هغې څخه یې وپوښتل.
- ته. ته یو کار وکه چې بیا زما خواته هیڅکله مه راځه. ما سره اړیکه مه نیسه، ما لټوه مه. که زما لپاره څه هم کوی، بس دا وکه.
هغې اوس هم په سرو سترګو ژړل. په دې ورځ غلې نه کېناسته. هغې د ماشومانو په څېر ژړل لکه چا چې ترینه هر څه په زوره اخیستې وي. داسې لکه چا چې هیڅ نه وي ورکړي. عارفین تر ډېره هغې سره ناست و، کله چې د هغې اوښکې ددې د زغم څخه بهر شوې نو هغه لاړ.
په راتلونکي ماښام یې د هغې ډګري او نور کاغذونه د هغې د کور نه اخستې او هغې ته ورکولو لپاره روان وو. دروازې ته قلف پروت و. د هغې انتظار یې کاوه. ډېر وخت تېر شو، هغه رانغله. هغه بې کراره شو. د هغې د ګاونډیانو دروازه یې وټکوله.
- هغې خو خپل سامان ځان سره واخیست او کور یې پرېښود. کیلي یې مونږ ته راکړه چې د کور خاوند ته یې ورکړم.
ګاونډۍ ښځې ورته ویلي ول. د عارفین په زړه کې یو ځل بیا چا غشي ننباسل.
هغه سبا پسې بیا ونه ګرځېد. هغه پوهیده چې هغه به راسره بیا ونه ګوري. د سبا کورنۍ امریکا نه راغلې وه. او هغوی د عارفین کورنۍ سره خپلوي ختمه کړې وه. خو عارفین څخه د سبا پلار خفه پاتې نشو. د

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغې په پښو کې یې ځان غورځولی او بخښنه یې غوښتې وه. امریکا تللو نه مخکې یې هغه څخه د سبا کور اخیستی و. بیا هغه خپله آسما او حیدر سره فرانس ته راغلی و. هلته درې څلور میاشتې وروسته د ډېر خفګان له کبله پرې د زړه دورې تلې راتلې او د څو ورځو به غلی ناست و. بیا ورو ورو آسما او حیدر سره عادي حالت ته راغی. آسماء ورسره په هاغه وخت کې ډېره مرسته کړې وه. هغې به تر ساعتونو ساعتونو د سبا باره کې خبرې کولې او هغې به په ډېر صبر او خواخوږۍ اوریدلې او کله به چې پرې د خاموشۍ دوره راغله نو د سبا نوم اخستلو سره به یې هغه په خبرو مجبوراوه. څو کالو لپاره خپل کور ته نه و تللی او بیا د پلار د مړینې نه وروسته یې پریکړه وکړه چې بیرته لاړ شي.

□□□

- په دې کې د اعتراض څه خبره ده. هر څوک غواړي د خپلو اولادونو خیال وساتي. د ساره مور او پلار نشته او بیا زه یې د خپلوۍ له لحاظه د هغې سرپرسته یم نو که زه غواړم د هغې خیال وساتم نو دا څه بده خبره ده؟

اقصی د هغوي د نکاح کولو څخه دمخه د مهر په بدله کې د عارفین د کور غوښتنه کړې وه. عارفین د هغې د غوښتنې په ځواب کې د سبا کور یادونه کړې وه خو اقصی د هغې کور سره د عارفین کور هم د هغې په نوم کول غوښتل. عارفین په دې هم څه نیوکه نه لرله خو حیدر په دې خبره غوسه شوی و.

- دا څه روان دي؟ دا څوک ده چې مونږ څخه داسې غوښتنې کوي؟ لومړي یې د زر تر زره واده کولو ډنډوره جوړه کړه. ما تاسو څخه د مجبوریت له کبله دې واده ته غاړه کېښوده، او اوس د مهر په حق کې هم



مطالبې وړاندې کوي. ساره ته پنځه لکه روپۍ، سره زر او د هغې د مور کور بس نه دی، چې هغه اوس ستاسو د کور غوښتنه هم کوي. زه به ددوی دا غوښتنه هیڅکله ونه منم. که هر څه کېږي، دا ستاسو کور دی او زه به هیڅکله پرینږدم چې د بل چا شي. که دې ته دا هر څه قبول نه وي نو د خپلې خورزې واده دې بل ځای وکړي.

هغه ډېر په غوسه شوی و او د عارفین خبره یې هم نه اوریده.

- حیدره ! ته احساساتي کېږه مه. دا کور د ساره په نوم کولو سره څه فرق پریوځي. دا کور زما په نوم وي، ستا په نوم وي یا د ساره په نوم وي، ټوله یوه خبره ده. هسې هم درې واړه پکې اوسېږو.

عارفین یې د پوهولو کوښښ کاوه.

- که تاسو ته څه فرق لري که نه زه یې پروا لرم. هغه چې ستاسو د هڅو پایله ده هغه زما یا زما د مېرمنې نه شي کېدای. ددوی غوښتنې باید زما حیثیت ته په کتلو وی نه ستاسو.

هغه اوس هم په خپله خبره کلک ولاړ و.

- حیدره ! دلته خبره د ساره ده. زه د یو کور لپاره د هغې نکاح پر سر جنګ نه شم کولای. داسې د نکاح څخه انکار کولو سره تا ته پروا نه لري خو ساره باره کې هم فکر وکړه. او زه به هیڅکله پرینږدم چې د هغې احساسات پکې زخمي شي.

پلار یې په یوه طریقه پوه کړ خو د حیدر زړه هیڅکله دا خبره نه منله. هغه د اول نه دومره زر واده کولو ته خوښ نه و او اوس پکې د اقصی نه منلو وړ غوښتنې هم رامنځته شوې خو داسې معلومېده چې عارفین د داسې صورت حال څخه نه خوشاله و او نه خفه.

اقصی په ریښتیا هم زر واده کولو پسې راخیستې وه. هغې د تلو نه مخکې د ساره واده کول غوښتل. د عارفین په خوښه یې خپل ورور او پلار هم د امریکا څخه راوغوښتي ول. د عارفین انکار سره سره هغوی

ساره لپاره جهيز او د ضرورت وړ هر څه اخستي وو. نكاح د نكريزو څخه څوشيبې وړاندې تر سره شوه. د عارفين مشرې خور ساره د هغې د مهر څخه خبره کړې وه. که هغه ډېره خفه وه نو ډېره خجالت هم وه. د نكاح څخه وروسته چې ټول خلک لاړل، نو ساره ورته د ګيلې په څېر وويل خو هغې ورته خبره خوله کې پاتې کړه.

- ته لا وړه يې. دا دنيا سمه نه پيژنې. ما چې څه کړي، ستا د راتلونکي لپاره مې کړي او سم مې کړي. دا څه خرابه خبره نده چې ته يا بل څوک پرې نيوکه وکړي.

هغې دا وويل او له کوټې څخه لاړه. حويلۍ څراغونو روښانه کړې وه. نكريزې د عارفين کور پر ځای د تره په کور کې تر سره شوې او هغه ځای يې ښه جوړ کړی و. د ډېرې ستړيا له وجې راغله او زينو کې کښيناسته.

- څه خبره ده، اقصی! ته دلته ولې ناسته يې؟ ولې ځان نه تياروې؟

عظيم د ننه څخه بهر راوتو وخت کې وويل.

- زما په زړه څه چل کېږي. نه پوهېږم چې دا هر څه مونږ سم کوو که نه. د ساره واده حيدر سره کول پکار دي که نه.

هغه ډېره بې کراره وه.

- اقصی! اوس ددې خبرو وخت ندی. د ساره نكاح شوې ده. سبا د هغې ډولۍ وړي نو بيا داسې خبرې باندې فکر کول څه ګټه نه لري.

- هو، څه ګټه خو نلري. څه ګټه نلري...

اقصی اوس هم ډېره بې کراره وه.

- ته خفه کېږه مه. حيدر ښه هلک دی. د ساره خيال به ساتي او بيا ساره هم هغه خوښوي.

- يوا ځې د همدې کبله، د همدې کبله ما دغه خپلوئ ته زړه ښه کړ، که نه ساره به مې هيڅکله دې سپک کور ته نه وه پريښې. دا خلک ددې وړ ندي چې د سبا لور هلته ورشي.



اقصی خپل ځآن قابو نكړ او ژړا يې پيل کړه، عظيم هم خفه غونډې د خور خواکې کېناسته.

- اقصی! څه چې شوي، د هغې د هېرولو کوښښ وکه.

هغې د خپلې خور لاس ونيو او غلي کولو کوښښ يې کاوه.

- زه څه وکم، عظيمه! زه څه هيڅ نه شم هيرولای. ماته نن هم يوه يوه خبر ياده ده. يوه يوه ننداره مې ياده، ددې کور. همدغه خلک ول. همدغسې ټول کور ښايسته شوی و. همدغسې ټولو خلكو خنداګانې کولې چې مشره کانې راغله او د خلکو وړاندې يې چغې پيل کړې. هيڅوک نه پوهيدل. زه هم د مور په څېر وارخطا بره وختم او هلته مشرې کانې د عادل سره د کوټې څخه راويسته. زما زړه ويل زما خور هيڅ نه دي کړي، خو هغه دومره ويريدلې وه چې هيڅ يې نه شول ويلای. هغې باور نه راته چې مشره کانې د هغې خوابې هغې سره داسې کولای شي. نن د عارفين مشرې خور د مهر باره کې دومره نيوکې لرلې او دې خبرې باره کې يې ځان ساره خواته رسولی و. او په همدغسې ماښام کې يې سبا په ټيله د کوټې څخه پښې ييلې او سر لوڅې حويلۍ ته راوويستله. زه همدلته ناسته وم چېرته چې اوس ناسته يم، ماته داسې ښکاريدل لکه څوک چې زما بدن په چړو وهي.

ته هم دلته ولاړ وې کنه چې مشرتره په بوټانو په سر وهله. تاته ياد دي کنه چې مور او پلار مې پرې د ګل ګوزار هم نه وکړی او هغې شخص د ټولو پر وړاندې په بوټ په سر ووهله. زه همدلته ناسته وم او چغې مې وهلې او ټول خلک برنډه کې ولاړ، ننداره کتله. هيڅوک راوړاندې نه شول چې د تره لاس ونيسي. هغې هيڅ چغې ونه وهلې او په چپه خوله يې وهل وخوړل. هغې سره هيچا ښه ونه کړل، نه مونږه او نه نورو. او بيا کله چې کانې په قران پاک لاس کېښود او سبا يې د کېښودو څخه انكار وکړ نو عارفين په هماغه کوټه کې طلاق ورکه، نو زما زړه غوښتل چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



سبا ووژنم. زه هم دنورو په څېر باوري شوم چې هغه ګناهګاره ده خو هغه نه وه.

مجرمان خو مونږ وو، ګناه خو مونږ نه شوېده او دا کورنۍ خو د نسلونو نسلونو د سبا قرضداري ده، د کوم شي قرض به ورکوي. دا د مشر تره خپلواکې پرېکړې وې، د پرېکړو شوق يې درلود. ډېر ويار يې لره د خپلې کورنۍ په عزت. هغه به د کومې کومې ګناه کفاره ورکوي. سبا يو بوډا سړي ته واده کولو؟ يا په ساره د حرموني اولاد تور لګولو؟ يا څلور مياشتې وروسته د هغې د طلاق؟ ددې کورنۍ ځولۍ د ګناهونو څخه ډکه ده او مونږ...او مونږ يو ځل بيا هغوی سره اړيکې ټينګول غواړو.

ساره په دې ګندګۍ کې غورځوو. دا خلک خو ددې وړ هم ندې چې وبخښل شي. د همدوی له وجې مونږ د نورو پر وړاندې ټيټ سر ګرځېدو. د همدوی له وجې مونو دا کور پرېښود او دا ټول ګوره، څومره خوشاله، څومره بيغمه. دوی خو ددې احساس هم نه کوي چې د څومره خلکو ژوند يې برباد کړی دی. دوی خو په دې واده سره کفاره ورکول غواړي، که نا دوی د ساره څه پروا لري.

هغې خبرو کې سلګۍ وهلې. عظيم هم د خفګان نه سر ټيټ نيولی ناست و.

- هر څه چې وي اقصی! ساره سره هغه څه نشي کېدای چې سبا سره وشول. هغه وخت مونږ هم بې وسه وو. اوس حالات هغسې ندي. اوس مونږ ساره سره يو او بيا عارفين او حيدر به خپله د ساره خيال ساتي. ته خفه کېږه مه، اقصی.

عظيم هغې ته ډاډ ورکاوه، هغې د ورور په اوږه سر ايښې ژړل يې. د نکريزو شپې لپاره ټول خلک د تره په کور راټول شوي ول. د اقصی مشره لور بهر راغله، مور ته يې وويل،

- مورې! اوس خو تيار شئ کنه، هغه خلک راروان دي. زر کوئ. اوس دا



ژړا ګانې پرېږدئ.

هغه راغله او مور يې د مټ نه ونيوله. اقصی اوښکې پاکولې، د ننه لاړه. شپه ناوخته وه، خو نکريزې لا پاتې وې.

□□□

- بس ما همدلته ښکته کړئ، لږه شېبه کې به راشم.

ساره د موټر دروازه پرانستلو وخت کې وويل.

- زه هم تاسره ځم.

اقصی هم غوښتل چې د موټر نه ښکته شي خو ساره منع کړه.

- نا، خاله! زه بايد يواځې لاړه شم. ماته ښه نه ښکاري چې تاسو ما سره لاړ شئ، زه بس خپلې ملګرې سره ګورم او راووځم.

هغه له موټره ښکته شوې وه. اقصی په نا زړه د هغې خبره ومنله. هغې ساره د تيارولو لپاره ارايش ګاه ته روانه کړې وه. اوس د غرمې يوه بجه او ډولۍ پنځه بجې وړل کېده نو اقصی هم د هغې غوښتنه ومنله چې خپلې کومې ملګرې سره ګوري. موټر کې اقصی سره د هغې مشره لور او د عظيم مېرمن هم ناست ول. ساره موټر چلونکي ته د ځآی پته ورکړې وه او د يو لوړې ودانۍ مخې ته يې د ښکته کېدو وويل.

- همدغلته ما ښکته کړه.

ساره، اقصی ته ويلي ول بيا هغه د موټر څخه ښکته شوې وه. موټر چلونکي موټر يوې غاړې ته ودرولې وو. هغوي ورته پنځه لس دقيقې انتظار وکه خو هغه رانغله. اقصی لاسي ساعت ته کتل پيل کړي ول، بيا نيم ساعت تېر شو خو هغه رانغله، اوس اقصی وارخطا شوه. ارايشګاه والا سره يې دوه بجې د ورتلو ويلي ول او يوه نيمه خو همدلته شوه.

- تاسو کېنئ. زه يې ګورم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اقصی موټر څخه ښکته کېدو پر مهال وویل.
- مورې ! داسې نه شي چې تاسو لاړ شئ او بیا ستاسو په انتظار کې دلته ناست یو.
- نه ! که ساره راغله تاسو ارایشگاه ته لاړې شئ، زه به ټیکسي کې درشم.
اقصی دا وویل او لاړه. دا یوه عامه ودانۍ وه، ډېر خلک تلل راتلل.
- کورونه کوم لور ته دي؟
اقصی څوکیدار څخه وپوښتل.
- خورې ! دې ودانۍ کې کوم کور نشته، ټول دفترونه دي.
د اقصی پښو نه ځمکه وتښتیده. هغې ځان قابو که، بیا یې وپوښتل.
- نه. دفترونه خو به لاندې پوړونو کې وي، بره پوړ کې به کوم کور نه وي؟
- خورې ! دا ودانۍ زما وړاندې جوړه شوې ده. زه پنځه لس کالو راهیسی دلته کار کوم. دلته ټول دفترونه دي، هیڅ کوم کور نشته. بره دوه منزله خو د یوې کمپنۍ دي.
هغه د یوې کمپنۍ نوم واخیست.
اقصی په سر لکه اسمان چې پریوتې وي. هغه تقریبا په منډه موټر خواته راغله.
- څوکیدار وایي، دلته کوم کور نشته. یوائې دفترونه دي.
هغې په ډېره وارخطایي لور او مریم ته ویلي ول. هغوی دواړه له موټره ښکته شوې
- راځئ خپله یې وګورو.
د عظیم مېرمن هم وارخطا شوه. هغوی درې واړه دننه لاړل، او هر چا څخه یې چې پوښتل نو ویل به یې دلته کور نشته. هغوی درې واړه ډېر خفه ول. هغوی یو ځل بیا د څوکیدار خواته راغلل او د ساره باره کې یې



تري وپوښتل خو ناخبري وښوده.
- تاسو خپله وګورئ. دلته ډېرې ښځې ځي راځي، زمونږ به چا چاته خیال وي.
څوکیدار ورته ویلي ول. د دوی درې واړو رنګونه الوتي ول.
- مورې ! تاسو پلار او عظیم ماما ته زنګ ووهئ همغوي څه کولای شي.
افشا خپلې مور ته ویلي ول. هغوي پې سي او څخه عظیم ته ټیلیفون کړی و او هغه نیم ساعت کې هلته رسیدلی و. هغې هم د څوکیدار څخه پوښتنې وکړې خو هغې څه ګټه نه لرله.
- دا واده خو د هغې په خوښه کېږي نو بیا هغه چېرته ورکه شوه.
عظیم هیڅ نه پوهیده.
- تا دلته ولې راوسته؟ تاته چا ویلي ول هغه دننه پرېږده
هغه ډېر په قهر ښکاریده، اقصی د خولې څخه هیڅ نه وتل.
عظیم مبایل راویست او د اقصی خاوند اسد ته یې ټیلیفون وکړ او هغه یې راوغوښت. دوی درې واړه یې دلته پرېښودل او هغوي دواړه بیا دننه لاړل. یو ساعت وروسته دواړه بېرته راغلل.
- اوس بله هیڅ لاره نشته ترڅو عارفین دلته راوغواړو. اوس خو باید ډولۍ هم وړل شوې وه. تاسو ټول کور ته لاړ شئ ځکه هلته خو باید کور یو څوک وي. اقصی ! ته همدلته پاتې شه او مریم ! ته عارفین دلته راولېږه. لا ورته د ساره ورکېدو باره کې مه وایه. یوائې دومره ورته ووایه چې عظیم د کوم ضرور کار باره کې غوښتې یې. او هیچاته هم د ساره باره کې مه وایه. بس دومره وایه چې هغه اقصی سره ارایش ګاه کې ده.
عظیم هغوي ته لارښوونه کړې وه. نیم ساعت وروسته عارفین هم راوسید، هغه ډېره وارخطا معلومېده. شاید هغه نه پوهیده چې ولې یې دلته راغوښتی دی. عظیم ورته هر څه وویل، د هغې رنګ زیړ وتښتید.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- دا څنګه کېدای شي. ساره چېرته تللی شي. اقصی ! تا خو به ورته څه نه وي ویلي؟
د عارفین ذهن ډېر زر د اقصی په لور واوخت.
- نه عارفینه ! باور وکه ما ورته هیڅ نه دي ویلي. زه خو خپله نه پوهیږم چې هغه یو دم څنګه ورکېدای شي.
- خدای لپاره اقصی ! که دا هرڅه تا کړي وي، نو داسې مکوه. هلته ټوله کورنۍ راټوله شوې ده. زما ټول ملګري دوستان راټول شوي دي. زه به هغوي سره مخامخ کېږم.
عارفین عباس د زاریو په شکل کې وویل.
- عارفینه ! په ما باور وکه. زه قسم خوړلو ته تیار یم چې ساره ما هیڅرته نه ده لیږلې. په خپله خوښه تللې ده. ماته یې دروغ وویل چې دلته زما د ملګرې کور دی، ته څه فکر کوې چې د هغې تلو سره یوازې ستا شرم دی؟
اقصی په ژړا شوه. عارفین ورته په بې وسۍ کتل. یو ځل بیا هغوي هماغه ودانۍ ته ورننوتل خو څه یې تر لاس نه کړل. بیا مجبوره پولیسو ته خبر ورکړل شو، د هغوي پلټنې دا ثابته کړه چې هغه د مخامخ دروازې ننوتلو وروسته په شاتنۍ دروازې وتلې ده. هغوي ته مخکې نه معلومه وه چې هغه په خپله خوښه تللې ده خو اوس باوري شول. هغې د وړاندې نه همدا پلان جوړ کړی و او ددې ځاې باره کې ورته معلومات وو.
ماښام شوې و او هغوي بېرته راغلي ول. عارفین کور ته راتلو سره حیدر خپلې کوټې ته غوښتې و او هغې ته یې هر څه ویلي ول
- پلاره ! دا څنګه کېدای شي؟ دا څنګه امکان لري؟ هغه چېرته تللی شي؟ او ولې تلی شي؟ تاسو ماته وواېې زه به خلکو سره څنګه ګورم، زه څه وکم.
د هغې په دې خبره باور نه راتلو.



- حیدره ! ځان قابو که. اقصی ټولو خلکو ته ویلي چې هغه ناروغه شوې او روغتون کې بستر ده. مونږ به هم ټولو ته دا وایو.
- پلاره ! خلک دومره ساده نه دي.تاسو څه فکر کوئ چې هغوی به په دې خبره باور وکړي. زه د هغې پوښتنو ځوابونه څنګه ورکړم. ماته ریښتیا وواېې، هغه ولې تللې ده؟ داسې څه شوي؟
حیدر لکه لیونې شوی چې وي.
- زه اوس هیڅرته نه ځم. زه ددې کوټې څخه بهر نه ووځم. هغې سره زما واده ستاسو پریکړه وه. تاسو لاړ شئ، خلکو ته چې څه وایې، وواېئ. زه هیڅا سره نه ګورم.
حیدر خپله پریکړه اورولې وه، عارفین د کوټې څخه وتلی و.

□□□

- پلاره ! تاسو چې څه ما نه پټول، هغه مو پټ کړل. اوس ماته ریښتیا وواېې. ماته وواېې، سبا سره ستاسو څه خپلوي وه. ستاسو دواړو ترمنځ څه شوي ول. ساره ولې لاړه؟
هغه شپه مېلمنو رخصتولو نه وروسته دواړه کور ته راغلي ول، حیدر نیغ د ساره کوټې ته تللی و خو هغې خپل سامان ځان سره د سبا کور ته وړی و، د هغې پاتې سامان لیدو سره حیدر حیرانۍ پسې حیران شو، د عارفین په لاس سبا لپاره خطونه او کارډونه پراته ول. ددې په خبریدو نور هم حیران شو چې سبا، عارفین ته نکاح شوې وه. بیا یې د ساره تعلیمي اسناد ولېدل چې پوهنتون ډګري سره سره یې د فرانسوي ژبې سرټفیکټ هم درلود. هغه اوس پلار خواته راغلی و او هغې څخه یې پوښتنې کولې. هغې هغه خطونه او کارډونه عارفین ته مخې ته کېښودل. عارفین ددې په لیدو ډېر حیران شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- دا دې له کومه کړل؟
- د ساره کوټې نه مې راوړل.
- هغې د کومه کړل؟
- دې نه به تاسو خبر یاست او ددې په خبریدو به نور هم حیران شئ چې هغې کالج کې فرانسوي ژبه هم زده کړې. اوس ماځخه هیڅ مه پټوئ، ماته هغه څه ووایې چې تاسو ماته نه دي ویلي او دهغې سزا ماته راکړل شوه.

عارفین خپل سر ټیټ نیولی و.

□□□

- آمنې ! اوس پاڅه ! څومره به ویده کیږئ؟

د ګل پاڼې په غږ هغه راپورته شوه. هغه سترې په خپل ځای کېناسته.

ګل پاڼې اینه لاس کې نیولې خپلو شونډو باندې سورخي لګوله. هغې ورته همداسې کتل ځکه هغه به هره ورځ همداسې ځان جوړوه او بهر به تله. د هغې په وینا هغه خپل نامزاد سره لیدلو ته ځي خو د هغې نامزاد هره دریمه ورځ بدلیده. دساره نه د هغې په نامزاد اعتراض و او نه یې په بدلیدو.

- بس زه نوره ځم. ته دروازه بنده که او رینښتیا عذره به نن ناوخته راځي ځکه هغې ماته ویلي ول.

ګل پاڼې ورته په تلو کې وویل. هغه پاځیده او دروازه یې بنده کړه.

روژه ماتې ته هم لږ وخت پاتې و. هغه د پخلنځي خواته راغله، هلته هم څه پاخه نه ول. د تیرې شپې ترکاري لا پاتې وه. هغه پوهیده چې عذره او ګل پاڼه به ډوډۍ بهر خوري او کېدای شي ځان سره څه راوړي. ترکاري



یې ګرمه کړه او یو ګیلاس اوبو سره بیرته راغله، هغه یې په ځمکه کېښودل او خپله بیرته کټ کې کېناسته.

هغه به مازیګر کې نه ویده کېده خو نن څه خاص ورځ وه. یوې نیمې میاشت کې یې درې ځله هغې سره ولېدل. په لومړي ځل یې حیدر سره هله ولېدل چې یو څو ورځې خپلې ملګرې کره اوسیدو نه وروسته یې د جینکو په لیلیه کې کوټه پیدا کړه. په دې لیلیه کې یې د اوسیدو نه دریمه ورځ وه. هغه د کوم څیز پسې بهر وتلې وه، راتلو وخت کې یې سلورې رنګې موټر د لرې ولېده، هغه په ډېر احتیاط راروانه وه. د موټر نمبر پلیټ یې وپیژنده. موټر کې هیڅوک نه ول. خاماخا به هغه لیلیه کې وي. دموټر څخه وړاندې د پولیسو یو موټر هم ولاړ وو. هغه بیرته د خپلې ملګرې کورته په لور تاوه شوه.

- ساره ! تاماته دروغ ویلي ول، ستا خاله او ماما ستا واده کوم بوډا سره نه کوي. ما حیدر سره ولېدل هغې ماته نکاح نامه وښوده او ستا کارنامې باره کې هم راته وویل، نو بیا ماسره هیڅ لاره نه وه نو ما ورته ستا ځای ورو ښود.

د هغې ملګرې هغې څخه ګیله کړې وه. هغې ورسره کارخانه کې کار کاوه، او د واده په ورځ ساره هملته تللې وه. ساره سره د ویلو لپاره هیڅ نه ول. هغه بیا هغې لیلیې ته لاړه نشوه. د هغې دستکول هغې سره وو چې ټولې پیسې پکې وې. لیلیه کې پروت سامان پروا یې نه لرله. دا ځلې هغې د لیلیې پر ځای په یو زوړ ځای کې په شپږ سوه روپۍ کوټه ونیوله، کوټه کې دوه نورې انجونې هم اوسیدې. ځای ډېر تنګ و او خراب و، خو ساره یې پروا نه کوله.

په دویم ځل بیا حیدر نږدې وو چې ویې ګورې کله چې د دندې په لټه کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وه. هغې سره تعلیمي اسناد نه ول نو ځکه دنده پیدا کول ورته ستونزمن ول. بیا ورته یاد شول چې د کوم ښوونیز مرکز په مرسته یې چې درس ویلو دنده پیدا کړې وه، هلته یې د خپلو اسنادو فوټو کاپي جمع کړې وه نو غوره ده چې له هاغه ځایه خپل اسناد راوباسي.
یوه ورځ هلته لاړه. د ښوونیز مرکز مدیر رویه عجیبه وه. هغې ورته د کېناستو وویل او خپله دننه لاړ، لږه شیبه وروسته راغی او ویې ویل چې د ماشوم پلار لږه شیبه کې راځي او د هغې ځوی ته درس ورکول دي. هغه تر لسو دقیقو ناسته وه او بیا یې د خطر احساس وکه او مدیر څخه یې اوبه وغوښتې، هغه دننه تلو سره په بله دروازه راووته.
په چټکۍ د سرک څخه بلې غاړې ته لاړه نو هماغه طلایي رنګې موټر ښوونیز مرکز مخې ته ودرید.
- که لږه نوره هلته ولاړه وم نو هغې به زه لیدلې وم.
هغې ځان سره فکر کاوه. ددې څخه وروسته هغه نه یوازې دې ښوونیز مرکز ته لاړه نشوه بلکې بل یو ته هم لاړه نه. هغې د خپلو اسنادو تر لاسه کولو پریکړه کړې وه ځکه د هغې پرته هغه هیڅ نه شي کولای. سبا ورځ د خپل دولسم اسناد تر لاسه کولو لپاره لیسې ته لاړه او مدیر ورته دویمه ورځ ورتلو ویلي ول. په دویمه ورځ چې لاړه نو د لیسې دروازې څخه دیرش ځلو یښت متره لرې هماغه طلایي رنګه موټر ولاړ و.
- یا خدایه ! دا سړی ولې د مار په څېر ما پسې شوی دی؟
هغې بیا ځآن سره فکر وکه او په پټه خوله له هغه ځایه تللې وه. د اسنادو ترلاسه کولو پرېکړه یې بیرته اخیستې وه. په همدې سوچونو کې ډوبه کوټې ته راغله او ویده شوې وه. بیا له خوبه پاڅیدلې په خپل ځای ناسته وه.



په هاغه شپه هغې هر څه اوریدلي ول. اقصی خبره نه وه چې ساره د سبا په کوټه کې ده او د سبا کوټې کړکۍ همغې برنډې خواته خلاصه وه. هغې د کالو بدلولو په بهانه ټول د کوټې څخه بهر کړې ول. نو ځکه یې د اقصی او عظیم ټولې خبرې اوریدلې او د ټولو پوښتنو ځواب یې ترلاسه کړی و. ددې مور څه کړي ول او دې سره څه شوي ول. هغې ولې خپل ژوند داسې برباد کړی و. دا ټولې نورې پوښتنې پاتې نشوې.
هغه د بت په څېر ولاړه پاتې شوه، هغه هیڅ نه پوهیده چې څه وکړي. وژاړي، چغې ووهي، ددې ځآی څخه وتښتي، څه وکي. بیا یې د خاله لوریانو دروازه ټکول پیل کړل، هغې دروازه خلاصه کړه. بیا یې بهر بوتله او د ګلونو په چوکۍ یې کېنوله. بیا په وار وار د کورنۍ ټولو ښځو د هغې په لاسونو نکریزې کول پیل کړل. هر ځل که کمې ښځې ورته په لاسونو نکریزې پورې کولې لکه څوک چې یې په بوټ په سر وهي لکه د مور په څېر چې ځلورویشت کاله وړاندې ورسره شوي ول.
د هغې زړه غوښتل چې په چغو چغو وژاړي. خلکو فکر کاوه چې دا هسې ژاړي لکه د واده څخه وړاندې چې هره انجلۍ ژړا کوي. لږه شیبه وړاندې یې د ژوند خوږې شیبې وې خو اوس یې زړه غوښتل له دې ځای څخه وتښتي. هو نورو خلکو هم دا ویل چې د سبا د زیاتي په کفاره کې په دې پیسې شیندل کېږي. هغه ژړا کې غلې شوه. یو اور یې په بدن بل و. هغې باید څه کړي ول، له وخته یې فکر کړی و او بیا یې هماغسې وکړل.
همغې ودانۍ ته تللې وه، او بیا په شاتنۍ دروازه له هغه ځایه څخه خپلې ملګرې خواته کارخانې ته تللې وه. خپلې ملګرې ته یې ویلې ول چې ماما او خاله یې واده د یو بوډا سره کوي او د کور څخه تښتیدلې ده. د ساره ملګرې عامرې کور هم په هماغه ځآی کې و چېرته چې ساره

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپلې مور سره اوسیده. ملګرې یې ورته په کور کې پناه ورکړې وه. په دویمه ورځ هغې ودانۍ ته هم پولیس تللي ول او د ساره باره کې د هر چا څخه پوښتنې کړې وې. د ساره پخواني کور کې اوس بل څوک اوسیدل او پولیس یواځې هغې کور ته نه بلکې هغې کارخانې ته هم تللي ول چېرته چې دې کار کاوه.

د عامرې کور واله د وېرې نه هیچاته هم نه ویلي. په دریمه ورځ عامرې اخبار راوړې وو چې پکې د ساره د ورکېدو خبر ورکړل شوی و، ورسره یې د ساره عکس او پیدا کونکي ته د ډېرو پیسو انعام هم ورکول کېده. هغه ډېره ویریدلې وه. د هغې عکس تر یوې اونۍ هره ورځ په اخبار کې خپریده او داسې ورته ښکاریدل چې د هغې لټون لپاره څومره هڅې روانې دي.

ساره پوهیده چې عامره هغه تر ډېره خپل کور کې نه شي ساتلې. هغې سره هغه ټولې پیسې موجودې وې چې د نکریزو په شپه ورته ټولې شوې وې نو ځکه یې د عامرې پواسطه د کوم بل ځای لپاره ویلي ول.

اخبار کې ورکړل شوي عکس کې ډېره ساده ښکاریده. ګل پاڼې او عذرې ته یې خپل نوم آمنه ښودلی و. ګل پاڼه او عذره څوک ول او هلته د څه لپاره اوسیدل، هغه هیڅ خبره نه وه او نه یې د پوهېدلو کوښښ کړی و. یواځې ورته دا معلومه وه چې هغوی دواړه په یوه کارخانه کې کار کوي، خو ددې ورته هم معلومات نه و چې څه کار کوي.

بیا د مور باره کې فکر کاوه او ورسره ژړا یې کوله. څلور کاله یې د مور د حالاتو باره کې معلوماتو لپاره فرانسوي ژبه زده کوله خو بیا هم د هغې په خبرو پوهیدلو کې پاتې راغلې وه. اوس یې د مور په څېر یوه نیمه میاشت تېره شوې وه او هغه د مور په هر راز پوه شوې وه.



□□□

هغې د ماشومانو جامو جوړولو یوې کارخانه کې کار کاوه.

- ته لا سم کار نه شې کولې. د کار یادولو لپاره ورته ډېر څه زده کول پکار دي. نو ددې لپاره تاته به د نورو ښځو په اندازه پیسې نه درکول کېږي، خو زده کوونکو انجونو په څېر پیسې به درکوو.

په لومړۍ ورځ ورته مشرې ښځې ویلي ول. هغه خپله هم پوهیده چې لا سم کار نه شي کولاې. هغې په ګنډلو کې هیڅ مهارت نه درلود. خو هغې ته نورو کارونو په څېر دا کار هم کولای شو. هغه په دې کار خوشاله نه وه خو دې سره بله کومه لاره هم نه وه. هغې دومره پیسې ګټلې چې د کوټې کرایه، بریښنا او نور ضروریات پرې پوره کړي.

دوه ورځې وړاندې ورته عذرې ملګرې ویلي ول چې هغه دا کوټه پرېږدي ځکه د هغې واده رانږدې دی. دا د هغې لپاره یو خراب خبر و، ځکه اوس به د کوټې کرایه او نورې خرچې چې مخکې شریکې وې اوس به ټول بوج په دوی دواړو راځي. هغې عذر ته مبارکي ورکړه او خپل کټ کې څملاسته او ځان سره یې حسابونه شروع کړل.

پیښنمي مهال یې سترګې خلاصې شوې. هغه ډېره ویریدلې وه ځکه خوب کې یې حیدر په خوب کې لیدلی و چې دلته راغلی و. هغه تر ډېره خپل ځای کې ناسته وه. پرله پسې شپو کې همداسې ویریده. هغه له ځایه پاڅیده او څراغ یې روښانه که. څوشېبې وروسته ګل پاڼه او عذر هم پاڅېدلې. نن نهه ویشتمه روژه وه او هغوي دواړو ویلي ول چې نن به هم د لومړۍ ورځې په څېر روژه نیسي.

پخلنځي ته لاړه، د چایو سره یې درې پراټې هم پخې کړې او بیرته کوټې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته راغله. ساره د پراټې ښځه لړه لړه په نه زړه خوړله. یو ځل بیا گل پاڼې په څه خبره په زوره وخندل. ساره نه پوهیده چې څه پورې خاندي، هغې چاې او پراټه یوې غاړې ته کېښوده، سر یې زنگونو باندې کېښود او ژړا یې پیل کړه.

- په تا څه وشول؟ اوس په تا کوم اسمان راپریوت؟

گل پاڼه او عذر د هغې خواته راغلل خو هغې سر پورته نکړ.

- په دې وخت کې دې څوک را یاد شول؟ څه د ژړا ناروغي دې ځانته پیدا کړې. اوس درباندې بیا دوره راغلې ده. پیښنمې ختمېدو ته لږ وخت پاتې دې، لږ تر لږه خپله ډوډۍ خو وخوره، آمنې! څه لیونۍ شوې یې؟ په دې وخت کې ولې ژاړې؟ سر دې پورته که.

گل پاڼې او عذر یې د غلې کولو کوښښ کاوه، خو نه غلې کېده او نه یې سر پورته کاوه. هغوي دواړه تنگ شول او یواځې یې پرېښوده. بیا اذان شروع شو خو هغې اوس هم سر ښکته نیولی، ژړل یې. هغوی دواړو د کوټې څراغ بند کړ او بیرته خپلو ځایونو کې څملاستې.

سپږ بجې شاوخوا کې یې کارخانې ته تلو تیاري پیل کړه. او بیا په سرو سترگو او په بد حالت د کارخانې د کاروالو ټولو سترگې ځانته راواړولې.

- طبیعت مې سم نه دی.

هغې هر یو ته هم دا یوه خبره کوله. درې بجې کارخانې ښځه رخصتیدو نه وروسته د کوټې پر ځای بازار ته لاړه. تر یو نیم ساعته پورې ښار کې بې مقصده گرځېده. تېر کال هم مور سره په همدې ورځ ښار کې گرځېده، په هغه وخت کې ورسره عامره هم وه.

روژه ماتې ته یو ساعت پاتې و. د نن ورځې ټولې پیسې یې د خوراکي



شیانو په رانیولو مصرف کړې. دا یې د اختر لپاره یواځینۍ عیاشي وه.

روژه ماتې ته نیم ساعت پاتې و چې کوټې ته راغله. گل پاڼې ورته دروازه پرانسته.

- راځه ساره! نن خو دې ډېر ناوخته که. زه خو وارخطا وم چې څه درباندې شوي.

ساره په دې خبره هیڅ غور ونه کړ چې هغې د آمنې پر ځای ساره ولې وویل. هغه پرته د کوم ځواب ورکولو دننه راغله. پلاستیکونه یې په ځمکه کېښودل او خپل دستکول یې په بالښت وغورځاوه او سترې سترې خپل کټ کې کېناسته. گل پاڼه او عذر د معمول خلاف غلې ول، خو هغې ور ونه کتل.

- سلام ساره! څنگه یې؟

په فرانسوي ژبه پرې چا غږ کړی وو. د هغې بدن ولړزیده. هغه د بت په څېر بې حرکته شوه. غږ د هغې لپاره نا اشنا نه و.

د دې پر ځای چې سر پورته کړي او ولټوي چې څوک دې، همدا سې یې فرش باندې سترگې تیرولې. د کوټې په ښي کونج کې یې په بوټانو نظر پریوت. هغه هلته ولاړ و. په سینه لاس ایښی، دیوال ته یې ډډه وهلې وه. تور کوټ سره تور پتلون کې پرسکونه ولاړ، ساره ته کتل. ساره یواځې یو ځل هغې ته وکتل او بیا یې لاندې کتل.

- ساره! دا تاسو سره لیدل غواړي. د ډېر وخت راهیسې ستاسو انتظار کوي. دې مونږ ته ویلي چې ته آمنه نا بلکې ساره یې او بله دا چې ته دې ته نکاح شوې یې.

کوټه کې د گل پاڼې اواز پورته شو. ساره نه غوښتل چې د هغوي دواړو شکل وگوري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- مونږ خواکې کوټې ته ځو، دا تاسو سره څه خبرې کول غواړي.
هغوی دروازه بنده کړه او لاړل.
- زه یواځې ددې لپاره راغلی یم چې تینبسته د هیڅ کومې مسلی حل نه وي.
کوټه کې د هغې غږ راپورته شو. ساره یوه اوږده ساه واخسته او هغې ته یې وکتل. هغه اوس د خپل اصل ځآی څخه راوړاندې شوی و.
- زه د هیچا خبرې اوریدل نه غواړم. ته له دې ځآی نه لاړ شه.
هغې ته کتلو نه پرته یې وویل.
- خو زه درته څه ویل غواړم. او ددې ځای نه نه ځم.
هغه اوس هم ارامه ښکاریده.
- ما درته وویل کنه، ته لاړ شه دې ځای نه.
هغه په تیز غږ وویل.
- هو چغې ووهه، نورې هم چغې کړه. دې سره به دې خفګان له منځه لاړ شي. ډاکټران وایې چغو وهلو سره د انسان زړه سپکیږي او په دې وخت کې تاته ددې شي ډېر ضرورت دی.
هغې د کوم اروا پوه په څېر تشخیص کولو. هغه غلې شوه.
- او زه له تا څخه ډېر څه پوښتم.
حیدر خپله خبره جاري وساتله.
- ته چې څه پوښتې خپل پلار نه وپوښتله. ما سره ستا د هیڅ کومې پوښتنې ځواب نشته.
- څه چې د پلار نه پوښتل ول هغه مې ترینه وپوښتل. اوس ستا وار دی. ته راته دا ووایه چې تا ما نه د کومې خبرې بدله واخسته؟ ما په تا څه ظلم کړی دی؟



- زما مور څه ظلم کړی و. ستا پلار هغې نه د کومې خبرې بدله واخسته؟
هغه په ځمکه کېناسته.
- ښه. نو دا پوښتنه زما د پلار نه کول پکار دي. هغې څخه پوښتل، بلکې همدا اوس راځه ما سره لاړه شه او هغې نه پوښتنه وکه خو په تا کې دومره همت د کومه شو چې هغې پر وړاندې دا سې خبره وکړې.
- زه ستاسو کور ته تلل نه غواړم او ستا د پلار شکل لیدل نه غواړم. زه هغې سره هیڅ خبره نه کوم.
د هغې غږ هم رالوړ شو.
- که ته زما د پلار شکل لیدل نه غواړې نو بیا دې ما سره خپلوئ ته ولې زړه ښه کاوه؟ ما سره دې نکاح ولې وکړه. ما سره دې...
ساره په تیزۍ د هغې خبره پرې کړه.
- په هغې وخت کې زه د ریښتیا څخه نا خبره وم. او که زه د پخوا نه خبره وم نو تا سره نکاح خو لرې خبر ده ستا د پلار کور ته به هم نه درتلم. زه هیڅکله د هغه سړي خواته نه ځم چا چې زما د مور ژوند برباد کړ، چا چې زما مور بې عزته کړې.
- ساره ! ته دا خبره مه کوه. ته ددې خبرې هیڅ حق نلرې. هو ستا مور دا ویلې شول ځکه په هغې ظلم شوی وا و هغوي د هیچا څخه بدله نه وه اخیستې او تا خپله بدله اخستې. تا زه بی عزته کړی یم. که ستا مور بې ګناه وه نو ماته ووایه زما څه ګناه ده. آیا تا په دې فکر کړی و، چې ستا دا سې تلو سره به زه د خلکو پر وړاندې څومره شرمېږم؟ نه، تا هما غسې فکر کړی و لکه څنګه چې زما نیا او نیکه کړی و. هما غسې لکه څنګه چې زما پلار سوچ نه و کړی. په تا او هغوی کې څه توپیر دی. ویلې شې ووایه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغې يوه چوکۍ راکش کړه او د هغې مخې ته کېناست.

- ستا د مور زړه مرګ غوښت. زما زړه هم غواړي چې ځان ووژنم، ستا مور مظلومه وه، ته مظلومه نه يې.

- ما له تا نه يا بل هيچا نه بدله نه ده اخستې. زه بس تاسره واده کول نه غواړم. ستاسو کور ته تلل نه غواړم. ځکه د هغه ځايه وتښتيدم. په دې ما وروسته فکر وکه چې...

حيدر د هغې خبره پرې کړه،

- نيکه مې هم وروسته فکر کړی و، چې هغې ستا په مور ظلم کړی و. نيا مې هم وروسته فکر کړی، چې هغې ستا مور رسوا کړې وه، پلار هم وروسته فکر وکه چې هغې ستا د مور ژوند برباد کړی دی. ته خپله دغه کړنه سمه ګڼې نو هغه کړنې هم سمې دي. هيڅوک هم غلط کار کولو وخت کې فکر نه کوي. هر څوک وروسته فکر کوي. که هغه ته يې، پلار وي، نيکه وي يا نيا وي.

ساره خپلې اوښکې پاکې کړې او هغې څخه يې وپوښتل.

- ته څه غواړې؟

- ډېر څه، دا چې ته پلار وبخښې او ما سره لاړه شې.

- زه دواړه کارونه نه شم کولای.

هغې په ټينګار سره وويل.

- نو بيا دريم کار زه کولای شم، چې تا ته طلاق درکړم.

ساره په وارخطايې د هغې په لور وکتل او بيا په ورو غږ وويل.

- را يې که.

هغه ورته همدا سې کتل او بيا يې يوه اوږده ساه واخيسته او ويې ويل:

- طلاق چې واخلې څه به وکې؟ څنګه به او سيږې؟ ژوند به څنګه تېروې؟



- هغسې به او سيږم لکه څنګه چې مور او سيده.

- همدغه خو ستونزه ده، ساره ! چې ته د خپلې مور په څېر ژوند نه شې تېرولای. زه ستا مور باره کې په هغه څه پوهيږم څه چې مې د خلکو نه اوريدلي دي نو زه هغه د ټولو څخه غوره ګڼلی شم، ستا څخه هم، حالانکه زه کوم اروا پوه نه يم او نه د خلکو پېژندل غواړم. خو د تېرو دوه مياشتو کې دومره د هغې باره کې پوه شوم چې هغه زما ډېره خوښه شوه. زه باور نه شم کولای چې څومره زغم هغې کړی بل څوک يې وکړي. پلار دا سې فکر کوي چې سبا هغې سره مينه کړې او کله چې هغې پرېښوده نو سبا دنيا پرېښوده، خو دا فکر نه کوم. ما ته دا سې ښکاري چې ستا د مور او خدای تر منځ ځانګړې اړيکه وه. هغې يوا ځې د خدای په شتون باور درلود.

هغې په دې هم باور درلود چې هغه څه چې لري د خدای له لورې ورکړه ده. هغې خدای سره دومره مينه لرله چې هغې هيڅکله نه غوښتل دا مينه را کمه شي. او څه و شول چې زما نيکه او نيا ستا مور خوښه نه کړه. د پلار په خوښه هغوی ستا د مور سره نکاح وکړه. نيکه خو په نه زړه دا خپلوي و منله خو نيا ځان سره پتيلې وه چې په ارامه به يې پرينږدي. هغې فکر نه کاوه چې دا هر څه هغې سره کېږي. هغې دا سې فکر کاوه چې عارفين عباس نه بلکه خدای پرينښې ده او بيا يې ټول ژوند د خدای رضا کولو کې تېر کړ او بيا ته پوهيږې چې دا سې خلک زمونږ په څېر دنيا دارو خلکو ته څومره ستونزمن کېدای شي. که هغې سره سمې اړيکې ولرو د هغوی غلام جوړيږو او که دښمني ورسره کوو نو خدای ج سکون او ارام اخلي. څنګه چې زما پلار او د کورنۍ نورو غړو سره و شول. زه چې کله پوه شوی يم ما هغه خوشاله نه دي ليدلي، څنګه چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



نور خلک او سیږي. هغې ته د هیڅ شي کمې نشته. بریالی بانکي منیجر، ښه ښایسته مېړمن، بچي، دولت، عزت، هغې سره څه ول چې نه ول. هو خو بس سکون نه و، ارام نه و.

هغې ورته هر څه ویل لکه یو خوږ ملګري ته چې د زړه حال ویلو لپاره دلته راغلی وي. هغې په نه زړه ددې خبرې اوریدې.

- او هغه په یواځې ددې ستونزې سره لاس او ګریوان نه و، زمونږ د کورنۍ ټول غړي په هغه ناروغۍ اخته دي. نیکه، نیا، ترور، زما مور او اوس زه، خو زه غواړم دا سلسله پای ته ورسوم. ستا مور د خدای سره دومره مینه درلوده، چې نورې مینې ته یې اړتیا نه وه. خو ساره! ته خدای سره داسې اړیکه نه لرې. ته هیڅکله د سبا کریم په څېر قناعت نه شې موندلی. ته کور پرېښودی شې، دنیا نه شې. ستا مور ستا په څېر کوم ښونیز مرکز ته نه وه تللې او نه یې د سرټیفکېټ تر لاسه کولو هلې ځلې کړې وې. خو ته نه دنیا پرېښودی شې او نه خدای. لږ وخت تېر شي بیا به پښیمانه یې. او اوس زه غواړم چې ته ما سره لاړه شې، ته باید په یاد ولرې چې ستا مور ته زما پلار خواته لیږلې یې. هغې دا غوښتل چې ته هغسې ژوند تېر نکړې، د عامو خلکو په څېر ژوند وکړې. د خپل ماضې څخه د نه خبرېدو په خاطر هغې ونه غوښتل چې ته خپل ماما خواته لاړه شې. هغه په دې وېره کې وه چې کېدای شي هغوی درته هر څه ووایي او دا خبرې به دې ټول عمر وځوروي. زما پلار دا کار کولی شو نو ځکه یې د هغوی خواته ولېږلې. ستا ماما او خاله تا پسې ډېر وګرځېدل. ته پیدا نه شوې، یوه میاشت، هغوی بیرته لاړل. او اوس دې یواځې زه او پلار لټوو.

ساره یو ځل بیا خپل سر په زنګونو کې پټ کړ.



- تا ته به یو ځل بیا ووایم. ما سره کور ته لاړه شه. پلار څخه خفه یې، هغې سره جنګ وکه، څه چې وایې ووایه. خو کور ته راځه. ما څخه څه ګیله لرې، ووایه خو ما سره لاړه شه.

هغې سر په زنګون ایښی، ژړل یې.

- هو، تا رېښتیا وویل چې زه د مور په څېر یواځې نه شم اوسیدای او نه به یې اوسیدل زده کړم. د مور په څېر ژوند تېرول ګران کار دی او زه...زه ډېره کمزورې یم.

هغې په ژړا ژړا کې ځان سره ویل.

د لرې څخه اذان واوریدل شو. حیدر خپل ځای څخه پاڅید او د ساره راوړل شوې خلتې یې وکتلې، هغې یوه خرما راوویستله او روژه یې ماته کړه.

ګل پاڼه او عذره د ننه راغلې ول.

- په دې بیا دوره راغلې؟

ګل پاڼې ساره ته په کتلو وویل. حیدر پلاستیک نه یوه کېله راوویسته او ویې خوړله.

- ساره! روژه ماته کړه.

عذرې د پخلنځې نه یو قاب کې خرما راوړې. هغې سر راپورته کړ. په کاغذ یې اوښکې پاکې کړې او بیا یې د قاب نه خرما راواخسته او خولې ته یې واچوله او له ځایه پاڅیده. په کټ کې پروت دستکول یې په اوږه کې واچوو. حیدر موسکی شو او د هغې په لور یې لاس وراوږد کړ، هغې یې په لاس کې لاس ورکړ.

- که ته ځې نو خپل سامان دې یوسه.

عذرې ورته ویلې ول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- نه زما هیڅ نه دي پکار. خدای پامان.

هغه دروازې ته په رسیدو کې ویلې ول. د حیدر لاس یې نیولی او د ماشوم په څېر ورپسې شاته روانه وه.

- تېرو دوه میاشتو نه مې خپل ټول معاش ستا په لټولو مصرف که. دا ټول ستا د لاسه وشول. نو ددي لپاره څو کالو لپاره باید زما او د پلار خدمت وکړې. د ډېرو زیاتو رخصتیو له کبله راته د بانک له لورې اخطار هم راکړل شوی دی. تا زه په سمه توګه وکړولم.

د هغې لاس یې نیولې په زینو کې ښکته کېدو په مهال یې وویل.

- ته څنګه دلته راورسیدې؟

ساره ناځاپه وپوښتل.

- زه پوهیدم که ته په لیلیه کې نه یې نو خاماخا په داسې کوم فلیټ کې به یې. ته خو هسې هم کومې ښایسته بنګله کې نه شوې اوسیدای. نو ضرور به داسې کوم ګوزاره حال ځآی کې یې. پولېس هر ځای کې ستا لټون پیل کړی و. نو باالاخره د یو ځای څخه ستا باره کې خبر راورسید نو نن ماسپښین دلته راورسیدو. ستا دوه ملګرو ته ستا کارخانې باره کې معلومات نه و که نه زه به نیغ هلته درغلی وم.

هغې په روانه کې دا هرڅه وویل.

- حیدر ډېرۍ خبري نه کوي. هغه د چا څخه زر خفه کېږي هم نه. دا د هغې عادتونه دي.

عارفین عباس ورته یوځل د حیدر باره کې ویلي ول. ساره هغه ته کتل چې د څه وخت راهیسې همداسې خبرې کوي.

- زه د ډېر شیانو باره کې ډېر وروسته پوهیږم.

هغه لګیا و.



- لکه دا ستا د مور او زما د پلار خپلوي. هغه څوک وه او هغې سره څه شوي ول یا دا چې هر ځلې تاته دررسیدو کې که پاتې راغلې وم نو یوائینۍ وجه یې دا موټر و چې زما رارسیدو سره به ته خبریدې. او یا دا لکه تا سره مې مینه وه او دا مینه یو طرفه نه وه.

د ساره په شونډو بې اختیاره مسکا خپره شوه.

- هو او دا چې ته فرانسوي هم پوهیږې.

هغې په فرانسوي خبرې پیل کړې.

- او ددې لاعلمۍ نه ماته څه نقصان وشو، دا به راته کور کې ووایې.

هغوي ودانۍ څخه ښکته شوي ول.

- هله ! د ټایی ټینک د فلم انجلۍ او هلک روان دي.

یو هلک خواکې تېرېدو سره داوویل.

حیدر په چټکۍ د هغې لاس پرېښود. هغې په زوره وخندل. مخامخ سرک باندې موټرې ډېرې وې. د ژوند لاره همدومره روښانه ښکاریده. له هغې سره په تلو کې یې سر پورته کړ او یو ځل یې اسمان کې ستورو ته وکتل.

پای

پنځمه روژه

۲۰۱۳- د جولای ۱۴

کابل- افغانستان

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**